




Ketabton.com



فیسبوک غلام حضرت غلام



Haji Ajab Khan فیسبوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# التقرّب

إلى

حضرة الشیخ الشیوخ ، قدوة الموحّدین،
شمس العارفین ، امام أولیاء الکاملین ، زبدة السالکین،
دلیل المحققین ، عمدة الرّاسخین ، قائد الواصلین ، شمس
طریقت ، امام الشریعت ، غوّاص بحر العرفانی ، اشهب زمانی
عارف یزدانی ، فقیر اصفهانی ، درویش سُبحانی ، مسکین زمانی،
سالکِ حقّانی ، ابو الخیر ، راشد التوحید ، قاسم
الفیوض الرشید ، غوث الثقلین ، غوث الاعظم،
غوث الاقلیم الورٰی ، غوث صمدانی ، محبوب
المصطفٰی سیّد الابرار والاصفیاء سیّد السّادات سیّدنا
حضرة

## الشیخ محی الدین عبد القادر جیلانی

رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# فتوح الغیب ۱

## شروع دکتاب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ وَهَدٰی وَاخْتَارَ مِنْ عِبَادِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْمُجْتَبٰی وَنَبِيِّهِ الْمُصْطَفٰی وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ لَهُمْ خَيْرُ الْعُقْبٰی وَعَرَجُوْا عَلٰی مَعَارِجِ الدِّيْنِ الْعُلْيَا وَرَقُوْا عَلٰی مَرَاقِیْ الْمِلَّةِ الْقُصْوٰی وَفَازُوْا فَوْزًا عُظْمٰی۔

**امّا بعد:** حضرت محبوب سبحانی، عالِم ربانی، عارف کامل، پیرانو پیر، محیُّ الدّین ابومحمد عبدالقادر حسنی حسینی رحمة الله علیه فرمائی:- ټول ثنا صفت الله پاك لره چه پروردګار دجهانونو دے. هم اول دے، هم آخر دے، هم ظاهر دے، هم باطن دے. ټول مخلوقات عرش، هر ه جوړه او یو وزرے، هر وچ او لوند څیز او هغه ټول اشیاء چه څموږ پروردګار پیدا کړی دی. او وجود کښ ئے راوستی دی. او خواره کړے ئے دی. دا ټول دالله پاك ثناخوان دی.

ټل صفت الله پاك لره، چه بنی آدم ئے پیدا کهٔ. بیائے درست کهٔ او په اندازه ئے کهٔ. بیائے ورته هدایت اوکه.



او ئے وژړهٔ. او ژوندے ئے کهٔ. و ے خندَوُو. او ئے ژړوُ. په بعضو ئے زیات رحم اوکهٔ او بعضے ئے رسوا کهٔ چه هم خوږونکے دے، هم خښونکے دے. څوك ئے نیک بخت کهٔ او څوك ئے بد بخت. دبعضو نه ئے بخشش لرے کهٔ او بعضے ئے پورے بناد کړل. هغه الله چه دهغهٔ په حکم غرونه کلک دی. او زمکے پورے قرار بیا موندے دے. او غوړید لے فرش دے.

هیڅوك د الله د رحمت نه نا امیده نهٔ دے. او هیڅوك دهغهٔ دسختیٔ فعل او امرنه بے ویرے نهٔ دے. هیڅاله د هغه دبندګی نه عار نهٔ ورځی او هیڅوك دهغهٔ د رحمت د دائرے نه بهرنهٔ دے. هغه په هغے ټولو څیزونو موصوف دے چه د هغے ئے په مخلوقاتو مهربانیٔ کړے دی. او هغهٔ له شکر دے چه د هر آفت لرے کونکے دے.

بیا د هغه په نبی صلی الله علیه وسلم و رحمتونه وی، چه په مخلوقاتو کښ برګزیده او موجوداتو کښ چیده دے. دا هغه نبی دے چه چا ئے پیروی اوکړه نو هدایت ئے بیا موند او چا چه ترے مخ واړولو، نو ګمراه او مرتد شو. دا هغه پیغمبر دے چه هم صادق وو هم مصدوق وو. او دنیا کښ زاهد، او رفیق اعلیٰ ته راغب وو. دا هغه رسول چه دهغهٔ په تشریف اوړلو حق راغے او باطل فنا شو او دهغه د نور په برکت زمکه روښانه شوه. ټول سلامونه، رحمتونه



او برکتونه دِ په بیا بیا په نبی علیه السلام، دهغهٔ په آل، اصحابو، تابعینو، تبع تابعینو او ټولو اولینو او آخرینو مؤمنینو او مسلمینو وی، چه قول او فعل کښ ئے د قال الله او قال الرسول د اطاعت سعادت نصیب دے.

موږ الله پاك ته په عاجزیٔ سره رجوع کوو، چه څموږ ربّ، خالق، رازق، نافع، ساتندونکے، ژوندے کونکے او مړ کونکے او څموږ نه د تکلیف لرے کونکے دے. دا ټول نعمتونه د الله پاك د مهربانیٔ، بخشش، فضل او احسان په وجه دی. چه قول، فعل، په پټه، ښکاره، سختیٔ او نرمیٔ کښ همیشه څموږ حفاظت کوی.

الله تعالیٰ فعّال لِّمَا يُرِيْدُ (چه څهٔ غواړی هغه کونکے) دے. په هر څهٔ علیم دے. څهٔ چه د خلقو نه پټ دی، هغه ته ښکاره دی. د لغزشونو او عبادتو په احوالو خبردار دے. د حاجاتو اوریدونکے او قبلونکے دے.

د حمد و صلوٰة نه پس د خدائیٔ تعالیٰ نعمتونه په بنده باندو فراوانه دی. الله پاك فرمائی: کهٔ تاسو د الله تعالیٰ نعمتونه شمیرل او غواړئ نو شمار به ئے نهٔ کړے شی. او الله پاك فرمائی: څهٔ چه تاسو سره د نعمتونو نه دی هغه د الله پاك درکړی دی؛ نو نه ژهٔ، نه څوك، او څوك ژبه دا توان لری چه د الله تعالیٰ نعمتونه شمار کړے شی. او نه پورے عقل، ذهن او زړهٔ احاطه کولے شی. او نه ئے ژبه



د بیان طاقت لرے شی.

منجمله د هغے څیزونو نه، چه د هغے د اظهار د پاره الله پاك څما ژبے ته قوت ورکهٔ، او د ژبے نه خبرے له، او د هغے د لیك د پاره ګوتو له، او د ګوتو نه قلم له او د قلم نه کاغذ له، دا څو مقالے دعالم غیب د فتوحاتو نه څما په زړهٔ کښ راغلے، چه زهٔ ئے د الله پاك په فضل و کرم د حق د طلبګارو د رهبریٔ د پاره د زړهٔ د قالب نه بهرته را اوکاږم.

### مقاله (۱) تسلیم، قضا او قدر

د مؤمن د پاره هر حال کښ دا درے څیزونه لازمی دی. یو دا چه د اوامرِ الٰهی[1] تعمیل کوی، دوئم دا چه د منهیاتو[2] نه بچ اوسی. او دریم دا چه په قضا و قدر راضی وی. نو د مؤمن د پاره کم مرتبه دا ده چه په هیڅ حالت کښ هغه د دے څیزونو نه خالی نهٔ وی نو پکار دی چه سرے زړهٔ کښ د دے خبرو کلکه اراده لری. او نفس ته همیشه د دے تعلیم ورکوی او د بدن ټول اعضاء هر حالت کښ د دے څیزونو سره مشغول ساتی.

### مقاله (۲) اتباع سنت او رَدِّ بدعت

د سنت پیروی کوئ. او د بدعت لار مهٔ اختیاروئ. د

[1] د خدائی تعالیٰ د احکامو تعمیل.
[2] حرام کارونه چه د هغے نه شریعت منع راوړے ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله او دهغهٔ د رسول ﷺ حکم منئ. او د هغوئ نافرمانی مهٔ کوئ. الله پاك یوگڼئ او هیڅوك هغهٔ سره شریك مهٔ جوړوئ او د هر عیب نه ئے پاك گڼئ. اسلام رښتینے مذهب دے. هیڅ شک پکښ مهٔ کوئ. الله پاك چه څهٔ غواړی په خپل مشیت او اراده ئے کوی. په هغهٔ اعتماد او ساتئ او شک او گمان کښ مهٔ پریوځئ. د صبر نه کار اخلئ. د حق په اطاعت جمع کیږئ او د له بازی مهٔ کوئ.

د الله تعالیٰ نه د فضل سوال کوئ. او د لګیر کیږئ مه. د خدائ نه د رحمت اُمید لرئ. نا اُمیده کیږئ مه. یو بل سره د دوستئ، محبت او رواداری سلوك کوئ. خپلو کښ دشمنی او عداوت مهٔ ساتئ. ګناهونو نه ځان پاك ساتئ. د ګناه کښ بے پروائی مهٔ کوئ. ګنی په دے به ککړ شئ. د خپل پروردګار د ذکر او عبادت په کالی ځان ښائسته کړئ. بے اتفاق مهٔ کوئ. د خپل خالق د بارګاه نه لرے مهٔ او سئ او هغه پله د توجه کولو نه مخ مهٔ اړوئ. په توبه وښکلو کښ هیڅکله تاخیر مهٔ کوئ. ځکه چه د هغهٔ د مغفرت دروازه هروخت پرا نستے ده.

کهٔ په دے نصیحتونو عمل اوکړئ نو اُمید دے چه الله تعالیٰ به درباندے رحم اوکړی. او نیک بخت شئ. د دوزخ د عذاب نه بچ شئ. د الله تعالیٰ دیدار او قرب مونصیب شی. او د جنت په ټولو نعمتونو ښادشئ. او په دغے نازونعمت



کښ همیشه د پاره پاتے شئ. هلته به په ښو ښو آسونو سورلی وئ. او حورے به وی. او قِسم قِسم خوشبوئی، او خوش آوازه خن منکارے به وی. او د ټولو نه زیاته د خوږیدُ خبره داده چه پیغمبرانو. صدیقانو. شهدائو او صالحانو سره به علّیین کښ عزت او بزګی بیاموئ.

## مقاله (٣) د ابتلاء او ازمائش ثمره

هرکله چه سختئ کښ په بنده د ازمائش وخت راشی نو اول په خپل قوت د هغے د علاج کوشش کوی. خوکهٔ خپل کوشش کښ کامیاب نهٔ شی. نو بیا د غیر الله نه پکښ مدد غواړی، لکه د نیاوی معاملاتو کښ د بادشانو منصبدارو، او مالدارو نه، او په امراضو کښ د طبیبانو نه. خوکهٔ د غه ذریعه هم بیکاره شی. نو بیا دُعا، زارئ او ثناء صفت سره خپل خدائے ته راجع شی. خو ترکومه چه دے ځان کښ طاقت وینی مصیبت پخپله رفع کوی. بیا د مخلوقاتو نه مدد غواړی کهٔ هغوئ کښ د حاجت روایئ څهٔ درك مومی او خدائے تعالیٰ ته رجوع نهٔ کوی. خوکله چه دے د هر طرف نه نا اُمید شی نو بیا بے اختیاره خدائی تعالیٰ ته د خپل حاجتونو د پاره په عاجزی شی او د خوف ورجا کیفیت پرے خورشی او چه الله تعالیٰ ئے هم دُعا زر قبوله نهٔ کړی. نو دے د ټولو ظاهری او مادی اسبابو نه نا اُمیده شی.

دے حالت کښ بنده ته د قضا وقدر او د توحید



اسرار په کشف سره ظاهر شی چه دے د دنیاوی علاقو او اسبابو نه لاس په سر شی او د فنا فی التوحید د درجے نه پس محض دیو روح په شان باقی پاتے شی. دے وخت کښ د دهٔ نظر تسلیم او رضا کښ په خدائی افعالو وی. او صاحب یقین موحد شی. د یقین په دے درجه د دهٔ ایمان دے حد ته اورسی، چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوك فاعل حقیقی نهٔ وینی او د هغهٔ د ذات نه علاوه هیڅ یو دا سے هستی ئے په نظر کښ نهٔ راځی چه هغه د حرکت، سکون، ښو بدو، نفع نقصان، ورکړو اخستلو، پرانستلو بندولو، مرګ او ژوند عزّت او ذلّت، مالداری او محتاجی، د صحت او بیمارئ مجاز او مختار وی.

دا سے حالت کښ بنده د قضا و قدر مځکښ دا سے وی لکه بیځ رو دو نکے بچے چه د دائی په غیږ کښ. یا مړے د غاسل په لاس کښ. یا غونډو سکے د چوګان سوار په مخکښ وی. اوس ئے د خپل ژوند د ټولو معاملاتو مختار کل صرف الله پاك ګڼړی. دے د یو حال نه بل ته، د یو ے وضع نه بلے ته او د یو فعل نه بل ته اړو لے را وړ لے شی. خو دځان یا د غیر په حق کښ د څهٔ حکم او حرکت قدرت نهٔ لری. اوس ئے د خپل پروردګار په اراده او فعل کښ د خپل ځان نه غائب دے. کهٔ لیده کوی. کهٔ اوریده، او 5
کهٔ په څهٔ خبره پوهیده، هرڅهٔ د خدائی په اراده کوی.



اوس د دهٔ علم د خدائے د علم نه دے او د دهٔ کلام د خدائے د کلام نه. دے د خدائے د نعمتا نه نعمتا یافته. د هغهٔ د قرب نه نیك بخت او د هغه د معنوی جمال نه ارا سته دے. د هغهٔ ذکر سره مطمئن دے. د هغه فکر سره صاحب فهم دے. او دنیا او عقبیٰ کښ د هغهٔ په وعده خوشحاله.

د تسلیم او رضا مقام کښ دے صرف الله سره دے او د غیر الله نه لاس په سر دے. دے د خدائے د قرب او وصل ارزومند دے. د هغه پنا لټوی او د عشق او محبت رشته ئے خدائے تعالیٰ سره مضبوطه او محکم ده. په هره معامله کښ د دهٔ توکل په خدائے دے او د هغهٔ د معرفت د نور نه هدایت حاصلوی. اوس کهٔ دے قمیص اغوندی او کهٔ پرتوګ په دے کښ د خدائے تعالیٰ په عجیب وغریب علمونو واقفیت بیاموی. او د هغه د قدرت د نا اشنا رازونو نه اګاهی حاصلوی. او څهٔ چه د خدائے تعالیٰ نه اوری، هغه په سینه کښ محفوظ کوی. بیا د هغهٔ په نعمتونو شکر اوباسی. د هغهٔ ثنا صفت کوی. او دُعا ترے غواړی.

## مقاله (٤) فنا فی الله او حقیقی ژوند

د غیر الله نه چه بیزاره شے نو په تا به د الله تعالیٰ رحمت وریږی. او چه خواهشاتو نه کناره کش شے. نو ستا د پاره به د الله تعالیٰ نه رحم غوښتلے شی. او چه د خپلے ارادے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لاس په سر شے - او رضا بقضا شے - نو ستا د تقدیر لیک کښې به د خدائے تعالیٰ نه د خیر او برکت سوال کولے شی - دغه وخت به الله پاك تا په حقیقی معنو کښې ژوندے کړی او دا سے ژوندون به بیا مومے - چه د هغے نه پس مرګ نشته - او دا سے غنی به شے چه د هغے نه پس محتاجی نشته او په دا سے نعمتونو به ښاد شے چه د هغے نه پس تنګ سټی نشته - او په دا سے راحت به محفوظ شے چه د هغے نه پس پریشانی نشته - او په دا سے خوشحالئ به خوشحاله شے چه د هغے نه پس غم نشته او په دا سے علم به موصوف شے چه د هغے نه پس جهل نشته او په دا سے امن کښې به شے چه د هغے نه پس خوف نشته او په دا سے عزت به عزتمند شے - چه د هغے نه پس ذلت نشته او په بارګاهِ الٰهی کښې به دا سے قُرب حاصل کړے چه د هغے نه پس بُعد (لرے والے) نشته او دا سے ترقی به اوکړے چه د هغے نه پس تنزل نشته او دا سے به درونډ شے چه د هغے نه پس سپکا وے نشته - او دا سے به پاك شے چه بیا به ګناهونو کښې ککړ نشے -

چه دا مرتبه بیامومے ، نو دغه وخت به د الله تعالیٰ محبوب اوګرځے او چه خلق د ثنا صفت کوی - نو ته به په رښتیا د هغے جوګه ئے - ته به د روحانی امراضو د پاره خپله یو دا سے لوئے اکسیر شے - چه خلق به ستا د باطنی صفاتو او اوچتے مرتبے پیژندلو نه عاجز وی - او دا سے یو به مثله



بزرګ به شے چه څوك به د ے سیال نهٔ وی - دغه حالت کښې به ته د هر رسول ، نبی او صدیق وارث شے - په تا به د ولایت انتها وی او د فیض حاصلولو د پاره به تا له ابدال راځی - په تا به د خدا ئے د مخلوق مشکلات حل کیږی - ستا په دُعا به د رحمت باران کیږی - ستا په برکت به پټی شنهٔ کیږی - او بوټی به زرغونیږی او ستا په دُعا به خاص وعام ، بادشاه او رعیت ، حاکم او محکوم ، امامان او امتیان او ټول مخلوق مصیبتونه رفع کیږی - او ستا د احکامو او ارشاداتو د اطاعت نه به ئے بله چاره نه وی -

خلق به د لرے لرے ځایونو نه تاله راځی او د خالق کائنات په حکم د هر ځا ئے نه ستا په خدمت کښې تحفے تحائف ، نقدی او غله راوړی - هر ځا ئے به ستا د ښو صفاتو او اوچتو اخلاقو چرچے وی او ټول خلق به ستا په تعریف نه مړیږی ستا د لویئ او شان متعلق به په دوو ایمانداروکښې هم اختلاف نهٔ وی - اے پاك صفته ! اے نیک بخته ! اے په بارګاه خداوندی کښې مقبوله ! او اے د نوعِ انسانی سرتاجه د ښارونو او ځنګلونو ټولو خلقوکښې په تا د الله فضل د ے او الله پاك د لوئے فضل خاوند د ے -

## مقاله (۵) د دنیا د فتنو نه کناره کشی

هرکله چه ته د دُنیا زیب وزینت ، مکرو فریب ، هلاکونکی لذات په ظاهره ښهٔ او په باطنه خراب ترغیبات د دنیا



بے وفائی ، عهد شکنی ، او غافل او دنیا پرست خلق او وینے نو دا سے ئے اوګڼړه لکه چه څوك صحرا کښې او د س ماتے ته بربنډ ناست وی - چه ټول ښکاری او بد بوئی ئے خوره شوے وی - نو تهٔ د هغهٔ د شرم ګاه نه سترګے پټے کړے - او د بد بوئی نه ئے پوزه بنده کړے - دغه رنګ ته د دنیادار و خلقو ، د هغوئی د ګناه د ککړ ماحول نه او د هغوئی د خواهشاتو د بد بوئی نه ځان محفوظ کړه - د پاره د د ے چه ستا د روح فطری پاکیزګی ضا ئع نشی او تهٔ د دنیاوی افاتو نه خلاصے بیا مومے -

د نیا چه هر څومره ستا قسمت کښې وی - هغه به ضرور تا ته دررسی - او تهٔ به ضرور د هغے نه فائده موے - په د ے وجه ستا د دنیاوی ضروریاتو تشویش بالکل فضول د ے - الله پاك خپل برګزید پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمائی :- "وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ " (د دنیا ظاهری مال و اسباب چه مونږ کفارو ته ورکړے د ے ، په هغے نظر مهٔ اچوه ځکه چه د د ے څیزونو نه مقصد کفار په فتنه کښې اچول دی - او ستا د پاره د پروردګار درکړے رزق بهتر او پائندار د ے -) -

## مقاله (۶) د توحید راز

د الله تعالیٰ د احکامو او افعالو په احترام کښې خپل خواهشات او لذات فنا کړه ځکه چه د د ے عمل سره به ستا



په زړهٔ کښې د علم الٰهی صلاحیت پیدا شی - د تعلق بالله د مضبوطولو د پاره د فاسق او غافل خلقو سره قطع تعلق ډیر ضروری د ے او د خپلو خواهشاتو د فنا کولو یو علامت دا د ے - چه د نفع نقصان ، شر او ضرر ، دنیاوی اسبابو او د جد وجهد ټولو معاملاتو کښې په خپل ذات د تکیه په ځا ئے دا ټول امور کلی طور سره الله تعالیٰ ته سپرد کړے شی او قاضی الحاجات اوګڼلے شی - خدا ئے تعالیٰ مختارِ کُل نه ګڼل او په نفس اعتماد کول شرك د ے - صرف خدا ئے تعالیٰ په ماضی حال او مستقبل کښې د خپل بنده د امورو او معاملاتو کفیل د ے د هغهٔ د ا نګرانی او ذمه داری هغه وخت هم وه چه تهٔ د مور په خیټه کښې وے او بیا چه د مور په غیږ ه کښې د ے پئے روزل -

د خدا ئے تعالیٰ د ارادے په خاطر د خپلے ارادے د فنا کولو یو علامت دا د ے ، چه تهٔ د هیڅ خواهش قصد نهٔ کوے ځکه چه خدائی اراده کښې سراسر خیر او بهتری ده او په د ے کښې ستا قصد کول هم شرك اوګڼړه - د نفسانی خواهشاتو د نفی نه به د الله تعالیٰ فعل په تا جاری شی او د افعال الٰهی نافذ کیدو سره به ستا اعضاء ساکن او غیر متحرك شی - زړهٔ به د ے مطمئن شی - سینه به د ے فراخه او کشاده شی - مخ به د ے روښانه او پر نور شی - او چه د تعلق بالله روحانی توانائی بیامومے نو د کائنات د ټولو څیزونو نه به بے نیازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. ستا نقل وحرکت به د قدرت په اراده وي او د قدرت په ژبه به هدایت بیاموې. تجلّیات الٰهي به تا ته د اشیاؤ ماهیت ښائي. او الله به درته د نور خلعت اغوندوي. پروردګار عالم به خپله تا ته علم ښائي. او د دې علم او عرفان په برکت به دِ د سلفِ صالحین او برګزیده عارفانو مقاماتو ته رسوي.

بیا به ته د مخلوقاتو نه کناره کش شې. تا کښې به ذاتي خواهش او اراده پاتې نشي. د بشریت د رذائلو نه به پاك شې. ستا زړه به توحید کښې داسې فنا شي، چه د خدائ د ارادې نه سیوا به هرګز څهٔ خیز نه قبلوې. چه د دې مرتبې ته اورسې نو تا ته به د کراماتو نسبت کولې شي. په ظاهره به دا کرامات ستا نه ښکاري، خو حقیقت کښې به دا د خدائ تعالیٰ افعال او احکام وي. بیا به ته د هغه شکسته دل اولیاؤ په ډله کښې شامل شې. چه د هغوئ نفساني خواهشات او بشري ارادې بالکل فنا شوې دي او په زړو نو کښې د ربّاني ارادو د کامل اطاعت جذبه پیدا شوې وي. لکه چه الله پاك فرمائیلي دي چه ځما مخلص بندیان هیڅ نه غواړي مګر هغه چه الله اوغواړي. او فرمائیلي دي الله پاك. زهٔ هغه خلقو ته ډیر قریب یم چه د هغوئ زړونه ځما په وجه شکسته دي. نو ته به د الله تعالیٰ قرب تر هغې حاصل نهٔ کړې ترڅو چه ستا ټول خواهشات او ارادې د هغه په رضا قربان نشي.



کله چه تهٔ خپلې ارادې د خدائ په ارادو کښې فنا کړې او د ذاتِ باري نه بل هیڅ څیز ته توجه اونهٔ کړې نو بیا به تا الله تعالیٰ د نورې سرهٔ ذرغون کړي او ته به د نورې باطني صفاتو حامل شې. ستا په نفس کښې به د شرك محرکات محو شي او توحید به دې قلب او دماغ کښې راسخ شي. بیا به تا ته دیدار الٰهي حاصل وي. د «أَنَا عِنْدَ مُنْكَسِرَةِ الْقُلُوْبِ» (زهٔ شکسته دِلو ته ډیر قریب یم) هم دغه معنیٰ دی. حدیث قدسي کښې راځي- ځما مومن بنده د ذکر او عبادت په کثرت ځما قرب غواړي، حتّیٰ چه هغه

له د دې حدیث نه مطلب دا دې چه بنده عبادتونو کښې د تقرب الٰهي دا سې درجه حاصله کړي، چه خلقو او ماسوا علاقو نه منقطع شي، او همه تن خدائ ته داسې متوجه شي چه ټول حرکاتو سکناتو، حواس ظاهره او باطنه نه بغیر د خدائ تعالیٰ د اطاعت نه بل څهٔ کار نهٔ اخلي. د هغه لیدل، او ریدل، پوهیدل، ټول صرف د خدائ د پاره وي. او هرګز دا مطلب ترې نهٔ دې چه معاذالله حاشا ثم حاشا خدائ او ولي کښې اتحاد او حلول اوشي. داسې عقیده سرېځا کفر دې. او د کتاب او سنت او د ټولو علماو امتونو خلاف څیز دې. بیرانو پیر صاحب قدس سره چه فرمائیلي دي چه دا حالت په حالتِ فنا کښې وي نو د دې نه مطلب د خدائ په لار کښې فنا کیدل دي. دا چه ماسوا الله علاقې ختمې شي. نه دا چه خدائ او ولي سره یو شي. حضرت پیرانو پیر صاحب پیرلوئ فاضل عالم ربّاني وو. د هغوئ د شان نه دا خبره ډیره اوچته ده چه دا سې خبره هغوئ ته منسوب کړې شي نو کوم کوم ځائ چه د دې کتاب کښې دا شان مضامین دي، د هغې نه مطلب دغه دې. کوم چه مونږ بیان کړه.



ماته ډیر محبوب شي. او د کامل ربط په وجه زهٔ د هغه غوږ وَ شم، چه په هغې هغه اوري. زهٔ د هغې سترګې شم، چه په هغې لیدهٔ کوي. زهٔ د هغهٔ ژبه شم چه په هغې خبرې کوي. زهٔ د هغهٔ لاس شم چه په هغې هغه ټول کوي. زهٔ د هغې پښې شم چه په هغې هغه ګرځي. نو د فنا هیڅ حالت د دې نه بل نهٔ دې چه تهٔ د خپل ځان او مخلوق نه فاني شې.

خلق یا نیك وي یا بد، د غه شان تهٔ به هم یا نیك ئې یا بد هرکله چه ته خپل فطري او ازلي صفات قابو کړې، نو د مخلوق خلاف شریعت تأثرات به نهٔ قبلوې. او خپل امیدونه به هغوئ سره نهٔ تړې. او د هغوئ د شر نه به خوف نهٔ کوې. بیا به ستا په نفس کښې یوازې الله تعالیٰ باقي پاتې شي. لکه چه ستا د پیدائش نه مخکښې وو. چه دا حقیقت هیر نهٔ کړې چه خیر او شر د الله په اختیار کښې دې او چه کله په خدائ ستا کامل یقین پیدا شي نو هغه به تا د قضا او قدر د شر نه بې خوفه کړي. او خیر او برکاتو کښې به ستا د پاره وسعت پیدا کړې شي. بیا به تهٔ د هر خیر محل، د هر نعمت مرجع، د هر نور مرکز او د هر امن سرچینه شې او د حق د عاشقانو مطلوب او منتها هم دغه فنا ده او هم دغه د سیر او سلوك نه پس اولیاء الله خپل منزل بیاموي. خپله اراده د الله په اراده کښې فنا کول د ټولو تیرو اولیاؤ او ابدالو مقصود وُو. د دې



تر آخري ساه خپله اراده د خدائ په ارادې بدله کړې ده. د دې وجې نه د دوئ نوم ابدال شو. د دوئ په نزد د حق په اراده کښې خپله اراده شریکول ګناه ده. هان کهٔ په هیره مجذوبیت یا د حال او خوف د غلبې په صورت کښې ترې څهٔ بې اعتدالي اوشي، یا ذکیدو احتمال وي نو الله تعالیٰ پرې دوئ خبردار کړي او دوئ ترې منع شي او بیا توبه او استغفار شي. د فرشتو نه علاوه د خواهش او ارادې نه هیڅوك معصوم نهٔ دې.

فرشتې د ارادې نه پاکې او انبیائ کرام د خواهشات نفس نه پاك دي. لیکن د باقي مکلّف مخلوق لکه جن او انس اراده د خواهش نفس نه خالي نه دي. په نوع انساني کښې د خدائ برګزیده بندیان، مثلاً اولیاء او ابدال د ارادې او خواهشِ نفس نه خویقینا محفوظ دي. لیکن کیدې شي چه هغوئ څهٔ وخت ارادې او خواهش ته مائل شي. خو الله پاك په خپل رحمتِ خاصه په بیدارئ کښې هغوئ د دغه لغزش نه اګاه کړي او هغوئ ئې هغه وخت په پښیمانئ او استغفار تلافي اوکړي.

## مقاله (۷) توبه او استغفار

د نفس د یا بدو نه آزاد شه. او د دې په متابعت کښې د خلې هستئ د اسرارو نه بیګانه شهٔ. خپل هره معامله ځو سره حیا پروردګار ته او سپاره او د خپل زړهٔ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه د الله تعالیٰ دربان شه. چه شیطانی وسوسے پکښې داخلے نشي. دکوم څیز چه خدائے تعالیٰ ذړهٔ کښې درته د اچولو حکم کوی، هغه پکښې اچوه. او دڅهٔ نه چه منع راوړی، هغې له ځائے مهٔ ورکوه. دحق دارادے نه علاوه د بلے ارادے خواهش مهٔ کوه. اودحق اراده د شریعتِ اسلامی مکمله اتباع ده. د خواهشاتوکثرت د بنده دپاره د پریشانیٔ او بربادیٔ یو مهلک څنګل دے او دد ےخلاصے ذاتِ حق کښې د جذب کیدو نه بغیر ناممکنه ده. همیشه د احکام الٰهی اتباع کوه. او د هغه دمنهیاتو نه پرهیز کوه. د خدائے مقدرات دهغهٔ اختیار او رضاته پریږده. او مخلوقاتو کښې هیڅوك د هغهٔ شریک مه جوړوه. ستا ارادے او ارمانونه ټول دهغهٔ مخلوق دی. کهٔ ته خپله اراده د خالق ارادے سره شریکوے. نو په دے حالت کښې ته مشرك ئے.

قرآن وائی څوك چه د الله تعالیٰ ددیدار په طمع دی هغه له پکار دی چه نیک کار وبه کوی. او مخلوقاتو کښې هیڅوك هغهٔ سره عبادت کښې شریك جوړ نهٔ کړی. یوازے بُت پرستی شرك نهٔ دے. بلکه دخواهشاتو په پتو سترګو پیروی کول او فانی دنیا کښې یو هستیٔ یا یو څیز سره زړهٔ او دماغ د مشق درجے پورے تړل صریحا شرك دے. الله پاك ذ - ئ « اے نبی ۴! تا هغه سړے نهٔ دے لیدلے، چه ممه خس



نفسانی خواهشات خپل معبود ګرځولے دی؟ نو د الله تعالیٰ نه سِوا نور هرڅهٔ چه دی، هغه غیرالله دی. او هرکله چه ته غیر الله کښې مشغول شوے. نو بلا شبے تا الله تعالیٰ سره شریک جوړ کهٔ او خپله مشرك شوے. نو ذکرِ حق کښې جد وجهد کوه. په ارام مه کښېنه. د خدائے نه ویره اوکړه. بے خوفه کیږه مه. او د حق په تلاش کښې صداقت اختیار کړه. غافله کیږه مه.

سلوك کښې چه کوم مقامات تاته حاصل شی. هغه خپل ذات سره مهٔ منسوب کوه. بلکه هغه عطائے ایزدی اوګڼړه. بیا کهٔ تاته څهٔ حال یا مقام حاصل شی نو هغه پټ ساته. او نااهلو سره د هغې ذکر مهٔ کوه. په دے طریقه به تاته هم نوره هم روحانی ترقی حاصله شی ځکه چه ستا تعلق براه راست الله تعالیٰ سره دے او دکلام الله موافق « هره ورځ د الله تعالیٰ یو نوے شان دے » نو د احوالو مخلوق سره تذکره بنه نهٔ ده. کهٔ ستا احوال برقرار وی، نو د الله پاك بخشش اوګڼړه. او د خدائے نه د شکر د توفیق او د زیاتی سوال کوه. کهٔ ستا حال د غسے باقی پاتے شی. نو په دے کښې ستا دپاره دعلم معرفت ترقی او د اداب اضافه ده. الله پاك فرمائی « چه مونږ یو آیت منسوخ کوو یا هیروو، نو بیا د هغې نه بهتر یا د هغې په مثل بل آیت راوړو. او الله پاك په هر څیز قادر دے » نو الله پاك په خپل قدرت، اختیا



تدبیر او تقدیر کښې عاجز مهٔ ګڼړه. د هغهٔ په وعدو کښې هیڅ شک مهٔ کوه. او د هغه د رحمت او بخشش نه هیڅکله نا اُمیده کیږه مه. د هغه د رسول برحق اسوهٔ حسنه اختیا کهٔ. او یوه شه چه په حضور صلی الله علیه وسلم نازل شوے بعضِ آیاتونه وروستو منسوخ شوے دی او د هغې په ځائے نور آیاتونه راغلی دی. او حضور صلی الله علیه وسلم د هغې نورو آیاتونو تعمیل کړے دے. د اخو د ظاهر شریعت حال شو.

باطنی علم او نور احوال چه دی نو دا د خدائے او د هغه د رسول ۴ په مینځ کښې د یو راز حیثیت لری. د دے متعلق حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی: « ځما په زړهٔ په بعضے اوقات یوه پرده راتله او د هغې د لرے کولو دپاره به ما ورځ کښې اویا ځله د خدائی نه مغفرت غوښتلو » او ځینې روایتونو کښې د سل ځله مغفرت ذکر دے). نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به د یو حالت نه بل حالت ته منتقل کولے شو. او د غه رنګ به حضور صلی الله علیه وسلم د قرب په منازلو عبور بیا موندلو. نورانی: خلعتونه به ورته اغوستولے او بدلولے شو. او دکشف او معرفت هر دویم حالت به د اول حالت نه ارفع او اعلیٰ وو. په دے دوران کښې چه به کله حجاب واقع شو، نکه چه احادیثو کښې راځی. نو حضور صلی الله علیه وسلم به په کثرت سره استغفار ویلو ځکه چه



استغفار د روح تزکیه او د قلب صفائی ده. او د هر مؤمن دپاره اکسیر دے.

توبه او استغفار هر حالت کښې د بنده دوه لازمی صفات دی. او دا دواړه د حضرت ابوالبشر آدم علیه السلام نه مؤمنانوته یو مقدس میراث پاتے شوے دے. د آدم علیه السلام په باطنی احوالو چه د سهو او نسیان او د عهد د خلاف ورزیٔ د تاریکی پرده راغله، نو هغهٔ د خپلے ارادے او خواهش په پیرویٔ کښې راګیر شو. او د غه وخت د آدم علیه السلام اراده کول د خدائے ارادے سره شرك کول وو. نو د هغهٔ دغه اراده چه په شرك مبنی وه، ما ته کړے شوه. روحے باطنی حالت ئے زائل شو. او انوار پرے تاریك شول.

بیا آدم علیه السلام په خپلو لغزشونو آګاه کړے شو. او د نسیان او حکم عدولی په اعتراف کښې د توبے او استغفار توفیق ئے بیا موند. نو بابا آدم علیه السلام په ډیره زاریٔ په بارګاهِ الٰهی کښې التجا اوکړه. « رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ » ( اے ربه څمونږه مونږ په خپل ځان ظلم اوکهٔ. کهٔ ته مو اونهٔ بخښے او رحم را باندے او نهٔ کړے نو مونږ به د زیان کارانو نه شو). نو د توبے او استغفار په برکت په هغویٔ د الله تعالیٰ د هغه اسرارو او علومو کشف او د دا سے تجلیاتو پیرزونه اوشوه چه د دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ځکښ هغوئ د دے نه بهرور نهٔ وُو. د دے نه پس د هغوئ هره اراده د الله تعالیٰ د ارادے ماتحت وه. او د هغوئ هر دوئم حالت د ړومبی حالت نه بهتر او ارفع وُو. حتیٰ چه هغوئ ته ولایتِ کبرٰی، قبولیتِ حق او دنیا او عقبیٰ کښ سرفرازی نصیب شوه او د هغوئ اولاد د زمکے په مخ بنده او ځائیږیده. او په هغوئ کښ لوئے لوئے جلیل القدر انبیاء او برگزیده اولیاء الله پیدا شول. بیا د دنیا نه پس عقبیٰ د هغوئ جائے پناه او د حیاتِ ابدی قرارگاه شو.

نو تاله هم توبه او استغفار باید. او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم اسوه حسنه او د نوع انسانی د پلار حضرت آدم علیه السلام خصائل اختیارول پکار دی. او هم دا څیزونه د خدائے د رښتینو عاشقانو او دوستانو سنت دی چه د نجات ضامن دی.

## مقاله (۸) د قربِ الٰهی منزلونه

د خدائے د طرفه چه تهٔ کوم روحانی او باطنی حالت کښ ئے. د هغے نه بوا د اوچت یا د لاندے حالت آرزو مهٔ کوه. هرکله چه تهٔ د شاهی محل (عالم لاهوت) په دروازه ئے نو په محل کښ د داخلیدو خپله خواهش مهٔ کوه. ترڅو چه شاهی حکم (امر ربی) سره تهٔ په زور پکښ داخل نهٔ کړے شے. د زور نه مراد هغه حکم دے چه ازلی تاکیدی او باربار وی. محض د نفس په ترغیب په داخله [قر]ب مهٔ کوه. کیدے شی، چه دا د هغے بادشاه (الله تعالیٰ) د طرفه امتحان وی. خو ترهغه وخته د صبر او تحمل نه کار اخله. چه تهٔ په داخله مجبور کړے شی. او ستا داخله سراسر د شاهی إذن ماتحت وی.

چه ته جبر او شاهی حکم سره محل (قربِ خداوندی) کښ داخل کړے شے. نو تاله به بادشاه د خپلے ارادے او فعل په وجه څهٔ عذاب نهٔ درکوی. ځکه چه د هغه قهر او عذاب خو د بنده په بے صبری، نفسانی خواهشاتو، بے ادبئ او د تسلیم رضا په ترک کولو راځی. نو چه تهٔ جبرًا شاهی محل کښ داخل کړے شے. نو دا خپله خوش نصیبی او سعادت اوګڼړه او د هغه په دربار کښ خاموشه، سرټیټه، او مؤدب ولاړ اوسه. او په کوم خدمت چه تهٔ ماموره کړے شے، په سوسترګو د هغے پیروی کوه. او د خپلے مجبت ته هرګز هغے کښ دخل مه ورکوه.

الله تعالیٰ خپل نبی اکرم صلے الله علیه وسلم ته ارشاد فرمائی: د دنیا د ظاهری مال و اسباب کوم څیزونه چه مونږ کفارو ته ورکړے دی. تهٔ په هغے نظر مهٔ کوه. ځکه چه د دے اشیاؤ مقصد خو کفار په فتنه او امتحان کښ اچول دی. او ستا د پروردګار درکړے رزق ستا د پاره ډیر بهتر او پائنداره دے. نو الله تعالیٰ په دے قول کښ "رِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى" (خدائے درکړے رزق ډیر بهتر او پائیدار دے). حضور صلے



الله علیه وسلم ته په باطنی احوالو، صبر و شکر او په عطا شوے نعمتونو د راضی کیدو تعلیم ورکړے شوے دے. یعنی مونږ چه په تا کومے لوئے پیرزوینے کړے دی، لکه نبوت، علم راسخ، حکمت و فهم، دین اسلام، توحید او معرفت، جهاد فی سبیل الله او فتوحاتِ غیبی، دا څیزونه د دنیاوی مال و جائداد او د عیش و عشرت د سامان نه ډیر بهتر او دائمی دی. نو د الله تعالیٰ په عطا شوو نعمتونو شکر او رضا مندی کول او د نورو فانی او عارضی څیزونو ترک کول، د ټولو نیکو او برکتونو اصل دے.

ټول دنیاوی اشیاء الله تعالیٰ د بندیانو د آزمائش د پاره پیدا کړی دی. کوم څیز چه ستا په قسمت کښ وی، یا د غیر، هغه بل د هیچا د پاره نهٔ وی، هغه د قدرت لاس کښ محفوظ وی. نو کهٔ هغه مشیّتِ ایزدی کښ ستا په حصه کښ وی. کهٔ تهٔ ئے غواړے، او کهٔ نه، هغه به ضرور تا ته رسی. د هغے په طلب کښ ستا د طرف نه د ګستاخئ یا د بے ادبئ اظهار مناسب نهٔ دے. او کهٔ هغه څیز د بل چا قسمت کښ وی. نو تهٔ هغه نشے حاصلولے. او کهٔ هغه په خیر و عافیت او سلامتئ سره د چا فرد بشر قسمت کښ نهٔ وی، او محض فتنه او امتحان وی. نو بیا د یو عقل او شعور خاوند ولے دیده دانسته ځان په فتنو او پریشانو کښ کښیباسی. مراد دا شو، چه خیر او سلامتی او د زړهٔ اطمینان په باطنی



احوالو او تسلیم او رضا کښ دے.

شاهی محل د داخلیدو نه پس چه ته بالاخانے (اوجِ روحانی) او د هغے ځائے نه چهت (منزل مقصود علیین) ته او خیژ ولے شے. نو ځکه چه مونږ ذکر اوکهٔ. تهٔ بالکل خاموش، سرکښته او مؤدب اوسه. بلکه د دے امورو کښ د ړومبی نه زیات تابعدار اوسه. ځکه چه تهٔ اوس بادشاه ته زیات قریب ئے. نو خطرو ته هم قریب ئے. چه دلته را اورسے نو د هغهٔ نه د احوالو او مقاماتو د هیڅ حال میا مقام په خپله خواهش مه کوه ځکه چه دا به د موجوده نعمت ناشکری وی. او ناشکری یو ناشکرګزاره سړے په دنیا او عقبیٰ دواړو کښ ذلیل کوی.

ځکه چه ځکښ ذکر اوشو تهٔ د ذکر فکر او عملِ صالح په جد و جهد کښ مشغول اوسه. چه دا سے بلند مقام ته اورسے چه دائمی او ابدی وی. او یاد سا ته چه هغه مقام د الله تعالیٰ ظاهر باهر آیات او کرامات دی. چه د بنده د قول او فعل نه ظاهریږی. د دے مقام نه غفلت او بے پروائی هرګز مهٔ کوه. د دے حفاظت کوه. او ثبات او استقلال سره د غلته قائم اوسه. نو احوال د اولیاؤ د پاره دی او مقامات د ابدالو د پاره.

## مقاله (۹) د الله تعالیٰ جلالی او جمالی صفات او کشف او مشاهده

د الله تعالیٰ په اسماء الحسنیٰ کښ د هغهٔ د جلالی او جمالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

احوالواو تسليم او رضا کښې دے۔

شاهي محل د داخليدو نه پس چه ته بالاخانے (اوج روحاني) او د هغے ځائے نه چهت (منزل مقصود علّيين) ته او خيژ ولے شے۔ نو ځکه چه مونږ ذکر او کړو۔ ته بالکل خاموش، سرکښته او مؤدب اوسه۔ بلکه د دے امورو کښې د رومبي نه زيات تابعدار اوسه۔ ځکه چه ته اوس بادشاه ته زيات قريب شے۔ نو خطرو ته هم قريب شے۔ چه دلته را اورسے نو د هغه نه د احوالو او مقاماتو د هيڅ حال يا مقام په خپله خواهش مه کوه ځکه چه دا به د موجوده نعمت ناشکري وي۔ او ناشکري يو ناشکرګزاره سړے په دنيا او عقبٰي دواړو کښې ذليل کوي۔

ځکه چه مخکښې ذکر اوشو ته د ذکرفکر او عملِ صالحو په جد وجهد کښې مشغول اوسه۔ چه دا سے بلند مقام ته اورسے چه دائمي او ابدي وي۔ او ياد ساته چه هغه مقام د الله تعالٰى ظاهر باهر آيات او کرامات دي۔ چه د بنده د قول او فعل نه ظاهريږي۔ د دے مقام نه غفلت او بے پرواهٔ هرګز مه کوه۔ د دے حفاظت کوه۔ او ثبات او استقلال سره دغلته قائم اوسه۔ نو احوال د اولياؤ د پاره دي او مقامات د ابدالو د پاره۔

## مقاله (۹) د الله تعالٰى جلالي او جمالي صفات او کشف او مشاهده

د الله تعالٰى په اسماء الحسنٰى کښې د هغه د جلالي او جمالي



صفاتو ذکر په وضاحت سره موجود دے۔ او هغه د خپلو بنديانو په طبائعو کښې د دے صفاتو ظهور فرمائي۔ د اولياؤ او ابدالو په کشف او مشاهده او افعالو کښې د الله تعالٰى دا صفات دا سے عجائب را څرګند کړي چه عقل او فهم مغلوب کړي، رسومات او عادات فنا کړي۔ او انساني حواسو کښې د دهشت او ضعف يا د لطف او محبت تأثرات پيدا کړي۔ د الله تعالٰى دا افعال په دوه قسمه دي۔ يو جلالي او بل جمالي۔

د خدائے تعالٰى د جلال ظهور دا دے، چه په خوف او هيبت غلبه راشي۔ او د جسم په اعضاؤ د ويرے آثار راڅرګند شي۔ لکه چه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم احاديثو کښې روايت دے چه د دوئ د سينے مبارکے نه به د مانځه په وخت کښې د ديګ د يشيدو په شان آواز راختلو ځکه چه "وَاعْبُدْ رَبَّكَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ" (د خپل رب عبادت داسے کوه، لکه چه ته ئے وينے) مطابق به حضور صلى الله عليه وسلم د الله تعالٰى د جلال او جبروت مشاهده کوله۔ او د الله پاک د عظمت او هيبت انکشاف به ورته کيدلو۔ د غه رنګ د حضرت موسٰى عليه السلام جلال هم مشهور دے چه د توحيد او ديني غيرت په جذبه کښې ئے د خپل ورور هارون عليه السلام ږيرے لاس ورواچولو۔ او دا د هغوئ معمول او مزاج وو۔ چه قرآن پرے شاهد دے۔ د غه شان جلال او جبروت د حضرت ابراهيم خليل الله او حضرت عمر فاروق رض



د حالاتو نه هم منقول دے۔ چه د خپل ذات د پاره نهٔ وُو، بلکه د حق او توحيد د پاره۔

هرچه د جمال مشاهده ده نو دا په زړونو او مزاجونو کښې د خدائے د رحمت، رحم، کرم، بخشش، لطف، محبت، عفو او د سخا د صفاتو ظهور دے۔ چه د قرب خداوندي په وجه په بنده تجلّي غورځوي۔ د الله تعالٰى د صفاتِ جمالي عظيم ترين مظهر د حضور صلى الله عليه وسلم هستي مبارکه ده۔ چه هميشه ئے هر بد خواه سره ښهٔ کړے دي۔ هر ضرر رسونکي ته ئے راحت رسولے دے۔ هر بد کو سره ئے د محبت سلوک کړے دے۔ او انتهائے دا چه د مکے معظمے د فتح په وخت ئے خپلو بدترينو دشمنانو ته په دے الفاظو معافي ورکړه۔ "لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ" (نن ورځ په تاسو هيڅ ګرفت نشته۔ يعني ما بخښلي يئ) د حضور صلى الله عليه وسلم دا "جمالي صفت" او "خلق عظيم" د اُمت په ډيرو اولياؤ ابدالو کښې هم باحسن الوجوه موجود دے۔

الله تعالٰى د خپل جمال د مشاهدے نعمت د اُمت په خاص خاص افرادو پيرزو کړے دے) او ټول عمر ئے هغوئ په دے نعمت ښاد کړے دي۔ د پاره د دے چه د زيات شوق په سبب د محبت په جذب او هستۍ کښې د دوئ روحاني قولٰى سست او کمزوري نشي۔ او د هجر او فراق په خفګان کښې د حقوقِ عبوديت د تعميل نه پاتے رانشي۔ نو



الله تعالٰى حکيم او دانا دے۔ رحيم او کريم دے۔ او د جمال د ټږو په اضطراب ښهٔ خبردار دے۔

د غه وجه ده چه حضور صلى الله عليه وسلم به د حضرت بلال رضي الله عنه مؤذن ته فرمائيل۔ اے بلاله رض! اذان اوکه۔ چه ذکر او مانځه کښې راحت بيامومو۔ د حضور صلى الله عليه وسلم د پاره مونځ په دے بنا د قلب او د روح راحت وُو۔ چه د کامل استغراق په وجه به نبي عليه السلام ته د مانځه په دوران کښې د جمالِ اِلٰهي مشاهده حاصليده۔ په دے وجه به حضور صلى الله عليه وسلم فرمائيل چه ځما د سترګو او زړهٔ آرام په مانځه کښې دے۔

## مقاله (۱۰) د نفس مخالفت او اخلاص

دے کښې شک نشته، چه ستا نفس د الله تعالٰى مخلوق او ملکيت دے خو دا د دنيا خواهشاتو، لذاتو، اسبابو، غرور او تکبر د سے لارے نه بدراهه کړے دے۔ ځکه چه دا څيزونه د انسان مزاج سره اخښلے شوے دي۔ نو کهٔ ته د الله د اطاعت او فرمانبردارۍ د پاره د نفس مخالفت ته تيار شے نو دا به ستا د طرف نه يو جهاد د فلاح او بهبود يوه ذريعه وي۔

د نفس د جهاد نه پس به ستا دوستي او بندګي د ثبوت مقام ته اورسي او په تا به د پاک، صاف، او خوشګوارو نعمتونو پيرزوينے اوشي۔ د کائناتو ټول اشياء به ستا تابع شي او ستا

خدمت او تعظیم ته په غاړه بسته وی. او دا یو ضلي شوے اصول دے. چه کوم سړے د خدائے تعالیٰ فرمانبرداری نو دنیا د هغهٔ فرمانبرداره وی. الله پاک فرمائی. "کائناتو کښې هیڅ څیز دا سے نشته چه د خدائے ثنا صفت نهٔ کوی. خو تاسو د هغوی په ثنا پوهیږئ نه" او الله پاک فرمائی: "ما آسمانونو او زمکے ته اووے، چه تاسو څما فرمانبرداری قبوله کړئ. کهٔ خوښه مو وی او کهٔ مو نهٔ وی خوښه. نو هغوی اووے اچه اے خالق کائناته! مونږ ستا فرمانبرداری په سر سترګو قبلوو.

مکمله بندګی، د نفس د ناکاره خواهشاتو په مخالفت حاصلیږی. په قرآن کریم کښې ډیر ځایه راغلی دی چه د نفس اماره (هغه نفس چه انسان ته د بدو کارونو ترغیب ورکوی) پیروی انسان د صراط مستقیم نه ګمراه کوی، حدیث قدسی دے. چه حضرت داود علیه السلام ته الله پاک اوفرمائیل "چه د نفس د خواهشاتو پیروی هیڅوک اونهٔ کړے. ځکه چه په زمکه کښې د نفس د پیروئی نه زیات د فساد څیز بل نشته" او د حضرت بایزید بسطامی رحمة الله علیه متعلق یو حکایت مشهور دے چه هغوی الله پاک خوب کښې اولید، نو عرض ئے اوکړو چه یا الله! تا ته د رسیدو کومه لاره ده؟ نو الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل: "د خپل نفس اطاعت پریږده او ما ته راځه." حضرت بایزید فرمائی: ددے پس مالکه د مار د پوټ خپل

نفس په ځائے پریږدو.

غرض دا چه هر حال کښې د خواهشات نفسانی نه پرهیز د خلاصی باعث دے. نو کهٔ ته متقی او پرهیزګار ئے. نو د حرام مال نه او د مخلوقاتو د خوف او خدشے نه د ډډه اوکړه. او د مخلوقاتو په ځائے خپل اُمید وند خپل خالق سره اوتړه. او د زکوٰة، صدقے او نذرانے په طور هم د خلقو نظر مهٔ کوه. بنهٔ پوه شه چه د رزق او روزئی ټول امور د فاعل فعل او تدبیر سره په ظهور کښې راځی. او فاعل او مدبر الله تعالیٰ دے. خو سره ددے د مخلوق د طرفه د سعی، محنت او کوشش اصول هرګز هیر ول نهٔ دی پکار. د پاره د دے چه ته د جبریه فرقے (دوئی ددے خبرے قائل دی، چه فعل کښې د بنده مطلقاً دخل نشته) د عقائدو نه خلاصے بیا مومے. او دا هم مه وایه چه د مخلوق په افعالو کښې د خدائے قدرت او اختیار هیڅ دخل نشته. او بنده د هر فعل او ارادے خپله مختار او مجاز دے ګنی د دے عقیدے سره به ته کافر شے. او قدریه فرقه کښې به راشے. بلکه عقیده درسته کړه. او دا اووایه، چه د مخلوق افعال او اعمال د مشیّتِ خداوندی نه دی چه د هغے د تعمیل حکم د پاره "لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ" یعنی د مخلوق د طرفه سعی او محنت لازمی څیز دے. او قرآن او حدیث کښې ددے مثالونه وارد دی.



احکام خداوندی نه تجاوز مهٔ کوه. ځکه چه د هغهٔ احکام په ټول مخلوقات طوعًا وکرهًا (په خوښه او ناخوښه یعنی هر حالت کښې) حاوی دی. د احکم الحاکمین په موجودګئ کښې په هیڅ یو امر کښې حاکم مهٔ جوړیږه. ستا حاکم کتاب الله او سنت رسول الله دے. کهٔ ستا زړهٔ کښې څهٔ خیال یا وسوسه تیره شی. یا د الهام کیفیّت محسوس کړے نو هغه د قرآن او حدیث په معیار اوسنجوه. کهٔ قرآن او حدیث کښې د هغے حرمت او ممانعت موجود وی. مثلا وسوسه، سود غلا، غضب، ظلم، زیاتی، دروغ فریب او د غیبے نور د فسق و فجور اعمال نو داسے خبرے د خپل قلب او دماغ نه لرے که او مخ تے وا نړوه. ځکه چه داسے وسوسے د شیطان د طرفه وی چه په قِسم قسم ښکلے صورتونو کښې ئے انسان ته راوړاندے کوی.

کهٔ ستا خیال او وسوسه د قرآن او حدیث ترمخه جائز او مباح وی او د حرمت پکښې هیڅ شبه نهٔ وی. نو بیا ئے بلا تامل تعمیل اوکړه ځکه چه دے کښې د ګناه خدشه نشته. لکه د حلالو څیزونو خوړل، څښل، نکاح، ښهٔ لباس، چا صالح سره ناسته پاسته، د بیت الله شریف حج، د ګنډو، یتیمانو او غریبانو امداد او دعوا مو د فائدے کارونه واخله. په داسے الهام زړهٔ سکون او اطمینان بیا مومی. او فطرت ددے تائید او تصدیق کوی. د افعالِ



الٰهی او امرِ الٰهی د تعمیل د پاره الله تعالیٰ خپله د بنده فاعل شی او د هغه مدد او نصرت کوی او هر کله چه فعل خالصةً د حق د پاره پاتے شی او تا ته د تائید حق مقام حاصل شی نو بیا کهٔ تا ته څهٔ فتنه پیښه هم شی، نو د هغے د شر نه به د خدائے په امان ساتی ځکه چه الله تعالیٰ په خپل مشیّت او فعل چالره سزا نهٔ ورکوی. بنده ته عذاب په امورِ الٰهی کښې د دخل ورکولو په وجه ورکولے شی.

کهٔ ته د ولایت خواهان ئے (خدائے دې په مونږ ټولو ددے نعمت پیرزوینه اوکړی. آمین). نو د نفس مخالفت شروع کړه. او دا امرِ حق په پوره طریقه تابع شه. او دا امرِ حق پیروی په دوه قسمه ده. رومبے قسم دا چه د نفسانی لذاتو د پیروئی نه منع شے. فرائض ادا کړے او خپل ظاهر او باطن د ګناهونو نه محفوظ کړے. او دوئم قسم دا چه د خدائے کوم احکام د الهام یا القاء په طور ستا په زړهٔ وارد کیږی. د هغے اطاعت په پوره احترام سره اوکړے او د خدائے تعالیٰ د وقتاً فوقتاً مشورو نه غفلت اونکړے دا باطنی امر په هغے مباح کارونو کښې هم بیا موندے شی چه د هغے متعلق شریعت کښې څهٔ حکم موجود نهٔ وی. په داشان چه نه خو هغه ممنوع وی. او نه د وجوب حکم لری. او دے کښې بنده ته اختیار ورکړے شوے دے. خواه کهٔ دا په تصرف کښې راولی، او کهٔ نهٔ ئے راولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے نوم مباح دے نو یو متقی او خدائی سړی له پکار دی چه هغه د هر داسے څیز متعلق استخاره او کړی او د حکم ربّی په انتظار کښ شی۔ او هر کله چه حکم بیا مومی، نو د هغه مطابق دِ تصرف کوی۔ او په داسے حالت کښ دِ د بنده ټول اعمال، حرکات او سکنات د الله تعالیٰ د طرفه نهٔ وی۔

د کومو څیزونو حکم چه شریعت کښ موجود دے هغه دِ د شرع په رو سره، او د کومو څیزونو حکم چه شریعت کښ موجود نه دے، هغه دِ د استخارے په ذریعه په ځائے راوړلے شی۔ دلته بنده بیا د اهلِ حقیقت د مقام نه شی۔ او هغه په اولیاؤ کښ شمیرلے شی او کهٔ تهٔ د "حق الحق" په حالت کښ ئے چه په ذات خداوندی کښ د فنا کیدو حالت دے نو دا د الله تعالیٰ څخه پیژندنه او گنړه۔ ځکه چه دا د هغه ابد الوحالت دے، چه د هغوئی رهبوند د عشق و محویت ته مات دی۔ هغه موحدین دی عارفان دی۔ صاحب علم او عقل دی۔ دوئی د امیرانو آقا د خلقِ خدا پیشوا او نگهبان، د حق نائبین، خاصان او محبان الٰهی دی۔ نو په دے مقام د امر پیروی دا ده چه تهٔ د نفس امّارهٔ مخالف شے او دنیا او اخرت هیڅ څیز ته ستا رغبت او توجه پاتے نهٔ شی۔ د هغه وخت ته د مالک الملک بنده ئے، نه چه د مُلک بند۔ تهٔ به د امر حق غلام شے، نهٔ

چه د خواهش او په ظاهر او باطن به کلی طور داسے د خدائے په حواله شے لکه د دائی په لاس کښ چه بچے رودو ونکے بچے یا د طبیب په مخکښ بے هوشه بیمار وی نو د الله تعالیٰ د امر او نهی د شناخت او پیروئی نه علاوه د نورو ټولو کارونو نه به تهٔ بے هوشه او بے خبره ئے۔

## مقاله (۱۱) صبر او توکل

د غربت او ناداری په حالت کښ چه ستا په زړهٔ کښ د نکاح خواهش پیدا شی او تهٔ د دے ذمه داری سرته نشے رسولے۔ نو د الله تعالیٰ نه د رزق د فراخئ او اسوده حالئ سوال کوه۔ او د هغه د رحم امید وار اوسه۔ دنیا کښ ئے د انسان د پاره نکاح لازمه کړے ده۔ او د دے خواهش ئے بنی آدم له ورکړے دے۔ نو هغه د دے د اسبابو او ذرائعو هم پیدا کونکے دے۔ د هغه مشکل کشا او قاضی الحاجات به بغیر ستا د پریشانئ نه د بخشش په طور ستا د نکاح اسباب برابر کړی۔ چه ستا د پاره به د اطمینان او برکت باعث وی۔

اوس به ستا صبر او انتظار په ثنا او شکر کښ بدل شی او الله پاک شکر گزاره سره په کلام پاک کښ د نعمت د زیاتی وعده کړے ده۔ فرمائی: لَئِنْ شَکَرْتُمْ لَاَزِیْدَنَّکُمْ وَلَئِنْ کَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِیْ لَشَدِیْدٌ ۝ (کهٔ تاسو شکر کوی نو زهٔ به در باندے خپلے پیرزوینے لا زیاتوم۔ او کهٔ ناشکری کوئی نو یاد ساتئ چه زما عذاب ډیر سخت دے) او که د یو وخت



پورے د نکاح ضروریات د برابر نشی۔ نو صبر او انتظار کوه۔ الله پاك فرمائی:۔ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ (د خدائے د رحمت نه مهٔ نا امیده کیږئ۔) خو په دے اثنا کښ د الله تعالیٰ په اراده او فعل کښ بالکل دخل مهٔ ورکوه۔ د خواهشات نفسانی نه ځان ساته او ذکر الٰهی سره د صبر او تحمل نه کار اخله۔

د قضا و قدر دستور سره باوفا اوسه۔ او د امر ربّی اطاعت کوه۔ او یقین لره چه ستا پروردګار به اخر په تا فضل و کرم او کړی۔ رزق به دِ فراخه کړی۔ او ګناهونو نه د بچ کیدو او په صراط مستقیم د قائم پاتے کیدو به قوت او توفیق در کړی۔ الله پاك فرمائی: اِنَّمَا یُوَفَّی الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ط (د صابرانو د پاره بے حسابه اجر دے)۔

## مقاله (۱۲) د منعم اطاعت که د نعمت؟

چه تا الله تعالیٰ د مال او جائیداد خاوند کړی۔ او تهٔ د دے مال په وجه د خدائے د عبادت او اطاعت نه روګرځانه شے۔ نو خدائے تعالیٰ به تا هم د دنیا او هم آخرت کښ د خپل نزدیکت نه لرے کړی او ممکنه ده چه د غفلت او معصیت په وجه د هغه مال او دولت هم درنه واخلی۔ او محتاج او پریشان حاله دِ کړی۔

د منعم (نعمت ورکونکی) نه غافل کیدل او سراسر نعمت کښ محو کیدل شرك دے۔ او شرك د خدائے په نزد



یو ناقابلِ معافی جرم دے۔ خو کهٔ تهٔ مال و دولت خپل معبود او مقصود جوړ نهٔ کړے او په ثنا او ذکر کښ مشغول شے نو الله تعالیٰ به د مال ستا د پاره برکت او راحت او ګرځوی او دے کښ به ورځ تر ورځه زیاتے راځی۔

مال به ستا خادم وی۔ او ته به د خپل رازق او پروردګار خادم۔ بیا به ته دنیا کښ د قِسم قِسم نعمتونو نه فیض یاب شے۔ او عقبیٰ کښ به د خدائے په نزد معزز او محترم شے۔ او جنت الماویٰ کښ به صدیقینو، شهداؤ او صالحینو سره هم مجلس او هم پایه شے۔

## مقاله (۱۳) قضا او قدر ته ګردن کیږده

کهٔ ستا په قسمت کښ نعمت وی۔ خو کهٔ تهٔ د هغے خواهشمند ئے یا نهٔ ئے، هغه به ضرور تا ته دررسی۔ د غه شان کهٔ ستا په قسمت کښ مصیبت وی او ستا د پاره د هغے حکم شوے وی، نو خواه تهٔ هغه نا خوښه وے، او که دعا په ذریعه ئے دفع کوے۔ خو هغه به په تا راځی۔ نو تا له پکار دی چه په هره معامله کښ د الله تعالیٰ مخکښ د فرمانبرداری ګردن کیږدے چه د هغه فاعل حقیقی فعل ستا د پاره جاری شی۔

که د خدائے د طرفه په تا د نعمت پیرزوینه اوشی۔ نو شکر او باسه۔ او کهٔ مصیبت راشی۔ نو صبر او تحمل اختیار کړه۔ تهٔ د بخشش او د عطا د حالاتو بالکل مطابق اوسه۔ چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحق د لارے منزلونه اووهی نو د تسلیم او رضا په دے طریقه به د نبیو وصالحینو، شهداؤ او صدیقینو مقام ته اورسے. اوقرب خداوندی به حاصل کړے بیا به ته د هغه خلقو ملګرے ښے چه د هغوی د ذکر او فکر په برکت د کرامت، نعمت، عزت، مسرّت او د نفس داطمینان خاوندان شوے وی. نو په آفاتو اومصائبو کښې د صبر اوستقامت نه کار اخله. اود مؤمن د ټولو نه اهم او مقدّم صفت هم دغه دے.

د رحمة للعلمین ارشاد دے :" ددوزخ اور به مؤمن ته وائی اے مؤمنه! ځما د علاقے نه زر تیریږه ځکه چه ستا نور ځما اور مړکوی. داهغه نور دے، چه محکم یقین او کامل ایمان سره چه دنیا کښې دره سره دو. او په دے نور په مؤمن اوکافر کښې تمیز کیدلے شی. اودغه نور په دنیا او عقبیٰ ادواړو کښې د هرے بلا مدافعت کوی. نو پکار دی چه ستا د صبر او ایمان قوت تا نه هرمصیبت او بلا لرے کړی. یقین لره، چه هیڅ بلا ستاد بربادولو دپاره نه، بلکه ستا دازمیښت د پاره، ستاد ایمانی طاقت قوی کولو دپاره، ستا د یقین زیاتولو دپاره، ستاد فلاح او ترقی دپاره اودرضائے حق د بشارت درکولو دپاره تاته راځی. الله پاک فرمائی. اے مسلمانانو! موږ تاسو ازمایو. چه تاسو کښې د فی سبیل الله جهاد کونکو اوصابرو خلقو پته اولګی. بیا چه د الله تعالیٰ په ذات وصفات اوامداد و نصرت ستا ایمان محکم شی او ته



یقین سره د هغهٔ افعالو سره موافقت اوکړے. نو هغه به په هرمصیبت کښې ستا مشکل کشائی کوی. او د هغهٔ امداد به ستا شامل حال وی. نو دځان یا د غیر په حق کښې د ے تا نه هیڅ یو قول او فعل داسے بنکاره نشی چه د الله تعالیٰ د امرو نهی نه بهر وی.

کله چه تاته یو امرِ خداوندی اوشی، نو د هغے تعمیل په تادئ کوه. اوقوت اوحرکت سره هغه سرته رسوه. د تقدیر او فعلِ الٰهی په تکیه محض په تسلیم او توکل مه اوسه، بلکه سعی کوشش، فکر تدبّر اوخپل وهبی اوفطری قوتونه هم پکار راوله. چه تاته امرِ الٰهی عملی طور سره ظاهر شی. او که د خپلو عزائمو په تعمیل کښې پاتے راغلے ئے، نو د خپل پروردګار پناه اونیسه هغه ته التجا کوه. هغهٔ ته زاری کوه او امر الٰهی کښې د غفلت کولو اسباب معلوم کړه. ممکنه ده چه دا پریشان کن صورتِ حال ستا دغرور تکبر، طاعت اوعبادت کښې د سوءِ ادب، په خپل قوت او صلاحیت د تکیه په ځهٔ بنهٔ عمل د ناز کولو یا د مخلوق تو خالق سره د شریک کولو په وجه وی، یا ممکنه ده چه الله تعالیٰ د ځهٔ لغزش په وجه د خپل قرب نه معزول کړے ئے. اوستا نه ناراضه وی او ته ئے په خپل هوا او هوس کښې اخته کړے ئے. ته نهٔ پوهیږے چه دنیا کښې د شرك اوغفلت جرائم ځائے په ځائے خواره شوی دی.



چه هغه مؤمن د خپل حقیقی محبوب او مطلوب یعنی الله تعالیٰ نه لیرے او بے تعلقه کوی. نو د شرك د اسبابو منه پرهیزګار شه. چه د الله نه غیرالله ته راغب نهٔ شے.

کوم څیز چه د الله نه سوا دے هغه د غیرالله حکم لری نو تهٔ د خپل مولانه سِوا غیر ته رجوع مهٔ کوه، او په خپل نفس داسے ظلم مهٔ کوه چه د غیر الله په سبب د الله دامرو نه غافل او بے خبره شے. کنی هغه به دِ په داسے اور کښې ورلودیکی،" چه د هغے خشاك سړی او کانړی دی، اوچه د کفارو دپاره تیار شوے دے ۔(آیت شریف دے) بیا که تهٔ ځهٔ عذر یا فریاد کوے، نو ځائے به نهٔ نیسی. اوکهٔ د الله رضا لټوے نو هغه رضا به حاصله نهٔ کړے. اوکهٔ د ایمان اوعمل صالح د ضائع کولو په حقله د نیا ته بیا د نیکئ دپاره راتلل اوغواړے، نو دوباره به دنیا ته دِ راتلل نصیب نشی. نو خپل نفس رحم اوکړه. او علم، عقل ایمان اومعرفت غوندے نعمتونه چه خدائے درکړی دی، هغه د خدائے په عبادت، رضا اوخوشنودی کښې صرف که. اود دے په پاکو انوارو د جهل اوشرك تاریکئ د خپل قلب او دماغ نه محو کړه.

— د الله پاك د اوامرو مطابق په صراط مستقیم روان شه اوخپله هره معامله هغه قاضی الحاجات ته اوسپاره. چه تهٔ ئے پیدا کړے ئے. او ستا پرورش ئے کړے دے. تهٔ



یو بیکاره نطفه وے. د هغې نه ئے تاته انسانی صورت درکهٔ. او زمکه کښې ئے د خپل خلافت او نیابت په منصب سرفراز کړے. نو ستا هرخواهش او مراد د هغه د مراد تابع پکار دے، او ستا هره ناخوښی د هغهٔ د ناخوښئ مطیع پکار ده. هرکله چه تهٔ د احکام الٰهی تابعدار شوے. نو د کائنات ټول څیزونه به ستا تابع دار شی. (خدای تعالیٰ دِ موږ ټول په دے نعمت ښاد کړی. آمین.)

هرکله چه تهٔ د الله تعالیٰ د منهیاتو نه پرهیزګار ښه، نو بیا کهٔ دنیا کښې تهٔ هرځائے ئے ټول مصیبتونه اوتکلیفونه به تا نه په دِ ډه وی. الله پاك په خپلو آسمانی کتابونو کښې فرمائیلی دی :" اے بنی آدمه! زهٔ الله یم. خالق کائنات یم. ځما نه سوا بل معبود نشته. زهٔ چه کائناتو کښې کوم څیز ته حکم ورکړم، چه شه، نو هغه فوراً شی. او دعدم نه عالَم وجود ته راشی. نو تهٔ خالصةً ځما عبادت کوه. چه زهٔ درته د توحید په برکت هغه روحانی قوت درکړم چه ته هم یو څیز ته اووائے چه شه. نو هغه شی. او وجود اوظهور کښې راشی." او دا هم الله پاك فرمائیلی دی : اے دنیا! کوم سړے چه ځما خدمت او اطاعت کوی. نو ته د هغهٔ خدمت او اطاعت کوه. اوکوم سړے چه محض ستا خدمت او پرستش کوی نو هغه په مصیبتونو او تکلیفونو کښې ګرفتار کړه."

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځیزونه چه هغه د خدای تعالیٰ منع راوړے دے دهغه نه ته پوره پرهیز اوکړه ـ کامله عاجزی اختیار کړه او تسلیم او رضا خپل شعار جوړ کړه ـ ستا حواس خمسه او ستا ټول اعضا هر وخت د احکام الٰهی پابند کیدل پکار دی او د هغے په تعمیل کښ هیڅ کله د تاخیر نه کار مهٔ اخله ـ قضا و قدر کښ خفګان ، تادی ، شکایت او مخالفت له دخپل مهٔ ورکوه ـ او هم دا ربانی نسخه او روحانی شفاده چه تا به د ګناهونو دا مراضو او د خواهشات نفسانی د فتنو نه محفوظ کړی او قرب خداوندی به د نصیب کړی ـ

## مقاله (۱۴) د دنیا پرستار کے د عُقبیٰ؟

اے د نفس بندہ! ته د عاشقانِ حق او د یو معبود پرستارانو د برابرئ دعوی مهٔ کوه ـ ځکه چه ته د خپل هوا و هوس غلام یے ـ او هغوئ د خپل خالق او مولیٰ غلامان دی ـ ته د دنیا په رغبت کښ ډوب یے ـ او هغوئ همه تن د عقبیٰ په رغبت کښ سرګرم دی ـ د دوئ زړونه صرف د رب سره تړلے دی ـ او ستا زړه د دنیاوی بُتانو بُتخانه ده ـ دوئ هغه ځیزونو ته نه ګوری ، په کوم چه ستا نظر دے ـ دوئ د کائناتو په اشیاؤ نه بلکه د اشیاؤ په خالق او صانع نظر لری ـ چه هغه په ظاهری سترګو نه بلکه د زړهٔ په سترګو لیدلے شی ـ

دغے عاشقانِ حق د عشق نعمت حاصل کهٔ ـ او خلاصے



یے بیا موند ـ او ته تراوسه د نفس په خواهشاتو کښ راګیر یے دغے اهل الله د خپل پروردګار د ارادو احترام اوکهٔ او خپلے ارادے او ارمانونه یے پریښودل ـ او په دغے طریقه یے قُربِ الٰهی حاصل کهٔ او ته د خپلو ارادو او خواهشونو بنده شوے او د خپل خالق نه په پراوُنو لرے شوے ـ دغے خلقو ته الله تعالیٰ د آدم علیه السلام او د کائناتو د تخلیق حقیقی مقصد اوښوده ـ یعنی د خدای ثنا صفت او ذکر او عبادت کښ مشغوله شو او ته د دنیا په عیشیاتو او هزلیاتو کښ ګښیو یے دغه د حق عاشقان د تائیدِ الٰهی په وجه طاعت او عبادت کښ همیشه د غم او پریشانئ نه لاپرواه وی ـ مصیبت او تکلیف کښ څهٔ جبر او اکراه نهٔ محسوسوی ـ او ذکر او عبادت د دوئ د پاره جنت الماویٰ شو ـ ځکه چه دوئ کائناتو کښ د یو ځیز دکتونه ګکښ د هغه ځیز صانع او د هغه فعل ته ګوری ـ

دغسے برګزیده خلقو سره د زمکے او آسمانونو قیام او استحکام او د برّ و بحر د مخلوقاتو سرور او اطمینان وابسته وی ـ ځکه چه د باطنی صفاتو په وجه الله پاک دوئ د خپلے زمکے اَوتاد یعنی میخونه ګرځولے دی ـ چه په هغه زمکه قائم او محکم ده ـ هغوئ د خپل روحانی قوت په وجه د غرونو په شان خود دار سخت او ناقابل تسخیر دی ـ او ته محض د نفس بنده یے نو د دغے صاحب عزم او صاحب ایمان خلقو په لاره کښ مهٔ خندا کیږه ـ ځکه چه هغوئ د حق په



لاره کښ د مور و پلار او اهل و عیال نه بیزاره شو ، خو د حق نه بیزاره نهٔ شو ـ

دوئ په کائناتو کښ خدای یے بهترین پیدا کړے دی ـ او د زمکے په سر یے نوع انسانی د دوئ د امامت او قیادت نه فیض یاب کړے دی ـ ترڅو چه زمکه او اسمانونه قائم دی د دوئ په پاکو روحونو دِ د حق تعالیٰ په ټکو نو سلامونه وی ـ (سره څونو ـ آمین) ـ

## مقاله (۱۵) خوفؔ او رجاء

ما خوب اولید چه زهٔ یو داسے ځائے کښ یم چه د هغه شکل او هیئت د جماعت په شان دے ـ او په هغه کښ د یو داسے خلقو له ده ، چه د دنیا او د دنیا د خلقو نه بے تعلقه دی ـ ما په زړهٔ کښ فکر اوکهٔ ـ کهٔ فلانے سړے په اولیاؤ کښ دلته موجود وے نو دے خلقو ته به یے د شریعت آداب ښودلی وو ـ او د تبلیغ ارشاد به یے ورته کړے وو ـ

په دے کښ دا خلق ماته راجمع شول ، او یو پکښ ماته اووئیل : ستا څهٔ حال دے ؟ ته کلام او خطاب ولے نهٔ فرمائے ؟ ما ورته اووئیل ـ هرکله چه تاسو د مخلوق نه تعلق قطع کړے دے او خالق سره موځان تړلے دے ـ نو بیا د خلقو نه ژبے سره هیڅ مهٔ غواړی ـ او چه ژبے سره سوال پریږدئ ،

له ویره او امید ـ دا د اهل الله صفات دی چه د الله تعالیٰ د قهر او عذاب نه خوف کوی ـ او د هغه د رحمت او بخشش امید لری ـ



نو بیا زړونو سره هم د هغوئ نه سوال مهٔ کوئ ځکه چه د زړهٔ سوال د ژبے په شان دے ـ

بنهٔ پوه شئ چه هر آن کښ د الله پاک یو نوے شان دے ـ د خلقو حالات بدلوی را بدلوی ـ یعنی د امیر نه غریب او د غریب نه امیر ، د ګدا نه بادشاه او د بادشاه نه ګدا جوړوی ـ د چا مرتبه اوچتوی او د چا راغورځوی ـ یو قوم علیّین ته رسوی[1] او بل اسفل السافلین ته[2] کوم ځائے چه د علیّین خاوندانو سره د حفاظت او نصرت وعده ده ـ هلته هغوئ سره یے د غفلت او معصیت په وجه په اسفل السافلین کښ د ورغورځولو هم ویره پیدا کړے ده ـ

کوم خلق چه اسفل السافلین کښ دی ـ هغوئ سره یے د توبه استغفار او رجوع الی الله په سبب د هدایت او علّیین کښ د داخلولو هم وعده فرمائیلے ده ـ په دے کښ زه د خوب نه راویښ شوم ـ

## مقاله (۱۶) توکّل په خدائے کهٔ په اسبابو؟

ته د الله پاک د فضل او د هغهٔ د نعمتونو نه په دے محروم یے ـ چه تا محض په مخلوقاتو ، اسبابو او ذرایعو باندے تکیه اوکړه ـ او د الله تعالیٰ په ذات د کامل توکّل اونهٔ کهٔ ، نو د حلال رزق په حاصلولو کښ مخلوقات

[1] اوچته درجه جنت
[2] د دوزخ د ټولو نه لاندے طبقه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاد پاره حجاب شول او ترڅو چه ته د مخلوقاتو د بخشش او ميدوار ې . او د هغوئ طرف ته تکه د يو سود اګوښتا تګ راتګ دے . نو تر هغه خپل خالق سره د مخلوق شريک کوونکے مشرک يې .

د دے شرك په وجه به الله تعالیٰ تا په عذاب کښې اچوی . او د هغه ادنیٰ صورت دا دے چه ته به د حلال رزق نه محروم يې ځکه چه حلال رزق هغه دے ، چه هغه د جسمانی او دماغی قوتونو په کوشش حاصل کړے شی بيا تا الله تعالیٰ سره د مخلوق د شريک کولو نه توبه کړه او سعی او محنت ته د رجوع اوکړه . او محض په خپل محنت او صلاحيت د تکيه اوکړه نو بيا هم ته مشرك يې ليکن دا شرك د پرومبی نه زيات خفی (پټ) دے . او په دے شرك به د الله تعالیٰ دا سے اونيسی چه بغير د سبب نه روزئ د رکولو نه به د محروم کړی ، او د رزق په حاصلولو کښې به د باطنی ذرائعو نه بے بهره شے .

بيا چه ته د دے خفی شرك نه هم توبه کړے او محض په خپل محنت او صلاحيت د اعتماد پاتے نشی او دا يقين د پيدا شی چه يوازے الله تعالیٰ حقيقی رازق او مسبب الاسباب دے . هغه آسانی پيدا کوونکے دے ، هغه د محنت او کسب توفيق ورکوونکے دے . او هغه د مشکلاتو رفع کوونکے دے او دغه شان چه ته د ذرائعو او اسبابو نه روګردانی اختيار



کړے . او د رزق او محنت منبع او مخزن يعنی الله پاك ته رجوع اوکړے او خپل ټول حاجات او ضروريات فقط د هغهٔ حضور ته اوسپاری نو بيا به هغه خپل او ستا مينځ کښې حجاب اوچت کړی . بيګانګی او بے اتفاقی به رفع کړی او د خپل لوئے رحمت په برکت به ستا د هر حاجت او ضرورت په وخت کښې ستا د طلب او توقع نه هم زيات رزق د دا سے ذريعو نه درکړی چه ستا وهم او ګمان کښې به هم نه راځی . او دا ستا د پاره د الله تعالیٰ يو خاص نصرت او حمايت دے چه تا د شرك او غير الله ته د مائل کيدو نه محفوظ ساتی .

هرکله چه ستا د قلب او دماغ نه ذاتی ارادے او خواهشونه ليرے شی او ته کلی طور متوکل علی الله شے او خپلے ارادے د الله په اراده کښې فنا کړے نو بيا به ستا ليکلے رزق الله تعالیٰ يقيناً تا ته در رسوی او ستا نه سوا به هغه دبل چا د پاره نهٔ وی ستا د سخت حاجت او ضرورت په وخت به ستا دستګيری کوی او ورسره ورسره به د رزق دا دلے شکر توفيق درکوی . او په دے به پوهيږے چه دا سے حالاتو کښې دا رزق د الله تعالیٰ خاص نصرت او مدد دے . او دغه شان به ته د هغه مسبب الاسباب هغه خاصه رحمت او پيژنے او د هغه به شکريه په ځانلے راوړے . او دا معامله به ستا د مخلوقاتو او د غير الله نه د لرے کيدو په وجه وی .



او دے سره به تا ته د توحيد صحيح فهم او ادراك هم حاصل شی .

هرکله چه د الله تعالیٰ د ذات او صفات متعلق ستا علم او يقين پوخ او محکم شی ، نو بيا به قدرتی طور تا ته شرح صدر (د حق د پيژندلو او قبلولو د پاره د سينے د پرانستيدو) مقام حاصل شی . ستا قلب او دماغ به د معرفت په انوارو منور او ستا روح به په اسرار خداوندی توانا شی . د دے حالاتو کښې به هميشه تا ته په باطنی کشف او نور کرامت دا ښودلے شی ، چه د الله د طرف نه ستا حاجت روائی او مشکل کشائی کيدونکے ده .

الله پاك فرمائی د موږ په بنی اسرائيلو کښې دا سے رهبران پيدا کړل چه په خلقو کښې به ئے زموږ د احکامو تبليغ کولو . او دا قيادت هغوئ ته په دے حاصل شو چه هغوئ د صبر نه کار واخست او زموږ په آيا تو نو ئے ايمان راوړلو بل ځائے فرمائی :- وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا (کوم خلق چه زموږ د پاره رياضت او مجاهدے کوی . نو موږ يقيناً هغوئ ته د خپلو سمو لارو هدايت کوو) . او الله عزّ و جلّ فرمائی ؛ تاسو د الله نه ويره کوی چه د خپل قدرت او اسرار و نه د پرخهٔ درته اوښائی . او د معرفت په نور منور بناد کړی .

بيا به د روحانيت دا سے اوچت مقام حاصل کړے ، چه



اشياء او کائناتو کښې به د تصرف کولو اختيار درکړے شی او دا به دا سے ظاهری امر او اجازت ربّی سره وی چه هغه کښې به د شک شبے هيڅ ګنجائش نهٔ وی او دا سے دليل سره چه د نمر نه به زيات روښانه وی او دا سے کلام سره چه د هغه رد به د مخلوقاتو د پاره ناممکن وی او دا اختيار به دا سے الهام سره وی چه هغه کښې به هيڅ دروغ نه وی او د نفسانی او شيطانی وسوسو نه به بالکل پاك او محفوظ وی . الله پاك خپل بعضے کتابونو کښې فرمائيلی دی :- اے بنی آدمه ! زهٔ الله يم . زما نه سوا هيڅوك معبود نشته . زهٔ چه کوم څيز ته حکم ورکړم چه شه نو يقيناً هغه شی . نو ته زما اطاعت اختيار کړه بيا به زهٔ تا ته هم دا سے اختيار درکړم ، چه ته څهٔ څيز ته حکم اوکړے ، چه شه نو هغه به شی او اِذن الٰهی سره به عالَم وجود کښې راشی . او دے کښې شک نشته چه الله تعالیٰ په خپلو انبياؤ ، صديقينو اولياؤ او خاص بنی آدمو د دا سے روحانی قوتونو پيرزوينه کړے ده .

## مقاله (۱۷) وصول اِلَى الله

هرکله چه تا ته د وصل الی الله (خدائے ته د رسائی) مقام حاصل شو نو پوه شه چه اوس د توفيقِ الٰهی په وجه قرب خداوندی نصيب شو . او د وصل الی الله دا معنیٰ ده چه ته د مخلوقاتو د علاقو او د ذاتی خواهشاتو او ارادو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه آزاد شي او د الله د فعل او ارادے ما تحت شي او ستا هر قول او فعل د امر الٰهی مطابق شی. نو دا حالت د محویت او د فنا فی الله کیدو حالت دے چه په وصل الی الله تعبیر کولے شی.

الله ته رسائی د مخلوق د رسائی په شان مادی حیثیت نهٔ لری بلکه د هغې نوعیت بالکل مختلف دے. ځکه چه لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ (هیڅ څیز د هغه په مثل نشته). هغه داسے سمیع بصیر او خالق (اوریدونکے او پیدا کونکے) دے چه مخلوقاتو کښې هیڅ څیز له هغهٔ سره تشبیه نشی ورکیدے او وصل اِلَی الله د کیفیت نه صرف واصل بالله خبردار وی چا چه دا مرتبه حاصله کړے نهٔ ده او دا عشق او قرب ئے نصیب شوے نهٔ دے نو هغه د دے روحانی کیفیاتو نه عاجزه دے.

بیا هر واصل بالله په قرب کښې د نورو نه په درجه کښې مختلف وی او دغه شان د الله تعالیٰ اسرار ټولو انبیاو او اولیاؤ سره په جدا جدا رنګ دی چه د یو راز نه بل بغیر د خدائے نه خبر نهٔ وی. حتّی چه عالم روحانیاتو کښې کله داسے هم کیږی چه یو مرید چه ذاتِ حق سره کوم راز لری، د هغې نه پیر خبره وی. او کله د پیر د راز نه هغه مرید هم ګاه نهٔ وی. کوم چه روحانی او باطنی لحاظ سره د پیر مقام ته رسیدلے وی. او کله چه مرید د پیر حالت او کیفیت



نه اوری. نو بیا هغه د پیر نه جدا کړے شی. او خپله الله تعالیٰ د هغه نګهبان جوړ شی.

د مُرید د پیر نه جدا کول داسے دی لکه چه ماشوم د تی رودو د میعاد نه پس د دائی نه جدا کړے شی. او دغه شان د هغهٔ تعلق د نورو خلقو نه هم پریکړے شی. تر څو چه مرید خام وی او هغه کښې خواهش او اراده موجود وی. نو هغه د نفسانی عیبونو د لرے کولو د پاره مُتاره دے. خو د خواهش او ارادے د فنا کیدو نه پس د پیر حاجت باتے نشی. او دا ځکه چه اوس مرید کښې نفسانی او سفلی کرد باتے نشو. چه د هغې د لرے کولو د پاره ځکښې په دهٔ د خدائے د طرفه پیر مامور وُو.

اُوس د دهٔ هادی، رهنما، حافظ او ناصر الله پاک دے چه د هغه د تجلیاتو انوار دے د جهل تیرو ته نهٔ پریږدی. نو هر کله چه ته واصل بالله شے، نو د غیر الله نه همیشه د پاره بے غرضه او بے خوفه شه. او د هغه نه سوا په خوف او رجا یا نفع او نقصان کښې هیڅوک موجود مه ګڼړه. بلکه همیشه د هغه نه خوف کوه. د هغه نه حل حاجات غواړه د هغه نه د مغفرت امید لره. او هر دم د هغهٔ په ذات تکیه کوه. هر کله چه ته داسے شے. نو همیشه د الله تعالیٰ په امر او فعل نظر لره. او هر حالت کښې د مخلوق نه بیزاره شه. ستا د قلب او دماغ د توجه مرکز دے صرف هغه



او کافر د پاره جنت. او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: چه متقی او پرهیزګار ته د خدائے تعالیٰ د طرفه تیزے لګیدلے وی. یعنی د شریعت د حدودو پابندی هغه غیر الله ته نهٔ پریږدی. نو د دے دلائلو باوجود دے دنیاوی لذاتو سره زړهٔ ولے اوتړلے شی.

د بنده د پاره په ټولو راحتونو کښې بهترین راحت دا دے. چه هغه د مخلوقاتو نه قطع شی، او الله ته رجوع اوکړی، هغه سره ربط او عشق اوساتی. او د هغه د ارادو په ځنګښې خپل ځان عاجز کړی. په داسے کولو به ته د دنیا د شرک د بندونو نه آزاد شے. او دغه وخت به ستا هستیٔ کښې د معبود حقیقی فضل وکرم او عظمت او جلال داسے وقار او اثر پیدا کړی چه د نفس په بند یانو کښې به هغې مثال نشی بیاموندے.

## مقاله (۱۸) رضا په قضا

د هغې مصیبت او تکلیف چا ته شکایت مهٔ کوه. کوم کښې چه ته پروت یے. او مه په الله پاك تهمت لګوه. که یو وخت کښې ته په مصیبتونو او تکلیفونو کښې راګیر شے نو په دے هم ته پوه شه. چه د مصیبت نه پس راحت او د غم نه پس خوشحالی هم د الله پاك وعده ده قرآن پاك کښې راځی: "د مصیبت نه پس راحت وی." د الله پاك نعمتونه د شمار نه بهر دی. حق تعالیٰ فرمائی:



ذاتِ واحد وی. او ټول مخلوق د خدائے تعالیٰ په حضور کښې داسے عاجزه او کمزوره لکه یو غلام چه دیو لوئے وسیع السلطنت، صاحبِ عظمت او قهرناك بادشاه په تحویل کښې وی.

د خالق اختیارات مخلوق ته مهٔ سپاره. او مخلوق سره هغه توقعات مه وابسته کوه کوم چه صرف خالق سره زیب لری. او د الله تعالیٰ نه پناه غواړه، د توحید نه پس د مشرك کیدو نه د زړهٔ د رنړا نه پس د تیرے نه د وصل نه پس د قطعے نه د قرب نه پس د بُعد نه، د هدایت نه پس د ضلالت نه، او د ایمان نه پس د کفر نه.

دنیا د او بو دیو لوئے نهر په مثل ده چه د دے کښې ورځ په ورځ اضافه کیږی. او او بهٔ ئے د بنی آدمو نفسانی شهوات دی، چه د هغوئ په طبائعو مسلط دی. خو دا شهوات د آفتونو نه ډك دی. هر کله چه یو صاحب بصیرت د آخرت د نعمتونو په مقابله کښې د دنیا لذتونو ته د عبرت په نظر اوګوری، نو کهٔ هغه د ایمان نور لری. نو پوه به شی. چه حقیقی او قابلِ اعتماد ژوند د آخرت ژوند دے. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْاٰخِرَةِ (که عیش دے نو هغه د آخرت عیش دے) او دغه د مؤمنانو او متقیانو خلقو د پاره خاص دے. او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دنیا د مؤمن د پاره جیل خانه ده،

.کهٔ تاسو د الله تعالیٰ نعمتونه شمارکول اُوغواړئ. نو هرګز به ئے شمار نهٔ کړے شئ". نو هرکله چه د الله تعالیٰ دومره نعمتونه د نوع انسانی دپاره مقدر دی چه ته په هغه احاطه هم نشے کولے نو د هغهٔ د بخشش او رحمت نه هم هرګز نا اُمیده کیږه مه. او د خالق نه علاوه مخلوق سره باطنی ربط او تعلق مهٔ ساته. ستا محبت دِ خالص د هغهٔ دپاره وی. کهٔ څهٔ حاجت دِ وی نو د هغهٔ په حضور کښ دِ وی. او کهٔ دِ څهٔ قسم ګِله او شکایت وی، نو صرف د هغهٔ په مخکښ دِ وی ځکه چه دنیا کښ څومره او د کوم نوعیت کارکوونکی او کاروَن چه دی، هغه ټول د هغهٔ په حکم ظاهر او جاری دی. کوم څیز چه الله تعالیٰ مقدم کړے دے. هغه څوك مؤخر کولے نشی او کوم ئے چه مؤخر کړے دے هغه څوك مقدم کولے نشی.

الله پاك فرمائی :" کهٔ د الله د جانب نه تا ته څهٔ نقصان اورسی. نو د هغهٔ د ذات نه علاوه بل څوك د هغے لرے کولے نشته. او کهٔ هغه درته د څه ښیګڼے او فائدے اراده اوکړی نو هیڅوك درته د هغهٔ فضل و کرم منع کولے نشی". او کهٔ د الله د نعمتونو باوجود ناشکری وکړے او د الله ګله او شکایت کوے نو ظاهره ده چه تهٔ په نعمت شکر نه اوباسے. او د هغه نعمتونو ته دِ سپك اوکتل. په دا سے حالت کښ به الله پاك په تا غضب ناك شی (استغفرالله)



اوسزا به اوخورے. نو د تقدیر نه ګِله او شکایت مهٔ کوه. او د مشیّت الٰهی خلاف شور او غوغا مهٔ کوه. ځکه چه دِیر مصیبتونه دا سے دی، چه هغه په انسان د پروردګار نه د شکایت کولو په وجه نازلیږی.

زهٔ حیران یم چه تهٔ د هغه پروردګار نه شکایت څنګه کوے؟ چه هغه ارحم الراحمین دے. خیر الحاکمین دے. فیاض او کریم دے. په بندیانو ئے رحمتونه او بخششونه دی. او په هغوئ د مور و پلار نه هم زیات مشفق او مهربان دے. لکه چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی: الله تعالیٰ په خپلو بندیانو د دے نه هم زیات مهربان دے څومره چه مور و پلار په اولاد مهربانه وی // نو تهٔ هم د هر لحاظ نه د الله پاك احکامو ته سرکیږده. او په ژوند کښ چه کوم مصیبتونه درپیښیږی په هغے صبر او تحمل کوه او د الله تعالیٰ نه د عفو او کرم سوال کوه. ځکه چه په توبه کولو او عفو غوښتلو الله پاك معافی کوونکے او د مشکلاتو رفع کوونکے دے.

خپله رضا د الله تعالیٰ په رضا کښ فنا کړه. او کوم واقعات چه ته په ظاهره ښه نه محسوسیے د هغے متعلق هم افسوس او شکایت مه کوه تا د الله تعالیٰ دا ارشاد نهٔ دے اوریدلے. اے مؤمنانو! په تاسو جهاد فرض کړے شوے دے. اګر کهٔ تاسو ته هغه ښهٔ نهٔ ښکاری. کیدے شی، چه یو شے تاسو



نهٔ خوښیٔ. خو حقیقت کښ هغه ستاسو دپاره فائده مند وی. او عین ممکنه ده چه یو شے تاسو خوښوئ او هغه کښ ستاسو دپاره نقصان وی. نو په حقیقت حال صرف الله پوهیږی؛ نو د ګِلے او شکایت په وجه به د اشیاؤ حقیقت الله تعالیٰ تاسو نه په حجاب کښ کړی. په دے وجه ته هیڅ څیز ته بد مه وایه او د هیڅ واقعے شکایت مهٔ کوه. بلکه د شرع پیروی اختیار کړه.

د سلوك په لارکښ رومبے قدم تقوٰی ده او دوئم قدم ولایت دے. او ترڅو چه مکمله تقوٰی اختیار نهٔ کړے شی نو دَ ولایت درجه حاصلول ناشونی دی. په دے درجه کښ د امرِ باطن متابعت او د خواهشات نفسانی رد لازمی دے. بیا تهٔ همیشه افعال الٰهیه سره رضامند اوسه او د تسلیم د رضا د حالت نه ابدالیّت، غوثیت او صدیقیت کښ فنا شه. ځکه چه دا د طریقت او حقیقت انتها ده. هرکله چه تهٔ دا مسلك اختیار کړے. نو الله تعالیٰ به ستا زړهٔ مطمئن او باراور کړی. او کهٔ یو شر ستا په مقدر کښ وی. نو په خپل خاص رحمت به د هغے اثر تا نه لرے کړی او ستا حافظ او مددګار به شی.

لکه د تیرے شپے نه پس چه رڼا ورځ راځی. او د دنیا هر تاریك ګټ د نمر په نور روښانه شی. د هغه نفس انسانی په قسم قسم ګناهونو کښ ککړ دے. او د الله تعالیٰ د مقدس



قُرب صلاحیت نهٔ لری، ترڅو چه د فسق او فجور او د شرك د غلاظت نه پاك نشی. نو د شریعت د رونه مصیبتونه هم د انسان د ګناهونو کفاره ده چه د انسان باطن صفا کوی او قلب او دماغ کښ د توحید او معرفت تجلیات پیدا کوی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی :" د مؤمن د یو ورځ تبه د هغهٔ د ټول کال د ګناهونو کفاره ده":

## مقاله (۱۹) د ایمان درجے

کهٔ تهٔ د الله د رحمت نه نا امیده کیږے نو پوه شه چه ستا یقین او ایمان ډیر کمزورے دے. کهٔ الله تعالیٰ چه د خپل اطاعت شرط سره کومے وعدے کړے دی. هغه هیڅرے د هغے خلاف ورزی نهٔ کوی او کله چه ستا په زړهٔ کښ یقین او ایمان محکم شی، نو الله تعالیٰ به تا په دے خطاب سرفراز کړی. د نن ورځے نه تهٔ زمونږ محبوب او مقرب شوے او زمونږ رحمتونه به ستا استقبال ته راځی." دا خطاب به تا ته بار بار کیږی.

بیا به ته د خدا ے د برګزیده بندیانو نه شے. د ایمان دے درجے ته چه را اورسے، نو بیا به ستا هیڅ ذاتی اراده او مطلب باقی پاتے نهٔ شی. او د الله د اراد ے په موافقت کښ به روحانی نور او سرور محسوسوے اوس ته د الله نه سِوا د ټولو نورو څیزونو نه بے نیازه او بے رغبته شوے او د شرك د ټولو فتنو نه محفوظ. اوس به تا د الله د طرفه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیم او رضاد مرتبې پېژن ونه کېږي. او دهغه دحمایت اوخوشنودئ به د ربسره وعده او د الله تعالیٰ ظاهري او باطني نعمتونه به ستاد پاره بس بسیاره شي.

د دې نه پس به د کلام الله علوم او معارف ستا په چشم بصیرت ښه ښکاره شي او د هغه په رڼا کښ به ته د الله د ذات او صفاتو مشاهده کوې. بیا د الله د رومبۍ وعدې نه ستاد منتقل کیدو چه کوم مدارج او منازل دي د هغې نه به ته اګاه کړې شې او ستا په باطني تجلیاتو کښ به اضافه اوکړې شي. د خدائې د طرفه به تا ته شرح صدر (د حق او ریدلو او قبلولو د پاره د سینې پراخیدل) حاصل شي. او ستا کلام به د حکمت نه معمور کړې شي.

بیا به دنیا او عقبیٰ کښ جن او انس ټولو مخلوقاتو کښ ته محبوب او محترم کړې شې. ځکه چه د الله تعالیٰ اتباع سره تا مخلوق تابع کړل. او د الله محبت د مخلوق د محبت او د هغه بغض د مخلوق د بُغض ضامن دے. بیا چه دنیا کښ تا د کومو څیزونو خواهش کړے دے. او تا ته په کوتو نهٔ وی درغلی نو د هغې د بدلے نه بدله معاوضه به تا ته په آخرت کښ درکړې شي. د الله تعالیٰ قرب به ستا نصیب شي او د جنت الماویٰ په ټولو اعلیٰ نعمتونو به ښاد شې.

کهٔ د دې فاني دنیا کښ تا د نفس د لذاتو او خواهشاتو



نه ډډه اوکړه. او خپل مقصود د خالصهٔ خپل معبود برحق اوګرځولو نو د توحید د دې جذبے په برکت به الله تعالیٰ تا په دنیا کښ د خپلو فراوانه حلال نعمتونو نه فیض یاب کړي. او عقبیٰ کښ به د د موحدینو او صالحینو سره اوچته درجے نصیب کړي.

## مقاله (۲۰) مشکوک او مشتبه څیزونه ترک کړه

حدیث شریف دے، ،دَعْ مَا یُرِیْبُكَ، (چه په کوم څیز شک راځي هغه ترک کړه) نو دا اصول یقیني طور سره د حلال رزق د حاصلولو او د حرامونه د بچ کیدو د پاره د پراهم او د عمل قابل دی. او په کار دی، چه هر هغه څیز چه د هغې د حراموا وحلالو متعلق ستا په زړهٔ کښ څهٔ تذبذب او بے اطمینانی پیدا شي نو هغه دا سے اوګڼړه چه هلو شته نه. په دا سے حالاتو کښ ته بارګاه خداوندی ته رجوع کوه. او د خپل پروردګار نه د حلال رزق طلب کوه.

د الله پاك وعده ده: ،إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا (د تکلیف نه پس راحت دے). او هغه د دے محتاج نهٔ دے، چه هغهٔ ته وعده وریاده کړے شي. هغه ستا او ستا د احوالو نه بے خبره نهٔ دے. هغه خودا سے پروردګار عالم دے چه کفارو منافقینو او فاسقانو ته هم رزق ورکوی. نو بیا اے مؤمنه! او اے موحده! او اے د خدائے عبادت کونکیه! هغه به تا څنګه هیر کړي. او د دے حدیث ،، دَعْ مَا یُرِیْبُكَ، (چه په



کوم څیز ستا شک راځي، هغه ترك کړه.) دا معنیٰ دی چه د مخلوقاتو د صدقاتو او عطیاتو خواهش مهٔ ساته او مه د هغوئ نه خوف کوه ځکه چه دا هم شرك دے او د شرك نه به زیات مکروه او مشتبه بل کوم څیز وي. نو د الله په فضل وکرم تکیه لره او د هغه درکړے رزق به ضرور تا ته دررسي. نو پکار دی چه ستا د طلب او توجه مرکز یووی او هغه ستا هغه خالق او پروردګار دے چه د هغه دقدرت په لاس کښ د باد شاهانو سلطنتونه او د ټول مخلوق بد نونه او زړونه پراته دی.

مخلوق سره چه څهٔ دی د هغهٔ دی او تا ته رزق او عطیات هم د هغه په اذن، حکم او تحریک درکولے شي. الله پاك په خپل مقدس کتاب کښ فرمائي: ،وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ، (د الله نه د هغهٔ د فضل طلب کوئ) او الله سبحانه فرمائي. د الله نه بیوا چه څوك تاسو بلئ هغوئ ستاسو د رزق مالکان نهٔ دی. نو د یو الله نه د رزق طلب کوئ. د هغه عبادت کوئ. او د هغه شکر اوباسئ.

الله پاك فرمائي: ،، اے نبیٌ! چه زما بندیان ځما متعلق تا نه تپوس اوکړي نو ورته اووایه، چه زهٔ هغوئ ته ډیر قریب یم. او کوم وخت چه څوك ما بلي نو زهٔ د هغوئ دُعا قبلوم. او الله تبارك وتعالیٰ فرمائي ځما نه دُعا غواړئ زهٔ ستاسو دُعا قبلونکے یم او الله جل وشانه فرمائي: ،، ستاسو



حقیقي رازق الله تعالیٰ دے چه د قوت او طاقت خاوند دے او بل آیت شریف دے ،، إِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ (د الله چه چا ته خوښه وي هغهٔ ته بے حسابه رزق ورکوی).

## مقاله (۲۱) خوب کښ ابلیس سره خبرے

یو ځل ما ابلیس علیه اللعنت په خوب کښ اولید او د هغه د وژلو اراده م اوکړه. هغه راته اووے، چه ته ما په څهٔ وژنے. او ځما ګناه څهٔ ده؟ کهٔ د الله تعالیٰ د ارادے مطابق ځما په تقدیر کښ شر لیکلے دے نو ځما دا طاقت نشته، چه هغه په خیر کښ بدل کړم، او که ځما په تقدیر کښ خیر لیکلے وے نو دا ځما د اختیار نه بهر ده چه هغه ما په شر کښ بدل کړے وے. نو هر کله چه زهٔ د الله تعالیٰ د ارادے مخکښ عاجز او معذور یم. نو ما په لعنت ملامت کول څنګه جائز کیدے شي.

د هغهٔ (ابلیس) شکل د هیجړاګانو په شان وو. او په خبرو کښ ئے نرمي او سستي وه. او ږیره د مخ ئے وڅوه او په زنه ئے څو د کی وینته وو. شرمنده شکل او ملامت

سلے دغه د ابلیس خبیث د ځان خلاصی یوه بے بنیاده او جوته بهانه ده. چه صرف عام خلق پرے تیریاسی. ځکه چه د عوامو ګمراه کولو اصل جړ هم دغه دے. او لکه څنګه چه نور مفسدان او ضرر رسونکي خلق د سزا مستحق وی دغه شان د ا ملعون هم د سزا مستحق دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت وو. او دیوه وړوکي او ذلیل سړي په شان ځما څنګښ ولاړ وو.

دا خوب ما د ذي الحجې په یوولسم تاریخ په ۵۲۹ه کښ دا توار په ورځ لیدلے وو.

## مقاله (۲۲) د لویو خلقو ازمائش هم لوئې وي

دا د الله پاك معمول دے چه هغه خپل مؤمن بنده د هغهٔ د ایمان مطابق په ازمائش کښ اچوي. د چا چه ایمان زیات وي هغومره به پرے ازمائش هم زیات راځي. د ایمان په درجو چه غور اوکړے، نو د رسول[1] ابتلا او ازمائش د نبي[2] د ابتلاء نه زیات وي ځکه چه د رسول ایمان د نبي د ایمان نه زیات قوي وي بیا د هر نبي ازمائش د ابدال نه او د هر ابدال ازمائش د ولي نه زیات وي.

د غه شان درجه په درجه په آزمائش کښ کمي راځي او مؤمن د ایمان مطابق په ابتلاء کښ اچولے شي. او په دے خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد سند دے چه د ټولو نه زیات آفتونه او ابتلاء د نبیانو په ډله نازلیږي او د انبیاؤ نه پس درجه په درجه په نورو مخلوق.

1. رسول هغه پیغمبر وي چه د خدائي مذهب کتاب پرے نازل شوے وي. لکه محمد رسول الله صلعم، عیسی علیه السلام موسی علیه السلام او داؤد علیه السلام
2. نبي هغه پیغمبر وي چه کتاب پرے نه نازلیږي، بلکه د حق ورته کیږي. د نبي لفظ د رسول د پاره هم استعمالیږي.



د غه وجه ده، چه الله تعالی سادات کرام همیشه په ابتلاء کښ ساتي. د پاره د دے، چه دوئ همیشه د الله تعالی په قرب او حضور کښ وي. او د حق د مشاهدے نه لرے نهٔ وي. ځکه چه دوئ د الله جل جلاله محبوب او پسندیده دي. او محب د خپل محبوب جدائي هرګز برداشت کولے نشي. ابتلاء همیشه د دوئ زړونه حق ته مائل ساتي. او دوئ د حق تعالی نه لرے کیدو ته نهٔ پریږدي.

د دے کیفیت سره د دوئ نفساني خواهشات محو شي. او غیر الله نه د دوئ رغبت او توجه واوړي. دوئ حق او باطل واضحه پیژني. او د نفس په آفاتو کښ نهٔ کښیوزي. د حق په وعدو دوئ ته اطمینان حاصل وي. او هر وخت صبر او شکر سره د خدائے په رضا راضي وي. او د خلق خدا د شر نه محفوظ وي. د دوئ قلب د تعلق بالله په وجه محکم او توانا وي. او په ټولو اعضاؤ ورته حکومت او تسلط حاصل وي.

د تسلیم او رضا په وجه دوئ ته د زیات عمل توفیق ور کولے شي. او د زیاتو درجو پېرزوینه پرے کولے شي. الله پاك فرمائي: "که تاسو ځما شکر اوباسئ نو زه به زیات نعمتونه درکوم". ولے هرکله چه نفس انساني محض د هوا وهوس اتباع اختیار کړي. او د لذت پرستار شي. نو د امر الٰهي د اتباع نه په منزلونو لرے شي، او غفلت



او معصیت کښ کښیوزي. په داسے حالت کښ ځان ته مائل کولو او په سمه کار کولو د پاره الله تعالی په دهٔ آفات او بلیات نازل کړي چه هغه سره د قلب او باطن فوري اصلاح اوشي. بعضے اوقات د رهنمائي د الهام او القاء په ذریعه هم چه د هغه په وجه الله تعالی په خپلو انوارو او تجلیاتو د مؤمن زړهٔ روښانه کوي. د نفس د فتنو نه بچ کوي. او د خپل قرب او معرفت نه ئے فیض یاب کوي.

زهٔ تاسو ته دا نصیحت کوم، چه د نفس په اتباع کښ ځانله د مصیبتونو او آفتونو سامان مهٔ تیاروئ بلکه د امر الٰهي پیروي اختیارکړئ. او د الله پاك په ذکر او تسبیح کښ همیشګي کوئ. چه د هغهٔ تائید او نصرت حاصل کړے. او دنیا او عقبٰی کښ پرے خلاصے بیامومئ.

## مقاله (۲۳) په نعمتونو شکر ایستل

الله تعالی چه د کوم څیزونو په تا پیرزوینه کړے ده. په هغه صبر او شکر کوه. او ناشکري مهٔ کوه چه د خدائے په غضب کښ راګیر نشے. د شکر ادا کولو یوه ادنٰی فائده داده چه په دے د رزق زیاتیږي صحت او عافیت پرے حاصلیږي. او د دنیا او عقبٰی سختي پرے د انسان نه لرے کیږي.

یاد ساته، چه په خدائے تعالی د توکل کوے، نو بیا



د طلب نه به الله تعالی تاته رزق درکوي. او ستا ضرورتیا به پوره کوي. نو صبر او شکر اختیار کړه. او خپل حال او اطمینان په هیڅ وجه مه برباد وه. ستا هر حرکت، سکوت او فعل د الله د حکم ماتحت وي. ګني نو ته به په فاسقانو او نفس پرست بندیانو کښي شامل کړے شے. کوم چه په خپل ځان او په نورو خلقو هیڅ بے هیڅه ظلم کوي. الله پاك فرمائي "د غه رنګ د نافرمانئ په وجه مونږ بعضے ظالمان بعضے نورو ظالمانو ته حواله کوو".

طاعت او عبادت په دے لازمي دے چه ته د یو داسے شهنشاه په محل کښ د هغهٔ په حضور کښ ولاړ ئے چه هغه د حکم شان وشوکت، هیبت او جرار لښکر خاوند دے. د هغه حکم جاري او یقیني دے. د هغه ملك باقي او غیر فاني دے. د هغه فرمان دائمي دے. د هغه علم دقیق او کامل دے. د هغهٔ حکمت لوئے دے او عدل ئے لا ثاني او د هغهٔ د تدبیر او تنظیم نه د زمکے او آسمانونو هیڅ ورکے نه ورکے او لویهٔ نه لوئے څیز هم د خلاف ورزئ کولو جرأت نشي کولے.

هرکله چه ته شرك شروع کړے نو یقین اوکړه چه ته د ظالمانو نه هم زیات خراب شوے ځکه چه قرآن پاك کښ ښکاره راغلے دي چه: "شرك د ټولو نه لوئے ظلم دے".

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دے بنا ئے شرك یو نه معاف کیدونکے گناه گرځولے ده۔ الله سبحانهٔ فرمائی :" الله به د شرك گناه هرګز معاف نهٔ کړی۔ او د شرك نه علاوه چه کوم گناهونه معاف کول اوغواړی هغه به معاف کړی۔" نو تاله پکار دی، چه ډیر احتیاط سره د پټ او ښکاره شرك نه ځان اوساتے۔

په پټه او په ښکاره هر ځائے کښې او هیڅ قول او فعل کښې د شرك نه پرهیز او کړه د ظاهر او باطن گناهونو نه لاس په سر شه۔ او الله تعالیٰ ته په عاجزئ سره رجوع او کړه۔ او د هغهٔ نه تهٔ تښته مه کوه۔ او د هغه په احکامو کښې بحث، جدل او تصرف مه کوه گنی سزا به او خورے۔ هغه مه هیروه گنی هغه به هم هیر کړی۔ د هغهٔ په دین کښې نوے او د ځان نه خبره مهٔ پیدا کوه۔ گنی د هغهٔ په عذاب کښې به واچولے شے۔

د نفس تابعداری پریږده گنی نو رهٔ به دے تورغی او ایمان به دے سلب شی۔ په دے وجه د نفس اتباع خپله شرك دے۔ او د هغے نتیجه په دواړه جهانه ذلت او رسوائی ده۔ الله پاك خپل پیغمبر ته فرمائی :" تا د هغے سړی انجام او نهٔ کتهٔ۔ چه خپل نفس ئے معبود جوړ کړ (یعنی کوم سړی چه د خپل نفس د خواهشاتو پیروی را واخسته۔ نو دنیا ئے هم تباه شو او آخرت ئے هم تباه شو۔)۔



## مقاله (۲۴) ماسِوَ الله فتنے دی

د الله تعالیٰ د نافرمانئ نه ویره او کړه۔ او صدق او اخلاص سره د هغه اطاعت گزار شه۔ د خپل پروردگار مخکښې عاجزی اختیار کړه۔ او د الله تعالیٰ په عبادت کښې د هیڅ څیز غرض او آرزو مهٔ شاملوه۔ گنی د غه عبادت به د خالص د الله پاك د پاره نهٔ وی۔

په دے خبره یقین اوساته۔ چه تهٔ په ظاهره او باطنه د الله تعالیٰ بنده ئے۔ او بنده د هر جهت نه د خپل خالق او پروردگار ملکیت دے۔ نو هر وخت د خپل معبود په حضور کښې مؤدب او فرمانبردار اوسه۔ دنیا کښې چه الله تعالیٰ د مخلوقاتو د پاره کومه اندازه مقرر کړے ده۔ هغے کمی بیشی یا تقدیم تاخیر نشی کیدے۔ هر څهٔ چه الله تعالیٰ ستا د پاره مقرر کړے دی۔ خواه ته ئے هغه غواړے یا نهٔ غواړے هغه به په خپله اندازه او مقرر وخت تا ته دررسی۔ نو کوم څیز چه تا ته په گوتو در نشی په هغے افسوس مهٔ کوه۔ او کوم څیز چه درسره موجود دے۔ په هغے د الله پاك د ذکر نه غافل کیږه مه۔ کوم څیزونه چه علم الٰهی کښې ستا د پاره مقرر شوی دی۔ هغه بل چا ته نشی ورکیدے۔ نو د رزق په معامله کښې پریشانی څهٔ معنیٰ نهٔ لری۔

حاضر وخت په ذکر او عبادت کښې کامل محوّیت



او یکسوئی سره مشغول اوسه۔ او غیر الله ته د ومره توجه مهٔ کوه، چه د شرك گمان درباندے اوشی۔ الله پاك خپل کلام مقدس کښې فرمائی :" اے پیغمبره! ته هغے څیزونو ته د ومره رغبت سره مهٔ گوره، کوم چه مونږ کفارو له ورکړے دی۔ هغه خو د دے د پاره ورکړے شوے دی چه هغوئی په فتنو کښې واچولے شی۔ او ستا د پروردگار رزق ډیر بهتر او پائیدار دے۔" نو الله پاك چه د شریعت او روحانیت کوم ظاهری او باطنی نعمتونه تا ته درکړے دی۔ په هغے شاکر شه، او غیر الله ته د مقروب کیدو نه منع شه۔ ځکه چه غیرالله کښې سراسر فتنے دی۔ او په دے بنا الله پاك کفار او منافقین په قسم قسم فتنو کښې اچولے دی۔

د الله په نعمتونو قانع کیدلو کښې ستا د پاره برکت او سعادت دے۔ ته به خپل مقصود او مطلوب صرف د خپل معبود واحد په اطاعت بیاموے۔ او په دے به دنیا او عقبیٰ کښې عزت حاصل کړے۔ او درجات به د اوچت کړے شی۔ نو تاله پکار دی۔ چه پنځه فرائض یعنی کلمهٔ طیبه اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه، مونځ، زکوٰة، روژه، حج په مکمله طریقه ادا کړے او د ممنوعاتو نه پرهیز اوکړے۔ د الله پاك په نزد د دغے طریق عمل نه زیات بل محبوب او غوره څیز نشته۔

الله پاك د مونږ ټولو له د خپل تائید او نصرت په



برکت د هغے اعمالو توفیق را کړی۔ کوم چه د هغه په نزد محبوب او مقبول دی۔ او دنیا او عقبیٰ کښې پرے خلاصے بیاموند شی۔ آمین۔

## مقاله (۲۵) ایمان د هر څهٔ نه لوئے نعمت دے

که په ژوند کښې حالات تاسره موافقت اونهٔ کړی او د مصیبتونو په وجه تهٔ د بے اطمینانئ او پریشانئ ښکار شے۔ نو په بے صبرئ د اگله او شکایت مهٔ کوه۔ چه زهٔ الله تعالیٰ نادار او محتاجه پیدا کړے یم۔ په ما ئے مصیبتونه راوستی دی، او اغیار په عیش او آرام کښې دی۔ او هر کله چه مونږ ټول د بابا آدم او د بی بی حوا اولاد یو۔ او په خدائی حقوقو کښې برابر یو۔ نو بیا زهٔ د دے د نورو نه لاندے یم۔ نو عین ممکنه ده چه دا ابتلاء او مصیبت د الله تعالیٰ د طرف نه ستا د دے د بلندئ خوشحالئ سکون او اطمینانِ قلب د پاره وی۔ او هم د دے په ذریعه هغه تا ته ظاهری او باطنی ترقی درکول غواړی۔

ته ابتلاء کښې په دے واچولے شوے چه ستا سره بنهٔ دے او خدائے تعالیٰ دے د صبر او رضا په وجه مشکلات او پریشانی لرے کول غواړی۔ ستاد محکم ایمان ونه داسے ده چه د هغے جړ مضبوط دے۔ هغه په تو کیده ده۔ او په میوه را تلونکے ده۔ د هغے څانگے او چیتیدونکے دی او سورے ئے خوریدونکے دے۔ ستا د ایمان دا اونه د

الله تعالیٰ د و سیع رحمت په وجه ورځ په ورځ مخ په ترقیٔ ده. ستا موجوده حالت الله پاك په دُنیا او عقبیٰ کښ ستاد فلاح وبهبود باعث جوړ کړے دے. او په تا ئے د هغه نعمتونو پیر زوئه کړے ده، چه نه یوے سترګے لیدلے دی او نه یو غوږ اوریدلے دی الله پاك فرمائی :" یو سړے ته هم دا نهٔ ده معلومه چه د هغه د نیک اعمالو په بدل کښ د هغه د پاره کوم کوم زړهٔ خوږوونکی څیزونه پټ او محفوظ ایښودے شوے دی"۔

کوم خلق چه د خدا ئے تعالیٰ احکام په ځائے راوړی. د ګناهونو نه ډډه کوی. او په ټولو امورو کښ د الله تعالیٰ رضا اختیاروی. نو د دنیا او اخرت ټول سعادتونه هم د دوئ د پاره دی. د دوئ اطمینان قلب به هیچرے فنا نهٔ شی. د دے برعکس چه کوم خلق د خپل خالق او معبود نه روګردانی کوی. او یوازے دنیا خپل محبود او مسجود ګرځوی. د هغهٔ مثال د هغے شوره زمکے دے چه او به خور هغے ته هیڅ فائده نهٔ شی ورکولے. هغه کښ هیڅ ونه نشی زرغونیدے. او د هیڅ میوے ترے اُمید نشی کیدے او هیڅ کرکیله پکښ نشی کیدے. دا صورت حال دانسان د خپل غفلت او معصیت د وجه نه دے. ګنی الله تعالیٰ خو په خپل بنده مشفق او مهربان دے. او د هغهٔ ترقی او سیرازی غواړی۔



ایمان محکم د بنده د پاره د ټولو دنیوی او اخروی سعادتونو سرچشمه ده نو ا ے د حق بنده پوه شه چه د دنیا پرستو په ایمان کښ هغه تازګی او توانائی نشته په کوم چه الله تعالیٰ ستاد ایمان او نه بنائسته کړے ده. دا یو مستقل او لا فانی قوت دے. چه د زمانے تغیرات ئے هرګز متأثره کولے نشی. کهٔ د انسان د ژوند د اونے نه د ایمان عنصر ورك شی، نو دا به بالکل خشکه او برباده پاتے شی. نو په دنیا کښ چه څومره اجتماعی ترقی او برکتونه دی دا ټول د ایمان د نعمت ثمرات دی. او کوم خلق چه د ایمان نه خالی دی. هغوئ د قرآن کریم دوینا مطابق کافر، مرتدا مقهور او مغضوب دی. او دنیا او اخرت دواړو کښ ذلیل او خوار دی۔

داسے هم کیږی. چه الله تعالیٰ اوغواړی نو په خپل هدایت، مدد او نصرت دنیا پرست اغیار هم په محکم ایمان او د صبر او رضا په نعمتونو ښاد کړی. هغوئ خپل مقربان کړی. او اولیاء الله کښ ئے شامل کړی. تاریخ په دے ګواه دے چه هغه خلق چه هر وخت به په غیر الله کښ محو او ورك وُو. د توحید د عرفان نه پس داسے فنا فی الله شو چه بیا د یوے لمحے د پاره هم غیر الله ته متوجه نشو. الله پاك دِ په فضل وکرم څموږ ایمان محکم او توانا کړی. او موږ دِ په صراط مستقیم روان کړی. آمین۔



## مقاله (۲۶) قرب الٰهی په صبر او رضا کښ دے

خپل خالق سره د کامل ربط او عشق پیدا کولو د پاره د مخلوقاتو نه تعلق قطع کړه او د خپل معبود حقیقی د خپلو حاجاتو او ضروریاتو مرجع اوګرځوه چه ستا د پاره صرف د پروردګار د اراده او اطاعت باقی پاتے شی. او د شرك د اسبابو نه ورکار شه داسے حالت کښ به ستازړهٔ د نور نه معموره شی او د غیر الله د پاره به هیڅ ګنجائش پکښ پاتے نشی. دغه وخت به تهٔ د توحید د عقیدے خپله نګهبان شه. او په کائناتو کښ چه کوم څیز ستاد توحید په عقیده کښ دخل انداز کیږی هغه به نیست و نابود کړے.

بیا به ستا خواهشات نفس هم ستا خلاف بغاوت نشی کولے. او تهٔ به په کامل سکون او اطمینان سره ژوند تیروے. دغه وخت به د کلام الله نه سوا بل هیڅ کلام ته اوریدل نهٔ غواړے. او د ذات الٰهی د مشاهدے نه علاوه به د بل هیڅ څیز مشاهده نهٔ غواړے. ستا پیروی به صرف د احکام الٰهی پیروی وی. او هر فعل به دِ د هغهٔ د رضا ماتحت وی. او د هغے په تعمیل کښ به تهٔ د صبر او استقامت نه کار اخستونکے ئے. هرکله چه تا ته دا مرتبه حاصله شی. نو ستا قلب کښ به خپله الله پاك د یقین او اطمینان محافظ شی. په تا به د حقیقت او توحید معارف راڅرګند کړی. او د شیطان او نفس اماره وسوسے او وهمونه



به تا ته هیڅ ضرر نشی دررسولے۔

کهٔ پروردګار داسے اوغواړی چه مخلوق خدا ستا علمی او روحانی فیوضاتو او برکاتو نه اخستو د پاره تا ته راجمع شی. او ستا تعظیم او تکریم اوکړی. نو په هغوئ د اثر، رسوخ او مقبولیت باوجود به الله تعالیٰ تا د فخر او تکبر نه په امان ساتی. کهٔ د اسے حالت کښ ته د یوے نیکے ښځے خاوند شے. نو دا به د الله پاك د جانب نه په تا پورے نو وی چه د ژوند ټول ضروریات به هغهٔ په خپله برابروی او تا ته به د هغے نه او د هغے د خپلو خپلوانو نه هیڅ ضرر نه رسی. دا به ستا د طبع موافق او فرمانبرداره وی. او ستا په حق کښ د خدا ئے په مدد د مکر وفریب، بغض کینے، غیض وغضب او خیانت نه بالکل پاکه وی. او د هغے خپلوان به ستا فرمانبردار وی۔

د دغے ښځے نه کهٔ دِ فرزند پیدا شی. نو هغه به نیک راستباز، اطاعت شعار او ستاد زړهٔ د خوږ بډو وی. ځکه چه د ښځے او اولاد متقی کیدل د الله تعالیٰ د پیرلوئے نعمت دے. الله پاك د حضرت زکریا علیه السلام متعلق فرمائی " موږ د زکریا علیه السلام ښځه د هغه د پاره نیکه کړه " او په کلام الله کښ د صالحینو دُعا داسے راغلے ده " اے خدایه څموږ سترګے څموږ په ښځو او اولاد یخے کړے. او موږ د متقیانو پیشوایان کړے". او د حضرت زکریا علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دُعا ده ۱۰ اے پروردګاره ! ځما دا خوځ خپل محبوب او مقبول اوګرځوے ، نو دا بے دعا ګانے به ستا په حق کښې مقبولے ګرځی ځکه چه اهل خلقو ته ددے دعاګانو برکت ضرور رسی -

دانبیاؤ علیهم السلام نه پس د بنو بنځو او متقی اولاد مستحق هغه خلق دی چه علم الٰهی کښې ددے درجے اهل دی - د دے نه علاوه چه کوم څیزونه ستا مقدر کښې دی ، هغه به ضرور تا ته دررسی - د هغې د پاره ستا پریشانۍ څه معنیٰ نهٔ لری ځکه چه هغه خو دی هم ستا د پاره - د دے حال کښې به تهٔ د حکم الٰهی په ځائے راوړونکے ئے - او په دے طریقه د نعمت په موند و به هم تا ته لوے ثواب حاصلیږی - او کوم نعمتونه چه تا ته الله تعالٰی درکوی - په هغې کښې به غریبانو ، محتاجانو او نورو مستحقینو ته د خپلے حصے ورکولو تا ته حکم درکولے شی - او د الله فی سبیل الله خرچ به هم ستا د پاره د نعمت د زیاتی باعث وی - بیا به ستا ټول ظاهری او باطنی معاملات بالکل پاک او روښانه وی -

د دے ټولو نعمتونو په حاصلولو کښې صبر ، رضا ، عجز او انکساری خپل شعار جوړ کړه - د الله تعالٰی د احکامو پیروی کوه او د منهیاتو نه ډډه اوکړه د دے په برکت به ته د ټولو مصیبتونو نه په امن شے او د زړه د اطمینان



ټولے ذریعے به درته حاصلے شی - د الله پاک رحمت به په تا خور شی - او د جهل او باطل تاریکۍ به درنه لرے شی - او اسرار الٰهی به تا ته ښکاره شی او ستا سینه به د علم لدنّی نه معموره ، او پُر نوره شی - تا سره به غائبانه او د الهام په ذریعه خبرے کیږی او ټولو حق امورو کښې به نه یره او تکره شے - او په دے الفاظو به مخاطب کولے شے ؛ نن ورځ تهٔ زمونږ په دربار کښې د خاص قدر او عزت خاوند ئے او زمونږ د ظاهری او باطنی نعمتونو امانت دار ئے دے وخت کښې تهٔ د حضرت یوسف علیه السلام هغه رښتینے حال ته راوړاندے کړه - د شاهِ مصر په ژبه یوسف علیه السلام هم په دغے الفاظو مخاطب کړے شوے وو - لیکن حقیقت کښې د صدق او معرفت خاوند یوسف علیه السلام سره خطاب کونکے الله پاک وو - چه په ظاهره ئے حضرت یوسف علیه السلام ته د صداقت ، دیانت او تقوٰی په وجه د مصر سلطنت حواله کړ - او په باطنه ئے پرے د علم او معرفت دسیادت او قیادت پیرزوینه اوکړه - الله پاک فرمائی ؛ "دغه رنګ مونږ یوسف علیه السلام ته په زمکه حکومت ورکړ - چه چرته به غوښتل ، هلته به ئے قیام کولو - او د هغهٔ د باطنی صفاتو متعلق فرمائی ؛ " مونږ یوسف علیه السلام په صراط مستقیم ثابت قدم اوساته چه د ګناهونو او فاحشاتو نه بچ شی - بیشکه چه یوسف علیه السلام زمونږ د مخلصانو



بندګانو نه وو -

نو اے د صدق او ایمان خاونده - هرکله چه ته په دغه الفاظو مخاطب کړے شی نو په تا به د لوئے علم یعنی د علم توحید ، علم ذات او علم صفات پیرزوینه اوکړے شی ، او په دے لوئے نعمت به ملائکے او بنیادم ټول تا ته مبارکی درکوی او بیا به د خدائے تعالٰی په اذن کښې د ځنو امورو د عدم نه وجود کښې د راوستلو تا ته توفیق او صلاحیت حاصل شی - او د خدائے په حضور کښې به د دنیا کښې عزت او قیادت بیاموے - او په عقبیٰ کښې به په دیدار الٰهی مشرف شی چه د هغې خوشحالۍ انتها نشته -

## مقاله (۲۷) دخیر اوشر بیان

اګر که خیر او شر په دنیا کښې موجود دے ، او د انسان په کردار او عمل کښې د دے دواړو څیزونو ظهور بیاموندے شی ، خو د اکثرو آیاتِ کریمه ؤ پیش نظرِ د خیر ټول څیزونه د الله پاک د جانب نه دی او د شر ټول څیزونه د ابلیس او د نفسِ انسانی نه دی - نو خیر خو سراسر د الله پاک جانب ته منسوب کیدے شی - خو شر په هیڅ صورت کښې د هغه پاک ذات ته منسوب کیدے نه شی - شر خو نه د هغهٔ په ذات کښې او نه د هغه د جانب نه دے - بلکه دا د نفس امارة نه دے -

الله پاک فرمائی ؛ تا سو ته چه کومه نیکی رسی ، هغه د الله تعالٰی د جانب نه ده - او چه کومه بدی در رسی ، هغه



سراسر ستا سو د خپل نفس نه ده - نو زهٔ به تا سو د دے خبر نه خبر کړم - تاسو ته ئے کوم چه خیر یعنی د توحید او تقوٰی لار اختیار کړئ او شر یعنی د شرک او فسق څیزونه پریږدئ - او حق سبحانه فرمائی ؛ "ځما بندیانو ! د اعمال صالحه په عوض کښې تاسو جنت کښې داخل شئ - سبحان الله ! د الله پاک څومره لوئے رحمت دے - چه بندیان ئے د نیک اعمالو په وجه د جنت مستحق کړل - حالانکه د انیک اعمال هم سراسر د الله تعالٰی د توفیق او نصرت په وجه دی -

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "چه جنت کښې به هیڅوک د خپلو اعمالو په سبب نهٔ داخلیږی ؛ نو د حضور صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوشولو چه یا رسول الله تاسو به هم نه ؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل : چه هو ، زهٔ به هم نه ، مګر د الله تعالٰی د رحمتِ واسعه په برکت دا حدیث د بی بی عائشے صدیقه رض نه روایت دے ، نو زهٔ تاسو ته د شریعت د احترام کولو ، او د راهِ هدایت اختیارولو تاکید کوم -

هرکله چه تهٔ د احکام الٰهی تعمیل او د دستور شریعت احترام اوکړے - نو الله تعالٰی به تا د شر او فساد نه محفوظ اوساتی - د خیر لارے چارے به تا ته روښانه کړی - او شریعت به درته آسان کړی - او د ټولو ګناهونو نه به دې بچ کړی - الله پاک فرمائی ؛ کوم خلق چه زمونږ د پاره کوشش

کوی ، نو مونږ د هغوئی دپاره صراط مستقیم روښانه کوو. او د هغوئی رهنمائی کوو " او په دے بنا د حضرت یوسف علیه السلام متعلق الله پاك فرمائی :" مونږ د هرقسم بدئی او فحش نه یوسف علیه السلام محفوظ کړ .ځکه چه هغه ځما د مخلص بندګانو نه وو. او الله پاك ارشاد فرمائی :" که تاسو ایمان راوړئ. اوشکر اوباسئ نو الله به بیا ولے تاسو له عذاب درکوی ". د دے نه ظاهره شوه چه مؤمن اوشاکر بندیان دنیا کښې هم د مصیبتونو اوآفتونو نه بچ وی .اوآخرت کښې به هم د ذلت او عذاب نه خلاص وی. نو د الله تعالیٰ شکر گذاری کوئی چه د نعمت د زیاتئ باعث ده.

الله پاك فرمائی :" که تاسو شکر اوباسئ ، نو مونږ به موهنتونه لا زیات کړو ". نو اے مؤمن بنده ! هرکله چه ستا د ایمان نور آخرت کښې د دوزخ اور هم مړ کولے شی. نو د نیا کښې د آفاتو او بلیاتو اور ولے مړ نه کړی. هاں د الله تعالیٰ محبوب او برګزیده بندیانو ته چه د نیا کښې کوم مصیبتونه او آفتونه پیښیږی، نو د هغې نه هم د الله تعالیٰ دا مقصد وی چه د هغوئی یقین او ایمان لا محکم کړی. او د خراب عمل او فاسدے عقیدے نه ئے قلب او د ماغ پاك کړی. او دا ابتلاء سره د هغوئی توحید الٰهی، معرفة حق او اسرارِ باطن واضحه او بے نقابه کړی.

زړهٔ یو داسے کور دے .چه هغې کښې دوه تنه نشی ځائے کیدے .حق سبحانه فرمائی :" الله تعالیٰ د یو سړی سینه کښې



دوه زړونه نهٔ دی پیدا کړی ". او الله جل جلاله فرمائی :" باد شاهان چه یو کلی ته ورننوځی ، نو هغه تباه کړی. او د هغې عزت مند ذلیل کړی ". نو د عزت خاوندان د نیوځایونو او نعمتونو نه محروم شی. ځکه چه د دے نه مخکښې په زړهٔ د شیطان او هوا ئے نفس حکومت وو. او د هغوئی حکم سره به اعضاء قسم قسم ګناهونو او ګمراهو کښې ګیر وُو. بیا چه د هغوئی تصرف د زړهٔ نه په تلو شو. او اعضاؤ آرام بیاموند او دار الحکومت یعنی زړهٔ خالی شو. نو د توحید، علم او معرفت مسکن شو. نو د الله تعالیٰ نه علاوه بله هستئ له په زړهٔ کښې ځائے ورکول یو داسے شرك دے، چه د ټولو اعتقادی او عملی خباثتونو جړ دے . د دے برعکس توحید د انسان قلب او ټول اعضاء د ذاتِ باری تعالیٰ د پاره خاص کړی. د هغهٔ سینه د هرقسم خیرونه پاکه کړی او کامل اطمینان ورته ورکړی.

دکوم سړی توحید چه څومره زیات محکم او توانا وی. هغومره د الله تعالیٰ قرب هم هغه ته زیات حاصل وی. او هغومره هغه د ذاتِ الٰهی او صفات الٰهی په اسرارو زیات باخبره وی . په دے بنا حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :" زهٔ ستاسو نه الله پاك زیات پیژنم. او ستاسو نه زیات د الله تعالیٰ نه ویریږم ". نو څومره چه یو سړے خپل خالق او پروردګار ته زیات قریب وی .هغومره د



هغهٔ نه زیات خوف او ویره کوی. او د هغهٔ د احکامو مُطیع وی .

د الله پاك د قُرب یوه نخښه دا هم ده چه بنده د هغهٔ د نعمتونو پوره پوره احترام اوکړی. او هردم د هغهٔ شکریه په ځائے راوړی. او غیرالله ته توجه او نهٔ کړی. کنی دا به د حق په اطاعت کښې څرګنده کوتاهی وی . د نبی علیه السلام بیبیانے او اصحاب د فسق و فجور نه په دے محفوظ وو چه هغوئی ته د یو داسے مقدس او متقی ذات قرب حاصل وو. چه د هغه د اثر د لاندے د فسق و فجور امکان نهٔ وو. په دے بناء د هغې ذات روحانی او باطنی درجه به څومره اوچته وی. چه د هغه د الله پاك قرب نصیب وی.

الله تعالیٰ د دے خبرے نه بالا او برتر دے چه مخلوقات کښې هغه سره چاته تشبیه ورکړے شی. الله پاك خپله فرمائی چه " د الله تعالیٰ د پاره مثالونه هرګز مهٔ بیانوئ. د الله په مثل هیڅ څیز نشته ". نو د توحید واضحه تقاضا دا ده چه الله تعالیٰ په ذات او صفات دواړو کښې یکتا او بے مثل اوګڼړئ. او مخلوق کښې هیڅوك هغهٔ سره شریك نهٔ کړئ.

## مقاله (۲۸) موحِّد ته زیرے



د عفو او نصرت طلبګار ئے . حالانکه د هغه د بخښش او حمایت د پاره توحید یو بنیادی څیز دے . الله پاك فرمائی " تا هغه سړے اونه لید چه خپل نفس ئے خپل معبود جوړ کړے وُو ". نو دا یو واضحه حقیقت دے ، چه د الله تعالیٰ د مدد او د نعمتونو د حاصلولو د پاره ستا موحِّد کیدل لازمی دی ترڅو چه تهٔ د شرك ټول څیزونه ترك نهٔ کړے. او په ظاهره او په باطنه د یو خدائے تابعدار نشے. نو د نیا او عقبیٰ کښې به خلاصے بیا نه مومے.

تهٔ د دنیاوی خواهشاتو عبادت کوے. او د دے برعکس د نفسانی خواهشاتو پریښودل او مشیت الٰهی کښې فنا کیدل توحید دے . د توحید اثرات دا دی. چه هغه ستا عقیده او عمل د ټولو خباثتونو نه پاك کړی. او د یو مخلص هستئ په طور دِ په بارګاهِ الٰهی کښې په اوچت مقام کښې اودروی چه هغلته به په تا دا بشارتونه (زیری) کیږی چه " نن ورځ تهٔ ځمونږ په نزد صاحب قدرت وتمکین او محبوب او معتمد ئے چه دا مرتبه بیا مومے. نو د الله تعالیٰ رحمتونه او نعمتونه به نور هم په تا زیات شی. په تا به د قرب الٰهی پیرزوینه اوکړے شی. او د الله تعالیٰ رضا او خوشنودی به ستا د اطمینان باعث شی.

د دنیا دستور داسے راغلے دے چه د لته ټول حادثات خپل اصلی او خالص صورت کښې د راتلو نه مخکښې په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناقصه کیفیت کښې وی ـ بیا د کیمیاوی عمل په ذریعه د خاورے او ګټے ذرات د هغې نه جدا کړے شی او نتیجه ئے دا را اوځی چه هغه جمادات یو خالص او قابل استعمال صورت اختیار کړی ـ او د هغې نه به بیا ډیر فائده مند کارونه اخستلے شی ـ نو د انسان هستی هم غسے ده ـ چه هرکله هغه د شرک او بدعت، وهمونو او د خواهشاتو د پیروی د خیرو نه پاکه او صافه شی ـ نو انسان کامل شی ـ او بیا د هغهٔ نه نه صرف خپل ځان ته، بلکه ټول بنی نوع انسان ته ترے بے اندازے فائده رسی ـ نو زهٔ په تا دا تاکید کوم چه تهٔ هم د عقیدے او عمل د خیری نه پاك شه او د شرك او فسق نه پرهیز اوکړه ـ په دا سے کولو به تهٔ یقینا به بارګاهِ الهٰی کښې مقرّب شے ـ د حکمت او معرفت پیرن وند بـه دریاند ے اوکړے شی ـ او عقبیٰ کښې به انبیاؤ او صدیقانو سره د عزت او احترام درجه بیاموے ـ

د الله تعالیٰ اطاعت او فرمانبرداری اختیار کړه ـ د هغې په برکت به د علم او معرفت خاوند شے ـ او د الله تعالیٰ عفو او بخشش په تا لازیات شی ـ او په دے حقیقت به ښهٔ پوه شه چه کوم ظاهری او باطنی نعمتونه تا ته دنیا کښې درکړے شی ـ او کوم عزت او اجر او فلاح او بهبود ستا ته تهٔ عقبیٰ کښې بیاموے ـ د اټول د توحید ثمرات دی ـ



## مقاله (۲۹) متوکل علی الله ته خوشخبری

د حضور صلی الله علیه وسلم حدیث دے "کیدے شی چه فقر د انسان دپاره د کفر باعث شی" نو د زمانے د تغیر په سبب په ذات او صفاتِ الٰهی کښې شک او شبهے له دخل ورکول صرف د هغې خلقو کار دے چه د هغوئ یقین او ایمان بالکل کمزورے وی ـ او د توکل علی الله جذبه نهٔ لری ـ د یو موحد او د پخے عقیدے د مؤمن یقین او ایمان همیشه محکم او توانا وی او د زمانے تغیرات پرے هیڅ اثر نشی کولے ـ الله پاك فرمائی: "کوم سړے چه په الله تعالیٰ کامل توکّل لری، نو الله تعالیٰ د هغهٔ دپاره کافی دے" بل ځائے ارشاد دے: "د توکّل خاوندانو له پکار دی چه همیشه په الله توکل کوی" او په دے بناء د توکل خاوندانو ته دا خوشخبری ده "چه کوم سړے د خدائے نه ویریږی او د هغهٔ اطاعت کوی نو الله تعالیٰ به د هغهٔ دپاره رزق کشاده کړی او هغهٔ ته به د دا سے ذریعے نه رزق ورکوی چه د هغهٔ ګمان کښې به هم نهٔ راځی"

کوم سړے سره چه الله تعالیٰ خپل لُطف او کـرم اوکړی ـ د مصیبتونو او آفتونو نه ئے خلاص کړی ـ او خپل نعمتونه پرے ... وانه کړی ـ نو لازمی ده چه د هغهٔ ایمان محکم دے او د الله تعالیٰ د بیحسابه نعمتونو شکر ګذار دے ـ د دے برعکس بل هغه سړے دے چه د



خپل ضعیف ایمان، تذبذب او شك و شبهے په وجه مصیبتونو او آفتونو کښې راګیر دے ـ کفر او انکار کوی ـ او د دنیا او عقبیٰ په پریشانئ او بے عزتئ کښې پریوتے وی ـ نو د دا سے سړی متعلق حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه "د قیامت په ورځ به د ټولو نه زیات عذاب او ذلّت کښې هغه سړے وی چه د خپل ضعیف یقین او ایمان په وجه د دنیا کښې هم کافر شو ـ او د حشر و نشر نه هم منکر شو ـ نو کفر، غفلت او د خدائے هیرونکے فقر هغه دے چه د هغې نه حضور صلے الله علیه وسلم پناه غوښتلے ده ـ

زهٔ تاسو ته دا ښو دل غواړم، چه د هغې خلقو صحبت اختیار کړئ، چه علم او ایمان کښې راسخ دی ـ او تل په الله تعالیٰ متوکل دی ـ هغوئ به ستا سو ظاهر او باطن د هر قسم ګرد وغبار نه پاك کړی ـ او زړهٔ او دماغ کښې به مو توحید مستقل طور سره کینوی ـ او د هغوئ د روحانی فیض په برکت به دنیا او آخرت دواړو کښې فلاح او بهبود بیاموئ ـ

## مقاله (۳۰) د صبر او تحمل فائدے

زهٔ تعجب کښې یم چه ته د ناپوهئ په وجه وائے چه په کوم تدبیر او وسیله به زهٔ خپل مقصد او مراد ته اورسم، حالانکه په قرآن پاك کښې صفا را غلے دی چه الله تعالیٰ هغې خلقو سره دے ـ چه د صبر او تحمل نه کار

اخلی او په هغه تکیه کوی" ـ او الله پاك فرمائی: "اے ایماندارو! صبر او تحمل نه کار اخلئ ـ او الله سره معنوی ربط پیدا کړئ ـ د هغه نه ویره کوئ ـ او نیک عملی کوئ چه خلاصے بیاموئ" ـ

د کلام پاك د دیرو آیتونو نه ثابته ده چه دُنیا او عقبیٰ کښې د فلاح و بهبود بهترینه ذریعه صبر او تحمل دے ـ او الله تعالیٰ هر مؤمن ته حکمًا د صبر تلقین فرمائیلے دے ځکه چه انسانی ژوند کښې سلامتی او خیر و عافیت په صبر او تحمل او استقامت کښې دے ـ نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "د ایمان دپاره صبر دا سے ضروری دے، لکه د جسم دپاره روح" او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "د هر عمل ثواب د هغې د اندازے مطابق دے ـ لیکن د صبر ثواب بے حسابه او بے اندازے دے" او الله پاك فرمائی: "هرکله چه تاسو د شریعت او حدود الله د حفاظت دپاره د صبر او تحمّل نه کار واخلئ نو الله تعالیٰ به درته مصیبتونه لرے کړی ـ او دومره فراوانه رزق به درکړی، ځکه چه ئے د هغې دپاره په خپل کتاب کښې دا وعده فرمائیلے ده "کوم سړے چه د الله تعالیٰ اطاعت اختیار کړی نو الله تعالیٰ به په هغه خپل نعمتونه لازیات کړی او هغه ته به د دا سے ځائے نه رزق ورکړی چه د هغه په ګمان کښې به هم نه راځی ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ د خپل کشائش رزق اوخوشحالیٔ دپاره د صبر او توکل لار اختیار کړه. ځکه چه د نبیانو علیهم السلام او صالحانو د حالاتو د کتلو نه هم معلومیږی، چه د صبر او تحمل په وجه الله تعالیٰ هغوئ ته د مصیبتونو نه خلاصے ورکړے وو او د خپلو بے پناه نعمتونو ئے په هغوی پیرزونه کړے وه. ټولو اولیاءُ الله همیشه په صبر او تحمل استقامت کړے دے . اوخپلو مریدانو ته ئے هم د دے تلقین کړے دے او تاکید ئے فرمائیلے دے . د صبر په اختیارولو الله تعالیٰ ستا دپاره دنیا اوعقبیٰ کښ د لوئے جزا وعده فرمائیلے ده . الله پاک فرمائی :" دغه شان مونږ صبر کوونکو ته لویه جزا ورکوو بل ځائے ارشاد دے : الله پاک صبر کونکی او احسان کونکی خپل محبوب گرځوی ":

نو د کلام الله احادیث نبوی ؐ او د الله د دوستانو د سیرت نه واضحه ده چه صبر د دنیا اوعقبیٰ کښ د هر سعادت اوسلامتی اصل اوبنیاد دے او مؤمن بنده د صبر او تحمل په ذریعه د الله پاك د رضا د خلاصی او د جنت مستحق گرځی او د دے په وجه روحانی عروج بیاموی، چه ملائکے ورته پسخیږی . د دے نه پس د دهٔ دپاره د الله تعالیٰ قرب دے . او د عزت هغه مقام دے چه هغے له فنا نشته .



## مقاله (۳۱) دوستی دشمنی د الله دپاره

مسلمان له پکار دی، که چا سره محبت کوی، نو هم د الله دپاره ، او که عداوت، نو هم د الله دپاره د خپل نفس او ذاتی جذباتو په هغے کښ دخل نهٔ وی. ته د هرسړی سیرت ،عقائد او اعمال په غور مطالعه کړه، که هغه د توحید اوسنت مطابق وی نو ستا دپاره هغه سره محبت اودوستی ساتل بالکل جائز او د الله په نظر کښ د ستائنے جوگه دی خو که د هغهٔ عقائد او اعمال د توحید او سنت د تقاضو خلاف وی . او هغه مشرك اوفاسق وی. نو هغه سره بُغض او عداوت ساتل ستا دپاره لازمی دی. نو تهٔ د الله تعالیٰ د رضا دپاره د هغهٔ نه مخ واړوه . کهٔ تهٔ یو مؤحد او متقی سړی سره محبت ساتے ، نو محض د الله د خوشنودئ د پاره . او کهٔ یو مشرك او فاسق سړی سره عداوت کوے، نو هغه هم صرف د رضائے الٰهی دپاره .

د خپل نفس د خواهشاتو او ذاتی اغراضو دپاره مه چا سره محبت ساته او مه عداوت . ځکه چه کوم محبت په نفسانی خواهشاتو مبنی وی ، هغه عارضی ، فتنه انگیزاو پریشانی پیدا کوونکے وی . دغه شان کوم عداوت چه په ذاتی خواهشاتو وی . هغه د ظلم او زیاتئ اوتباهئ باعث وی . نو د خپل نفس په خاطر محبت او عداوت ساتل دواړه تباه کن دی . او د الله تعالیٰ په نزد په دنیا

او عقبیٰ کښ مغضوب .

د دے برعکس محض د الله دپاره چا سره محبت یا عداوت ساتل د عزت او د ایمان د سلامتئ ضمانت ده . دا سے سړے الله تعالیٰ په دواړه جهان محبوب اوبرگزیده گرځوی . او د انبیاءؑ او صدیقانو په ډله کښ ئے شاملوی دغه وجه ده چه حضور صلی الله علیه وسلم به همیشه محض د الله تعالیٰ د رضا دپاره خلقو سره محبت او عداوت ساتلو . او خپل نفس له ئے هیڅکله په هغے کښ دخل نهٔ ورکولو . حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی : که چا سره محبت کوے ، نو هم د الله دپاره ، او کهٔ عداوت نو هم د الله دپاره " دغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم معمول او اسوهٔ حسنه وه . او دغه د ټولو اولیاء الله د ستور العمل دے . د دے برخلاف محض د اتباع نفس په خاطر محبت یا عداوت ساتل د کتاب الله او سنت رسول الله نه قطعی انحراف دے . او داسے سړی د خدائے تعالیٰ په نزد په دواړه جهانه کښ مغضوب او معتوب دے .

الله پاك فرمائی :" د نفسانی خواهشاتو اتباع مهٔ کوئی ځکه چه دا شیز د الله پاك د لارے نه گمراه کوونکے دے : بل ځائے ارشاد دے :" تا هغه سړے او نه لید چه ټولو معاملاتو کښ هغه خپل نفس خپل معبود اوگرځوو ". نو سلامتی د نفس په مخالفت او د الله په رضا کښ ده . او هغه دا چه محبت وکے



نو هم د الله تعالیٰ دپاره او که عداوت وی نو هم د الله تعالیٰ دپاره .

## مقاله (۳۲) د غیر الله محبت شرك دے

حقیقی معنو کښ محبت الله پاك سره خاص دے . او غیر الله له په دے کښ دخل ورکول شرك دے ځکه چه د انسان زړهٔ فطری طور سره د الله تعالیٰ مسکن دے . خو هر کله چه غیر الله ته دے کښ اثر کول حاصل شی نو دا د توحید الٰهی څرگند د خلاف ورزی ده . الله پاك فرمائی : ځما مؤمن او مؤحد بندیان ما سره محبت ساتی . او زهٔ هغوئ سره محبت ساتم : او حق سبحانهٔ فرمائی . " کهٔ تاسو په الله تعالیٰ ایمان لرئ او د هغهٔ عبادت کوئ نو صرف هغهٔ سره محبت کوئ : او د مشرکینو متعلق الله پاك فرمائی : مشرکین او کفار خپلو فرضی خدایانو او دنیوی سازوسامان سره دومره زیات محبت ساتی چه د هغے جوگه صرف الله پاك دے . لیکن کوم خلق چه مؤحد او ایمان دار دی هغوئ صرف الله پاك سره بے پناه محبت ساتی . بل ځائے ئے ارشاد باری دے : " اے ایماندارو ستاسو مالونه او اهل وعیال د تاسو د الله د ذکر نه غافل نهٔ کړی . او کوم خلق چه د دے څیزونو په محبت کښ ډوب شی او
۱۵ د الله د ذکر نه غافل شی ، نو همدغه خلق گمراه او زیان کاری دی ":

(c) ketabton.com: The Digital Library



په احادیثو کښې هم ددې خبرې تاکید راغلے دے.
چه د مؤمن بنده محبت صرف الله تعالیٰ سره خاص کیدل پکار دی او مخلوقاتو کښې د مؤمن زړهٔ او دماغ محو کیدل د الله دَ ذکر او عبادت د تقاضو نه غافله نهٔ کړی، نو زهٔ تاته ددې خبرې نصیحت کوم چه ته خپل محبت او توجه الله تعالیٰ ته وقف کړه. او د غیر الله نه ډډه اختیار کړه. او د عشق کومه پاکه جذبه چه فطری طور سره د الله پاك ذات سره تعلق لری هغه هر گز مخلوقاتو سره مهٔ کړه. گنې ستا زړه به د شرك په وجه د توحید په معنو د پوهیدلو او د هغې د عملی تقاضو د پوره کولو نه محروم پاتے شی.

د الله پاك غیرت دا نشی برداشت کولے، چه کوم زړهٔ د هغهٔ د محبت او ذکر د پاره خاص وی هغهٔ کښې د غیر الله هم دخل اوکړی. هرکله چه ته د وحدانیت په دے تقاضا پوه شے او د عارضی او فانی څیزونو نه کناره کش شے او د ازلی او ابدی هستئ محبت اختیار کړے نو بیا به د الله پاك لطف وکرم ستا استقلال له راځی او د یو موحد په حیثیت به په دواړو جهانو هغه عزت حاصل کړی چه د غیر الله پرستار به ورته کوته په خوله پاتے شی.

## مقاله (۳۴) د سړو څلور قسمونه

سړی په څلورو قسمه دی، یو هغه سړے دے چه



نه ئے ژبه وی، چه په هغې څهٔ بیان اوکړی. او نهٔ ئے زړهٔ چه هغې کښې څهٔ علم او معرفت پروت وی. نو دا سړے عامی، غافل او ازموده کار دے. چه نه پرے څهٔ اعتبار کیدے شی او نه پکښې څهٔ خیر شته. نو ته د دا سے خلقو نه مهٔ کیږه. ځکه چه دوئی د خدائے په عذاب کښې دی. د دوئی د مکرونه دے موږ خدائے اوساتی. ته د عالمانو نه شه او د دین دلاسے ښودونکو نه شه. او د مخلص بندگانو نه شه. او د خدائے د نافرمانئ نه وېره اوکړه. چه د خدائے نزدیکت او د پیغمبرانو ثواب بیا مومے رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علی کرم الله وجهه ته اوفرمائیل: د که ستا په ذریعه خدائے تعالیٰ د یو سړی هدایت هم نصیب کړی، نو د ے کښې ستا د پاره د ټولے دنیا نه زیاته بهتری ده"

دویم هغه سړے دے. چه د هغه ژبه خوشته خو زړهٔ نهٔ لری. د هغهٔ خبرے د حکمت نه ډکے وی. او خلقو ته نصیحت کوی. خو خپله پرے عمل نهٔ کوی. خلق خدائے ته بلی خو خپله ترے تښتی. د خلقو عیبونه څرگندوی خو خپل عیبونه پټ ساتی. خلقو ته ځان پرهیزگار ښکاره کوی خو په پټه گناهونه کوی. دا سے سړے په مثل د شرغ دے. اگرکه په صورت د سړی دے. دده نه ځان بچ کول پکار دی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.
" د ټولو نه زیات خوف ما سره د اُمت د خرابو عالمانو دے"



خدائے دے موږ د دا سے خلقو نه په امان کړی. دد غسے خلقو نه تیښته کوه. هسے نه چه په خپلو خوږو ژبو د خبرو د دهوکه کړی. او د گناهونو په اور د اوسیزی.

دریم هغه سړے دے، چه د هغه زړهٔ خوشته ولے ژبه ئے نشته. دے مؤمن دے. خو د خلقو نه پټ دے. خدائے پرے د خپلے پناه پرده اچولے ده. دے د خپلو عیبونو نه خبردار کړے شوے دے. زړهٔ ئے روښانه دے. دے د بے هوده او بے فائدے خبرو نه دست بردار دے او په دے پوه دے. چه سلامتی په خاموشئ کښې ده. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. " چا چه خاموشی اختیار کړه، نو سلامتی ئے بیامونده " او دا ئے هم فرمائیلی دی؛ د عبادت لس حصے دی. په دے کښې نهه د خاموشئ دی"
نو دا سے سړے ولی الله دے چه د نفس او د خلقو د آفاتو نه بچ دے. دے د سلامتئ او عقل خاوند دے. دده خدمت په ځان لازم کړه. چه د الله پاك په دوستانو او نیک بندگانو کښې داخل شے.

څلورم هغه سړے دے چه د ملائکو په عالم کښې د عظیم (لوئے) په نوم بللے شی. حدیث کښې راغلی " چا چه علم اوکړهٔ او په هغې ئے عمل اوکړهٔ او خلقو ته ئے اوښودو نو عالم ملکوت کښې هغه په عظیم یادیږی" او دا سے سړے د خدائے او د هغه د آیاتو نو عالم دے.



دده په زړهٔ کښې نادر علمونه امانت ایښودے شوی دی. او الله پاك دے په هغه علومو واقف کړے دے. چه په هغې ئے غیر نهٔ دی آگاه کړی. دده سینه ئے د اسرارو د قبلولو د پاره پرانستے ده. دے ئے بزرگ پیدا کړے دے. چه خلق نیکئ ته بلی. او د عذاب نه ئے ویروی. دے هم هادی[1] دے هم مهدّی[2] دے. هم شفیع[3] دے. هم مشفّع[4] عنهم صادق دے. هم مصدوق[5] دے. دے د پیغمبرانو جانشین دے. په ده دے د الله تعالیٰ سلامونه برکتونه او رحمتونه وی.

نو دا څلورم یا آخری سړے چه دهٔ ته الله پاك ژبه او زړه دواړه عطا کړے دی. په بنیادمو کښې دده مرتبه د انتها مرتبه ده. د پیغمبرانو نه پس هیڅوك په مرتبه کښې دده جوگه نهٔ دی. دده د مخالفت نه، دده د قول نه او دده نصیحت ته دده د رجوع نه کولو وېره اوکړه ځکه چه ستا سلامتی په هغې کښې ده. چه د دے ئے درته ښائی هم دا سړے په زمکه د خدائے خلیفه دے. هم دے د سیرت نبوی تابع، د توحید الهٰی محافظ او د نفس انسانی خیرخواه دے. نو دده صحبت او محبت په ځان

[1] هدایت کونکے [2] هدایت یافته
[3] شفاعت کونکے [4] مقبول الشفاعة
[5] [illegible] [6] د تصدیق ملی شوے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازم کړه. او دده د روحاني او باطني فيوض او برکاتو نه استفاده اوکړه ځکه چه هم دے ستا د قلب او دماغ د ګردونو صفا کوونکے او د توحيد په نورے روښانه کوونکے دے. د الله تعالیٰ د قرب د پاره چه ته د داسے سړی صحبت اختيار کړے. نو په تا دا خبره واجب کيږی، چه د مشرك او فاسق د صحبت نه قطعی پرهيز اوکړے.

ستا د فائدے د پاره ما تاته د خلقو قسمونه بيان کړل او مضر او مفيد سړو کښې م درته فرق واضحه کړه. نو د دے پيروی کول اوس ستا کار دے. زۀ درته دا بيا وايم چه د الله د محبت د پاره د اهل الله صحبت ډير ضروری دے. الله پاك دے مونږ له د هغه اعمالو توفيق راکړی، په کومو چه هغه خوشحاليږی. آمين.

## مقاله (۳۴) عبادت کښې اخلاص

د الله تعالیٰ په ذکر او عبادت کښې اخلاص يو بنيادی څيز او د توحيد روح دے. د خپل پروردګار اطاعت کوه. د هغه د شريعت احترام کوه. او د هغۀ ذات سره هيڅ قِسم ظلم او زياتے مۀ منسوب کوه. ته دا وائے، چه روزی ما ته په وخت نۀ رارسی. او غم او مصيبت را نه په وخت نۀ لرے کيږی. ته په دے نۀ پوهيږے چه د هر څيز د پاره خپل وخت مقرر دے. نو د هغه په کارونو د تهمت لګولو نه توبه اوکاږه ځکه چه د هغه



اوامر په خپل مناسب او قانونی وقوع بياموی. او د هغۀ د مشيت لاندے د هغه تعميل کيږی. الله پاك فرمائی. څما مخلص بنديان څما د اطاعت نه مخ نۀ اړوی. او نه څما د احکامو نه غفلت او روګردانی کوی. د الله پاك هيڅ کار عبث او بے مقصده نۀ دے. نو ته اخلاص او محويت سره د هغۀ عبادت کوه. او د صراط مستقيم نه بے روه کيږه مه. که ته د هغۀ د احکامو احترام کوے. نو هغه به هم ستا مدد او اعانت کوی. او دنيا او عقبیٰ کښې به دِ خلاصے نصيب کړی.

د هر تکليف او مصيبت د پاره انتها شته. نو ته د صبر او خاموشئ نه کار اخله. په قضا و قدر راضی شه. او په دے پوه شه چه سختی پسے خوشحالی راځی. لکه چه توره شپه تيره شی. نو ورپسے رڼا صبا راشی. الله پاك فرمائی:-

"اے پيغمبره! چه څما بنديان درنه څما متعلق پوښتنه اوکړی چه الله کوم ځائے دے نو ورته اووايه چه زۀ هغوی ته ډير قريب يم. او کوم وخت چه څوك ما نه سوال اوکړی نو زۀ ئے سوال قبلوم. څما بنديانو له پکار دی چه په ما کامل يقين اوساتی. چه صراط مستقيم بياموی"- او الله پاك فرمائی. تاسو څما په بارګاه کښې سوال کوی. زۀ به ستاسو ضروريات پوره کوم. د دے نه علاوه هم په ډيرو آيتونو او حديثونو کښې د دعا فضيلت او الله پاك نه د سوال کولو



ترغيب وارد شوے دے. که الله پاك ستا دُعا زر قبوله نۀ کړی نو د دے بدله به په هغه جهان درکړی. حديث کښې راځی چه د قيامت په ورځ به سړے په عملنامه کښې داسے حساب اووينی چه شناخت به ئے نشی کولے. نو هغه ته به اوويلے شی چه دا ستا د هغه دُعاګانو معاوضه ده چه تا به په دنيا کښې غوښتے خو دنيا کښې ئے قبليدل مقدر نۀ وو.

دا هم څه وړه خبره نه ده، چه ته د دُعا په وخت کښې خدائے يادوے ځکه چه ته د هغۀ نه سوال کوے او د هغه د غير نه ئے نۀ کوے او خپل حاجت بغير د هغۀ نه بل چا ته نه پيش کوے.

شپه او ورځ تندرستئ، بيمارئ، او سختئ او نرمئ کښې ستا دوه حالتونه دی. يو هغه حالت دا دے چه ته د سوال نه منع شے او رضا په قضا شے. او د خدائے د فعل سره داسے موافق شے لکه مړده چه د مړده شوئے په لاس کښې وی يا پئے روده لکه بچے د دائی په لاس کښې يا غونډوسکے د چوګان سوار په مخکښې چه کوم خوا ئے غواړی. هغه خوا ئے اولی را اولی. چه تقدير دِ څنګه غواړی، هغسے دِ ګرځوی. که ستا مقدر کښې نعمت دے، نو په هغې شکر اوباسه. او د زيات بخشش سوال ترے کوه. الله پاك فرمائی: "که تاسو شکر کوئ نو زۀ به لا زيات نعمتونه درکړم" او که ستا تقدير کښې



سختی وی نو صبر کوه. ځکه چه الله پاك فرمائی: "الله د صبر کونکو مل دے". بل ځائے ارشاد دے: "هغه صابرانو ته خوشخبری ورکه، چه مصيبت ورته اورسی، نو وائی موږ د هغۀ يو. او هغۀ ته راجع کيدونکی يو. په داسے خلقو د خدائے سلامونه او رحمتونه دی. او هم دوئی هدايت موندونکی دی" او الله عزّ وجلّ فرمائی: "که تاسو د خدائے د دين مدد کوئ. نو الله پاك به ستاسو مدد کوی. او تاسو به ثابت قدم کړی".

دوئم حالت دا دے چه ته د الله تعالیٰ د لويئ د پاره د هغۀ نه په دعا او زارئ سره سوال کوئ. ځکه چه د هغۀ حکم دے چه سوال د هغۀ نه کوئ. الله پاك فرمائی: "د خپل رب نه غواړئ" او انصاف هم دغه دے. ځکه چه هغه تاسو ځان ته سوال او راجع کولو د پاره بلی. دُعا او سوال الله پاك ستا د آرام باعث ګرځولے دی. نو په دے دواړو حالتونو فکر اوکړه. او دد ے نه بهرمه ووځه. ځکه چه د خدائے د قرب حاصلولو د پاره بل حالت نشته.

په هر حالت کښې د الله پاك داسے ذکر او عبادت کوه چه هغے کښې د غير الله تصور قدرے هم شامل نۀ وی. حديث قدسی دے "ته د خپل پروردګار عبادت په داسے يکسوئی سره کوه، چه ګويا ته الله پاك وينے. او که ته د هغۀ د محويت دا درجه نۀ لرے. نو کم نه کم د يقين خو ضرور

ساتنه چه الله پاك تاوینی؛ نو دعبادت په آدابو کښې هیڅ نقص مه راوله.

دالله تعالیٰ دوحدانیت طلبګار شه - او دشرك نه پرهیزګار شه. په هیڅ حالت کښې د الله پاك نه بدظن کیږه مه. هر حالت کښې د هغه وفادار اوسه. یوازې الله پاك ته یکسوئی نه صرف دعبادت د قبولیت باعث وی. بلکه د دے سره برکتونه او نیکو کښې نوره هم اضافه کیږی. خومره چه عملی امتونه تباه شوی دی، هغه د توحید او اخلاص د فقدان په وجه تباه شوی دی.

الله پاك دابراهیم علیه السلام د ټولو نه لوئے صفت دا بیان کړے دے. چه هغه به کامل یکسوئی سره د الله پاك عبادت کولو. او کائناتو کښې به ئے هیڅ څیز هغه سره نه شریک کولو. الله پاك فرمائی ؛ مونږ تاسو ته دین ابراهیم عطا کړے دے. او ستاسو دغه روحانی پلار ستاسو نوم مسلمان ایښے دے ؛ نو په مونږ واجب دی چه توحید او اخلاص کښې د هغه پیروی اختیار کړو. او خپل عبادت د شرك نه پاك کړو.

## مقاله (۳۵) پرهیزګاری ددین بنیاد دے

پرهیزګاری په ځان لازمی کړه. ځکه چه د مسلمان د ظاهرو باطن سلامتی په دے کښې ده، چه د دے په ذریعه په صراط مستقیم روان شی. ځکه چه هم پرهیزګاری د دین اصل بنیاد دے. حدیث کښې راځی ؛ مسلمان له یوازې د حرامو څیزونو او حرامو افعالو نه ډډه کول نهٔ دی پکار. بلکه شرعی طور سره د حرام اشیاؤ او افعالو د ذرائعو او اسبابو نه هم ورله پرهیز پکار دے. ځکه چه د ګناه اسبابو ته نزدے کیدل یا هغې سره تعلق ساتل یقیناً انسان په ګناه کښې اچوی. حضرت عمرؓ فرمائیلی دی. چه مونږ به نهٔ حصے حلال څیزونه په دے شبهه پریښودل چه چرته حرام پکښې نهٔ وی. او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمائی : چه مونږ به د مباح څیزونو اویا درجې په دے خیال ترك کولے چه چرته ګناه کښې کیر نه شو. داهر څه هغوئی د حرامو د بچ کیدلو د پاره کول.

الله پاك فرمائی: "د خپل عاقبت د پاره د نیکۍ ذخیره راغونډه کړئ. او بهترین ذریعه پرهیزګاری ده". او الله جل جلاله فرمائی ؛ د الله په نزد تاسو ټولو کښې زیات د عزت قابل هغه دے چه زیات پرهیزګار دے". نو ځکه بزرګانو به هغه څیزونه استعمال کښې نه راوستل، چه هغه به مشکوك وو. او د حرام او د ناجائز څیزونو د اسبابو نه به ئے هم مکمل پرهیز کولو.

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ؛ بنهٔ پوه شئ، چه د هر بادشاه د پاره یو ورشو وی. او د الله تعالیٰ ورشو هغه حرام څیزونه دی. نو کوم سړے چه د دے نه کیر چاپیره ګرځی د هغهٔ د پاره عین ممکنه ده چه په دیکښې راګیر شی. نو د شریعت د حفاظت بهترینه طریقه دا ده چه د پرهیزګارئ



لاره اختیار کړئ او د ګناه د اسبابو نه پرهیز اوکړئ.

کوم سړے چه د امر الٰهی احترام کوی. او پرهیزګاری اختیار وی، نو د الله پاك مدد د هغه شامل حال وی. او هغه د مصیبتونو او تکلیفونو نه محفوظ وی. الله پاك فرمائی ؛ "کوم خلق چه څهٔ مونږ د نزدیکت او څهٔ مونږ په کلام د پوهیدلو کوشش کوی، نو مونږ خپله صراط مستقیم ته د هغوئ رهنمائی کوو او شریعت د هغوئ د پاره اسانوو.

هر مسلمان له پکار دی، چه د نفس د تابعدارئ نه پرهیز اوکړی. او په راهِ راست د تلو کوشش کوی. د فاسق او فاجر خلقو نه کناره کش شی. او هغه خلقو سره صحبت اختیار کړی، چه د الله پاك فرمانبرداره دی. زهٔ تاته داپند درکوم چه د خپلو تیرو ګناهونو او لغزشونو نه توبه کړه. او مخکښې د پاره راست بازی اختیار کړه. د الله پاك نه د نیکۍ توفیق طلب کړه چه د نفس د اتباع او د شرك د آفتونو نه محفوظ شې. او سلامتی بیاموے.

## مقاله (۳۶) دین په دنیا مقدم کړئ

د دین کار په دنیا مقدم کړه او د نیاوی امورو کښې احکام الٰهی مه هیروه. دین اصل مال (رأس المال) او ګټه او دنیا فرع او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسوهٔ حسنه په تحصیل کښې کوتاهی مهٔ کوه. تا نه د نفس امارة د مغلوب کولو او د دین مطابق هغه ته د تهذیب او ادب ښودلو حکم



درکړے شوے دے. خو د دے برعکس تا د نفس غلامی اختیار کړه او په ځان دِ ظلم اوکړهٔ. په دے وجه تهٔ د صراط مستقیم نه واوړیدے. او د نفس د پیروئ په وجه په عقبیٰ کښې د ذلیل او رسوا خلقو نه شوے.

کهٔ تهٔ د عقبیٰ په لار تلے نو دنیا او عقبیٰ دواړو کښې به د عزت او ابرو خاوند وے. او د پروردګار خوشنودی به دِ حاصله کړے وے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی؛ "الله تعالیٰ دنیا د آخرت په نیت ورکوی، خو آخرت صرف د دنیا په متابعت نه ورکوی". او دا بالکل واضحه ده چه د آخرت نیت د شریعت کامل اطاعت دے. نیت د عبادت روح دے. او د اعمالو د جزا فیصله په دے کیږی نو کهٔ تا د آخرت د طلب په نیت د الله تعالیٰ اطاعت کولے نو د خدائے تعالیٰ د خاصانو نه به وے. او هر کله چه ته د خدائے تعالیٰ د خاصانو نه وے، نو د کائناتو ټول اشیاء به ستا تابعدار وے. او کهٔ ته د نیوی امورو کښې د مصروفیت په وجه د آخرت نه اعراض اوکړے، نو پروردګار به د ځانه ناراضه کړے.

دنیا د خدائے تابعداره ده. د هغهٔ نافرمانه خواروی. او د هغه د فرمانبردار عزت کوی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. "د نیا او آخرت په مثل د دوو بنو (د یو خاوند د دوو ښځو) دی. کهٔ یوه خوشحاله کړے، نو دویمه

بې درېغه ناراضه شي. نو کوم سړے چه د الله تعالیٰ کامل اطاعت اختیار وي. ټول کائنات د هغهٔ عزت کوي. او څوك چه د هغهٔ نافرماني کوي، ټول کائنات د هغهٔ نه بېزاره شي. الله پاك فرمائي "تاسو کښې بعضې داسے دي، چه محض د دنیا پرستار دي او بعضې داسے دي، چه آخرت غواړي" او بل ځائے ارشاد دے "خلقو کښې د حکمت او فراست داسے خاوندان هم شته، چه وائي. اے پروردګاره! موږ له دنیا کښې هم سعادت راکړے. او آخرت کښې هم سعادت او د دوزخ د اور نه مو اوساتے" نو اوس ته اووایه چه ته د نه کښې د کومے ډلے نه کېدل غواړے.

محض د دنیا کښې محو کېدل او د خپل عاقبت نه غافل کېدل د ایمان او اسلام نه بالکل خلاف دي. هرکله چه ته آخرت کښې حاضر کړے شے. نو د حشر میدان کښې به دوه ډلے وي. یو دوزخیان او بل جنتیان. د جنتیانو په ټولی کښې د داخلید وسعادت به ته هله حاصل کړے چه د نفس طاعت پرېږدے، د خدائے تعالیٰ طاعت اختیار کړے. او د خدائی احکامو په احترام کښې د نفساني خواهشاتو نه لاس په سر شے. د الله پاك دیدار چه د ټولو نه لوئے نعمت دے، او د جنت هر قسم عیش د الله پاك تابعدار بندیانو د پاره خاص دے. نو د عقبٰی د دې لو سعادتونو حاصلولو د پاره خپل نفس ته د شفقت په نظر اوګوره. او د نفس اماره په ځائے د نفس



مطمئنه خیال اوساته.

د نفس مطمئنه د حاصلولو اهم ترینه ذریعه داده، چه د شیطان مزاجه خلقو او خرابو دوستانو نه کناره کش شے او ذکر الٰهی کښې مشغول شے. د لغویاتو او عبثیاتو نه پرهیز اوکړے. او د کتاب الله او سنت رسول الله پیروی اختیار کړے. د صراط مستقیم موندلو د پاره د کتاب الله په آیتونو د مسلسل غور، فکر او تدبر ضرورت دے. نو په کتاب او سنت ځان پوره کړئ او په هغې عمل اوکه. محض مناظرو، جدال او قیل وقال کښې مه کښېوزه. ځکه چه د سره عقل ګمراه شي. او د عمل لار د انسان نه خطا شي.

الله پاك فرمائي "کوم احکام چه څوښ رسول تاسو ته بیانوي، په هغې عمل اوکړئ. او د څهٔ نه موچه منع کوي. هغه ترك کړئ. او د الله نه وېره وکړئ. چه عاقبت مو ښهٔ شي" نو د مسلمان د پاره د توحید او سنت پیروی لازمه ده. دا بدعت دے. چه د ځانه خبرے جوړے کړے شي. او دین ته منسوب کړے شي. او د هغې پیروی د اسلام پیروی اوګنړلے شي. الله پاك فرمائي: خلقو رهبانیت (ترك دنیا) د خپله لاسه یو طریق عمل جوړ کړهٔ. او په ځان ئے لازم اوګرځولو، حالانکه رهبانیت او د دنیا حلال څیزونه پرېښودل. موږ په هغوئ نه دی فرض کړي. او نه مو د هغې حکم ورکړے دے. د غه وجه ده چه دوئ د دے



خلافِ فطرت طریقِ عمل پیروی او نهٔ کړے شوه" په دے سبب هر هغه عقیده یا عمل چه د هغې آسماني کتابونو او شریعت کښې څهٔ سند نهٔ وي، بدعت دے او د هغې پیروی عین ګمراهي ده.

د بدعت ضد سنت دے. او سنت د حضور صلی الله علیه وسلم د حیات طیبه هغه دستور العمل دے چه الله پاك دا اسوهٔ حسنه په نوم یاد کړے دے. حق سبحانه فرمائي. "څوك چه د الله د رضا طلبګار وي او په ورځ د محشر د خلاصی ارمنو وي، نو د هغه د پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقِ عمل یو مثالي سیرت دے" بل ځائے ارشاد دے "څموږ نبی په خپل خواهش هیڅ نهٔ وائي. څهٔ چه وائي هغه څموږ د طرفه وحی وي. نو د هغهٔ پیروی کوئ" او الله پاك فرمائي: "اے پیغمبره! دوئ ته اووایه. که تاسو د الله دوستي غواړئ نو څما پیروی اوکړئ، چه خدائے مو دوست شي. او د خدائے دوستي د حضور صلی الله علیه وسلم د قول او فعل تابعداری ده.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: "کسب کول څما ظاهري عادت دے او توکل څما باطني حالت دے" نو اے د آخرت طلبګاره. که ستا ایمان کمزورے وي. نو ستا وظیفه کسب کول دي، چه دا د حضور صلی الله علیه وسلم سنت دي، او که ستا ایمان محکم وي. نو ستا وظیفه توکل دے.



الله پاك فرمائي "څوك چه په الله تعالیٰ توکل کوي نو هغه ورله کافي دے" او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: "کهٔ څوك دا سے کار اوکړو چه د هغهٔ په حقله شریعت کښې حکم موجود نهٔ وي. نو هغه مردود دے. نو هر حالت کښې د قرآن او سنت تابع کېدل پکار دي. د محمد صلی الله علیه وسلم نه پس تر قیامته څموږ د پاره بل پیغمبر نهٔ شته چه د هغهٔ اتباع اوکړو. او د قرآن نه علاوه څموږ د پاره بل آسماني کتاب نشته، چه د هغې په احکامو عمل اوکړو نو زهٔ په ټولو مسلمانانو تاکید کوم چه هغوئ صرف د کتاب الله او سنت رسول الله اتباع اوکړي. چه تباه او برباد نشي. د دے دواړو نه خلاف ورزي کول د شیطان په پنجه کښې راتلل دي. نو د عقیدے او عمل د هر آفت نه سلامت پاتے کېدل د قرآن او سنت اتباع سره وابسته دي. او دا اتباع یو داسے مقدس نعمت دے. چه د دے په ذریعه بنده ولایت، ابدالیت او د غوثیت او چت مقاماتو ته رسي.

## مقاله (۳۷) د حسد مذمت

اے مسلمانه! کهٔ ته په الله، د هغهٔ په رسول او په کتاب الله ایمان لرے او بیا هم بل مسلمان ورور سره حسد کوے. نو دا د ډېرے د افسوس خبره ده او څما د ربانی ۲۲
دا یقین راځي چه ستا ایمان بالکل ضعیف او توکل دې کمزورے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے۔ تهٔ د بل مسلمان خوشحالي نشے برداشت کولے۔ دهغهٔ ښهٔ لباس، ښهٔ خوراك او اهل وعيال ته نشے کتے۔ او د خپلے تنګ ظرفۍ په وجه د احتيال کوے، چه د غه ټول نعمتونه د د هغه نه لرے کړے شي، کوم چه د هغهٔ خلاق او رازق هغه له ورکړي دي۔ دا د لسه شوه چه تهٔ د خدائے په خدائيۍ کښ د هغهٔ په تقسيم رزق کښ او د هغهٔ په اختيار کښ د خل ورکول غواړے او دا صريحًا کفر دے۔

ياد ساته چه د الله تعالی اختيارات ستا اختيارات کيدے نشي۔ او د هغهٔ تصرفات ستا تصرفات کيدے نشي۔ الله تعالی چه چا ته څهٔ نعمتونه ورکول غواړي نو ته د خپل حسد په جذبه کښ د هغه مقابلے ته را اوو ځے او دا غواړے چه کوم نعمتونه الله پاك بل ته ورکړے دی، هغه پرے تهٔ بند کړے۔ نو دا خرګنده د مشيت ايزدي سره مقابله نهٔ ده؟ کهٔ ده، او يقينًا ده۔ نو تهٔ په دے پوه شه چه په دے کښ ستا د پاره خير نشته۔

حسد يو داسے لعنتي څيز دے چه ستا ايمان د کوکار د خپل مولی د رحم نه د غور ځوی۔ او الله پاك د مخالف کوی۔ قرآن حکيم کښ چه د حضرت يوسف عليه السلام او د هغه د رونړو کومه قصه ذکر ده د هغے په مقصد او معنے لږ غور اوکړئ۔ چه د يوسف عليه السلام رونړو



باوجود د ساز شونو، هغه د هغے او چتے مرتبے او بے حسابه نعمتونو نه محروم نهٔ کړے شو، کوم چه د هغه په مقدر کښ وُو۔ او بيا څومره هغوئ په خپلو کړو ستومانه شو۔ او هرکله چه مصر کښ يوسف عليه السلام ته پيش شو، نو دا ئے اومنله " څمونږ د په خدائے قسم وی، چه تاله بيشکه الله پاك په مونږ فضيلت درکړے دے۔ او مونږ د خپل ظلم زياتئ معافي غواړو۔"

حضور صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دی:" حسد د مسلمانانو نيکي داسے سيزی، لکه اور چه لرګی۔" او حديث قدسی دے، چه الله پاك فرمائی: حاسدان څما او څما د نعمتونو دشمنان دی۔" حاسدان د الله دشمنان په دے شان دی۔ چه الله پاك د خپل مشيت ماتحت چه خپلو بنديانو ته څهٔ څيز او څومره ورکول غواړي، نو دوئ ئے مخالفت کوی۔ او الله پاك فرمائی:" په دنياوی ژوند کښ مونږ د خپلو بنديانو رزق خپله تقسيم کړے دے۔" نو بيا څوك دا جرأت کولے شي، چه د الله تعالی د فيصله شوی تقسيم خلاف خبره اوکړي او د هغه مقابلے ته او دريږی۔

ياد ساته چه بل سره حسد کول په خپل ذات ظلم کول دی۔ او دا د بدين قسم حماقت او ناروا بخل دے۔ الله پاك فرمائی:" مونږ خو په خپلو بنديانو ظلم نهٔ کوو۔ هغوئ د خپلو بدعملو او حسد په وجه خپله په خپل ذات ظلم کوی۔



بل ځائے ارشاد باری تعالی دے " څما احکام او فيصلے نهٔ بدليږی، او نه زهٔ ذره برابر په خپلو بنديانو ظلم کوم۔" نو ستا د سلامتئ د پاره بهتره دا ده، چه يو مسلمان وروره خوشحالئ او اسوده حالئ کښ اووينے، نو هيڅ کله هغه سره حسد مهٔ کوه۔ بلکه د هغهٔ په کاميابئ او ترقئ خوشحاله شه۔ د دے طريق عمل سره به الله تعالی ستا نه رضا شي او د خپل قسما قسم نعمتونو پرزونه در باندے اوکړي۔ الله پاك د مونږ او تاسو د حسد نه په امان کړي۔ او د خپلو نعمتونو د شکر توفيق د راکړي۔ آمين۔

تهٔ خپل ذات سره هم حسد مهٔ کوه۔ خپل ذات سره حسد کول دا دی۔ چه ستا رازق په خپل فضل او کرم تا ته کوم نعمتونه درکړے دی۔ د هغے په استعمال کښ ته د بخل نه کار مهٔ اخله۔ لکه دا چه په خپل ځان او اهل وعيال د خوراك څښاك، جامے، او رهائش په حقله تنګسه ستی راولے۔ داسے کول خپل ذات سره څرګند حسد او ظلم کول دی۔ او د الله تعالی د نعمتونو ناقدري۔

د نعمتونو شکر دا دے چه د هغے د پيتولو په ځائے هغه ظاهر کړے او په ارت مټ ئے استعمال کړے۔ الله پاك خپل رسول برحق ته فرمائی۔" د خپل پروردګار د نعمتونو اظهاره اوکړه او د خلقو مخکښ ئے بيان کړه۔" الله تعالی د مونږ له د شکر نعمت عملی توفيق راکړی۔

آمين



## مقاله (۳۸) د صدق او اِخلاص اجر

کوم سړے چه د دين برحق خدمت او تبليغ او اشاعت په صدق او اخلاص سره اوکړي نو د الله اجر د هغه د پاره کافی دے۔ او هغه دا چه دنيا او عقبی په دواړو جهانو کښ به باعزته او باآبرو وی۔ الله پاك فرمائی:" تاسو د الله مدد کوئ، هغه به ستاسو مدد کوی۔" او په صراط مستقيم به مو ثابت قدم کړي، نو زهٔ تاسو ته دا تلقين کوم چه د الله د کلام تبليغ او اشاعت کوئ۔ هغهٔ سره څوك مه شريکوئ۔ او تسليم او رضا خپل شعار جوړ کړئ۔

کوم مسلمان چه د الله د کلام او د نبی ﷺ د سنت د تبليغ او اشاعت د پاره خپل ژوند وقف کړي نو د هغهٔ اجر او ثواب د في سبيل الله جهاد کونکو نه هم زيات وی او د الله تعالی مدد او نصرت هميشه د هغهٔ شامل حال وی۔

## مقاله (۳۹) ردِّ نعمت کفران نعمت دے

د حکم الهی نه بغير محض د نفس په خواهش د يو څيز قبلول ګمراهی ده۔ ولے د خواهشِ نفس خلاف د رضائے مولی په خاطر د يو څيز قبلول او د هغے په تحميل کښ تکليف برداشت کول د انبياؤ او اولياؤ اسوهٔ حسنه ده او داسے مخلصين به د دوئ په ډله کښ پورته کولے شي۔

ياد ساته! چه هرکله الله تعالی په تا د نعمتونو پرزونه کوی او تهٔ هغه نه قبلوے۔ يا د هغے نه روګردانی کوے، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اسراسر کفران نعمت دے ۔ او د الله پاك د رزق او عطیاتو بے قدري ده ۔ نو د الله تعالی د رزق او د هغهٔ د نعمتونو په خوشحالئ سره استقبال کوه ۔ او د هغه په خوشحالئ قبلوه ۔ ځکه چه د ے سره ستا په رزق کښ زیاتی او برکت راځي ۔

## مقاله (۴۰) ولایت د شریعت مکمله پیروی ده

ترڅو چه ته د نفس اماره نه ازاد نهٔ شے ۔ او د شریعت مکمله پیروی اختیار نهٔ کړے ، نو د اولیاء الله په ډله کښ د داخلیدو کوشش مهٔ کوه ۔ د شریعت د پیروئ دا مطلب دے چه ستا ټول اقوال ، افعال د الله تعالی د امر و نهی مطابق شي ۔ یعنی ستا اوریدل ، لیدل ، تلل ، او دهٔ کیدل ، وینیدل الغرض ټول اعمال د رضائے الهی ماتحت شي ۔ او دا هرڅهٔ د دین او ملت د حد متعدد پاره وي ۔

ستا جسمانی څیز ونه ستا د پاره د پروش د کار نه د جلب او لیے والی باعث وي ۔ ترڅو چه ته اصلاح باطن او تزکیهٔ روح سره خالص روح جوړ نهٔ شے او د جسمانی کردونو نه ویزاره نهٔ شے نو قرب خداوندی به حاصل نهٔ کړے شے ۔ ولے هرکله چه ته ریاضت او مجاهدے سره خالص روح شے ۔ او هر لمحے ذکر الهی کښ مصروف شے ۔ نو په تا به اسرار الٰهی راڅرګند کړے شي ۔ او د کائنات حکمتونه به تا نه بے نقابه شي دا د فنافی الذات مرتبه ده ۔



کله چه تهٔ د عالم سفلی نه بے تعلقه شے ۔ او اشیاء د دیدار او جلوهٔ خداوندی د پاره حجاب اوګڼړے ، ځکه چه حضرت ابراهیم علیه السلام د توحید د حقیقت نه پس اوفرمائیل ، بے شکه دا ټول بُتان د شرك په وجه زما دشمنان دی ۔ او یو خدائے زما رهنما او دوست دے ۔ د غه شان چه تهٔ هم خپل خواهشات نفسانی او مخلوقات د معصیت بُتان اوګڼړے او د هغوئ د فرمانبردارئ نه لاس په سر شے نو هله به په تا د علوم لَدُنّی او اسرار الٰهی کشف شروع شي تهٔ به د را زدارو نه شے او د ولایت د عجائباتو قوت او صلاحیت به تا ته عطا کړے شي ۔ د غه وخت به تهٔ محسوسه کړے ، چه تا یو معنوی ، روحانی او باطنی ژوند بیاموند ۔ ستا ټول وجود به د قدرت الٰهیه مظهر جوړ شي ۔ بیا به ته د هغے په رابطه آورے ، ګورے ، ګرزے ، او خبرے ، د هغهٔ نه به آرام او اطمینان بیا مومے ۔ د امر و نهی پیروی به کوے ۔ د حدود شرعي حفاظت به کوے ۔ او غیر الله به موجود نه وینے ۔

د ولایت درجه بیاموند لو د پاره ، اتباع نفس ، فسق و فجور او لغویاتو نه پرهیز اوکړه ۔ او په اخلاص د شریعت پیروی اختیار کړه ۔ خو یاد ساته ۔ چه د کوم حقیقت یا طریقت شروع تائید او نهٔ کړي ۔ هغه جائز اونهٔ کړي هغه جائز اونهٔ ګڼړه ۔ هغه صریحًا کفر دے ۔



## مقاله (۴۱) ازمائش نه پس د الله پاك پیروئ وئے

زهٔ تاسو ته د الله او د بنده د تعلقاتو متعلق یو مثال بیانوم :- یو بادشاه شاه دے چه هغه په خپل رعایه کښ یو سړے اهل اووینی ، او د ښار حکومت ورته حواله کړي ۔ په خلعت او اعزاز ئے سرفراز کړي ۔ او خپل معتمد ئے جوړ کړي ۔ بیا دغه سړے د خپل منصب د رعایت نه یوه موده پورے خپل فرائض په ښهٔ شان سره ادا کړي او بادشاه ته د خپلے بے اعتدالئ هیڅ موقع په ګوتو نهٔ ورکوی ۔ د ښار خلق هم د دهٔ د ښه انتظام په وجه د دهٔ نه خوشحاله وی ۔ او شاباسے پرے وائی ۔ او بادشاه هم د دهٔ په طاعت او صلاحیت مطمئن دے ۔

څهٔ موده پس دغه سړے په عیش و عشرت کښ پریوځي د خپلے عهدے په غرور کښ د خپلو فرائضو نه بالکل بے پرواشی چه بادشاه ته د دهٔ د حالاتو پته اولګی ۔ نو هغه پرے قهرجن شي او د عهدے نه ئے مات کړي ۔ بیا ورسره د هغے جرمونو محاسبه راواخلی کوم چه دهٔ د خپل حکومت په دوران کښ د بادشاه د امر و نهی خلاف کړے وی ۔ د تحقیقاتو نه پس دے بندیوان کړے شي ۔ د دے سره ، د دهٔ غرور او تکبر زائل شي ۔ او دے په خپلو تقصیرونو او کوتاهو پښیمانه او توبه ګار شي ۔ د دهٔ دا پښیمانی او انکسار چه د بادشاه مشاهده کښ راشي ۔ نو خپل زوړ منصب



دوباره ورکړي ۔ او د یو ځل نه زیات احسان ورسره راواخلی د احکومت او قیادت دهٔ ته دائمی ورکړے شي ۔ او واپس ئے ترے بیا نهٔ اخلی ۔

دغه مثال د الله او د بنده د تعلق هم دے ۔ الله تعالی چه یو مؤمن بنده خپل مقرب جوړ کړي ، نو په هغه د خپلو بے حسابه نعمتونو پیرزوینے کوی ۔ د الله پیرزوینے چه نه یے سترګے لیدلے وی ۔ او نه یو غوږ اوریدلے وی ۔ لکه باطنی نعمتونو کښ د زمکے او آسمانونو عجائب ، د کائناتو اسرار ، کشف روحانی ، د دُعا قبلیدل ، تقوٰی ، محبوبیت قلب کښ د کلمات حکمت نزول او ذکر وغیره ۔ د غه شان ظاهری نعمتونه پرے هم تمام کړي ۔ لکه صحت او توانائی ښهٔ خوراك څښاك ، حلالو څیزونو کښ فراخی ، نیکه بی بی او ښهٔ اولاد ۔

په دے باطنی او ظاهری نعمتونو تر ډیره وخته دے ښاد وی ۔ حتی چه دومره دے کښ مشغول شی چه غفلت کښ کښیوځي ۔ خپل معبود هیر کړي ، او د نفس اماره تابعداری راواخلی ۔ فسق و فجور کښ پریوځي چه الله پاك د دهٔ دا کیفیت اووینی نو د اصلاح د پاره ئے په مصیبتونو کښ راګیر کړي او سختو او پریشانو کښ ئے اخته کړي ۔ بیا دے په خپلو حالاتو سوچ او فکر راواخلی ۔ او د خپلو باطنی او ظاهری تغیراتو نه محسوسه کړي چه دا هرڅهٔ د دهٔ د معصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوغفلت په وجه وی۔ نو د ے د الله تعالیٰ په حضور کښې توبه کار شی۔ او صراط مستقیم ته رجوع اوکړی او عملاً خپل ژوند د ستور العمل اختیار کړی۔

د نفسِ امّاره د اتباع نه چه د ے بیزاره شی۔ او خپل پروردګار ته راجع شی۔ نو د الله تعالیٰ د طرف نه دهٔ ته بشارتونه (خوشخبری) اوروسے شی او تیر نعمتونه ورته دوباره بیاً انعام وس کړے شی په دهٔ د الله تعالیٰ د باطنی او ظاهری برکاتو دروازے پرانستے شی۔ خلق خدا ورسره محبت او تعاون راواخلی۔ هر ځائے د دهٔ تعریف او توصیف کیږی۔ او بادشاهان ئے مسخر شی۔

دغه شان الله تعالیٰ خپل باطنی او ظاهری نعمتونه په دهٔ تمام کړی۔ الله پاك فرمائی: "هیڅ انسان ته دا نهٔ ده معلومه، چه د دهٔ د نیک اعمالو په بدله کښې د دهٔ د پاره د زړهٔ د خوښیدو کوم کوم نعمتونه پټ ایښودے شوے دی۔

## مقاله (۴۲) د نفسِ انسانی دوه حالتونه

د نفس انسانی دوه حالتونه دی۔ یو راحت او بل مصیبت۔ او دا حقیقت د ے چه انسان په د ے دواړو حالتونو کښې ازمائیلے۔ ترکومه حده چه د ے د خپل پروردګار مطیع او فرمانبردار د ے۔ الله پاك فرمائی: "انسان چه راحت کښې شی نو نافرمانی راواخلی او چه مصیبت کښې



شی، نو شکوه او شکایت کوی"۔ واضحه ده چه دا د نفسِ انسانی کمزوری ده۔ چه د راحت په حالت کښې د تقوی او شکر نه کار نهٔ اخلی، او د مصیبت په حالت کښې صبر، تحمل او توکل نهٔ اختیاروی۔ او د الله پاك خلاف بدګوئی شروع کړی۔

د نفس کار ګستاخی او بے ادبی ده۔ او د مخلوقاتو الله پاك سره شریک جوړول دی۔ بلهٔ دا چه نفس هیڅکله د الله په ورکړی شوی رزق مطمئن او شکرګذاره کیږی نه۔ او همیشه د خواهشاتو د کبله انسان په پریشانئ کښې ساتی۔ بیا چه نفس د مصیبتونو نه خلاصے بیامومی، نو غرور، تکبر او عیش کښې کښیوځی۔ او د خپل پروردګار د اطاعت نه روګردانی راواخلی نو بیا په مصیبتونو کښې راګیر کړے شی د پاره د د ے چه د ده خیری او ویخلے شی او د شرك او فسق نه منع شی۔

بیا که نفس غفلت او معصیت پریږدی۔ او په سمه لار شی۔ او اطاعت او شکرګزاری راواخلی نو الله تعالیٰ پرے د خپلو نعمتونو دا ئمی پرزوے شروع کړی او هر حالت کښې د هغه معاون او مددګار وی۔ نو کوم سړے چه دنیا او آخرت کښې د سلامتی خواستګار وی۔ هغه له پکار دی چه صبر او تحمل اختیار کړی او د رضائے الٰهی نه مخ نهٔ اړوی۔ او خپل حاجات همیشه د هغه نه طلب کوی۔ ځکه چه الله تعالیٰ



ورکوی۔ په هغه شکر اوباسی۔ او د هغهٔ نه د هر څهٔ اُمید ساتی۔

تا د الله تعالیٰ دا ارشاد نهٔ د ے اوریدلے چه هرکله الله تعالیٰ د یو څیز په وجود کښې د راوستلو اراده اوکړی، نو ورته اووائی "کُن (شه)، نو هغه فوراً شی (یعنی وجود کښې راشی)"۔ او الله پاك فرمائی "مومنانو له خو صرف په الله پاك تکیه پکار ده"۔ د الله پاك قول افعال ټول او د حکمت او مصلحت نه ډك وی۔ خو هغه خپل حکمت او مصلحت د بندیانو نه پټ ساتلے د ے۔ بنده له پکار دی چه رضا او تسلیم اختیار کړی۔ او د الله حکم سره اتفاق اوکړی او خپل ګفتار او حرکاتو سکناتو کښې د الله تعالیٰ خلاف د شکوے او شکایات نه منع شی۔

حدیث شریف د ے۔ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم پسے سور وُم۔ نو حضور صلی الله علیه وسلم ماته ارشاد اوفرمایهٔ "اے هلکه! د الله د حقوقو حفاظت کوه، الله به ستا او ستا د حقوقو حفاظت کوی۔ الله حاظر او ناظر اوګڼړه، نو هغه به تهٔ د خپل وړاندے موجود بیامومے، او چه ته سوال کوے، او مدد غواړے، نو د الله نه غواړه"۔ الله چه د بندیانو په قسمت کښې څهٔ لیکلے دی هغه د ازل نه مقدر شوے دی او هیڅوك ئے نشی بدلولے۔ چانه چه څهٔ فائده یا نقصان رسیدونکے د ے، هغه به



ورته ورسی۔

کهٔ ته په الله توکل اوکړے۔ او محکم یقین پرے اوساتے نو دیر خیر به بیامومے۔ او کهٔ یقین او توکل برقرار اونهٔ ساتے نو کوم څیزونه چه تهٔ بد ګڼړے، هم هغه به ستا د پاره د تکلیف باعث شی۔ په هغه صبر او تحمل کول ستا د پاره ډیر غوره دی۔ یاد ساته چه د صابرانو د پاره د الله تعالیٰ مدد یقینی د ے ځکه چه د مصیبت نه پس راحت د ے۔

مؤمن له پکار دی، چه خپل قلب او دماغ صفا کړی، او د نفس د وسوسونه ځان بچ کړی۔ د مؤمن د پاره عافیت په د ے کښې د ے، چه د دغه حدیث په معنو بنهٔ غور اوکړی او تل عمری پرے عمل اوکړی، چه د دنیا او عقبیٰ د ټولو آفتونو نه سلامت شی۔ او حقیقی اطمینان قلب بیامومی۔ او د الله پاك په رحمت به دواړه جهانه ښاد شی۔

## مقاله (۴۳) د مخلوق نه سوال کول

د مخلوق نه صرف هغه خلق سوال کوی۔ چه د هغوئ یقین او ایمان ضعیف وی۔ صبر او توکل پکښې نهٔ وی، او د توحید الٰهی معرفت نهٔ لری۔ د د ے برعکس د غیر الله نه د سوال کولو نه فقط هغه خلق محفوظ پاتے کیدے چه د حق تعالیٰ د توحید معرفت لری، محکم یقین او ایمان لری۔ د هغوئ طریقه توکل علی الله وی۔ په ذکر او فکر همیشګی کوی د حقیقت او صداقت بصیرت لری۔ او د اقتضائے ایمانی

په وجه د دے خبره نه شرم او حیا ورځی چه د حی وقیوم الله پاك په موجودګی کښ مخلوقاتو کښ د چا نه سوال اوکړی.

## مقاله (۴۴) بعضے دعا ګانے ولے نهٔ قبلیږی

د مؤمن هره دُعا لازمی طور سره نهٔ قبلیږی. او کومه دُعا چه قبوله نهٔ شی. نو د هغے په نهٔ قبلیدو کښ د خدائے حکمت او ډیرے پټے فائدے پرتے وی. انسان عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے. او هغه بنهٔ پوهیږی. چه د هغهٔ د بنده فلاح او بهبود په څهٔ څیز کښ دے. ځکه د یو آیت مفهوم دے. چین ممکنه دے، چه د یو څیز ځان د پاره ښونګل موږ بنهٔ ګڼو، لیکن حقیقتاً هغه څموږ د پاره مضر وی. او الله تعالیٰ ئے بے ښوبنتلو موږ ته عطا کړی. بعضے وخت د دُعاد نهٔ قبلیدو یو سبب دا هم وی چه بنده غافل نشی. او خوف ورجا (ویره او امید) چه د ایمان دلوازماتو نه دی، د هغه نه زائل نشی. د معرفت او حقیقت په هر حال کښ امید او ویره لازم او ملزوم څیز ونه دی. او د دے مثال لکه د مرغۍ د دوو پرو بغیر نشی الوتے، د هغه شان د یو مؤمن حال هم د خوف او رجا بغیر ناقص او نامکمل وی. د مومن حال او مقام دا دے چه هغه غیر الله ته رجوع اونهٔ کړی. نو د هرے دُعا په قبولیت اصرار کول هم د غیر الله حیثیت لری او د مؤمن د توحید عقیدے سره بنائی.

د هرے دُعا د نه قبلیدو دوه واضحه سببونه دی. یو څو



دا چه مؤمن کښ تکبر او غرور را نشی. او هغه د الله په آدب او احترام کښ غافل او ګستاخ نشی. او دوئم سبب ئے دا دے چه محض د خواهش او عادت په طور سوال کول رسم جوړ کړی. ځکه چه دا هم د شرك خفی یو صورت دے. او شرك خفی د شرك جلی نه په دوئمه درجه خراب څیز دے. د الله تعالیٰ نه چه سوال خالصهٔ د اتباع شریعت او تعمیل امر د پاره وی. نو هغه سوال د مؤمن د پاره زیات د قرب او رضائے الٰهی باعث وی. او د غسے نو سوالونه چه د نفس د خواهشاتو نه مبرّا وی نو د هغے قبولیت یقینی وی.

د مؤمن د بعضے دعا ګانو د نه قبلیدو چه موږ کوم اسباب بیان کړل د هغے نه دا مطلب هرګز نه دے چه بنده د خپل حاجات خدائے ته نهٔ پیش کوی. او د هغهٔ نه د سوال کولو کښ کوتاهی کوی. ځکه چه مؤمن د خدائۓ نه سوال اونهٔ کړی. نو د چانه به ئۓ کوی. الله پاك فرمائی: "څما نه سوال کوئ، چه حاجات موتر سره کړم". او بل ځائے ارشاد دے: "اے پیغمبره! چه څما بندګان څما متعلق ستانه تپوس اوکړی نو وس ته اووایه. چه زهٔ دوئی ته ډیر قریب یم. کوم وخت چه څوك ما نه سوال اوکړی، نو زهٔ ئے سوال قبلوم. نو بندګانو له پکار دی چه هغوئی څما اطاعت اختیار کړی او په ما محکم ایمان اوساتی چه په دواړه جهانونه خلاصه بیاموږی.



## مقاله (۴۵) اصحاب عُسُر او اصحاب یُسُر

د خلقو دوه ډلے دی، یو اصحاب عُسُر او بل اصحاب یُسُر. اصحاب عُسُر هغه خلق دی. چه مصیبتونو او پریشانو کښ اخته وی. او اصحاب یُسُر هغه خلق دی چه د راحت او آرام ژوند تیروی. خو دا یاد ساتل پکار دی. چه د دے دوو حالات د باطنی اسبابو او خارجی تأثراتو نه خالی نهٔ وی. کوم خلق چه په راحت او آرام کښ دی. نو دا هم د هغوئی د پاره یوه ابتلا ده. چه آیا د نعمت او آسودګئ په حالت کښ هغوئی ذکر او شکر اختیاروی یا سرکشی راخلی.

هرکله چه دوئی د ذکر او اطاعت په ځائے غفلت او فسق او فجور کښ کښیوځی. نو الله تعالیٰ دوئی په قسم قسم مصیبتونو کښ واچوی. او د نا شکرئ په وجه ئے په عذاب کښ اخته کړی. که یو اسوده حال سړے په دے پوهیدے چه الله تعالیٰ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ دے، یعنی چه څهٔ غواړی هغه کوی. نو د نعمت په موجودګئ کښ به ئے غفلت او معصیت نهٔ اختیارولے. بلکه ذکر، طاعت او شکر کښ به مشغول وے.

که د یو دنیا دار سړی غفلت او معصیت په دے وجه وی چه هغه دا حقیقت هیر کړے دے. چه دے دنیا د آدم نه تر دے دمه پورے هیچا سره وفا نهٔ ده کړے او د هیڅ یو سړی حالات په یو کیفیت برقرار نشی پاتے کیدے.



او د هر سړی په ژوند کښ تغیرات راځی. او کهٔ د تغیراتو او تنزّل نه د چا هستی محفوظه ده. او محفوظه پاتے کیدے شی، نو هغه فقط د الله تعالیٰ هستی ده. مخلوقات د حالاتو د تغیر نه قطعاً بچ کیدے نشی. نو دے سړی د دولت په نشه کښ ابدی حقیقت هیر کړے دے. او غفلت او معصیت کښ اخته دے. نو دا سړے د الله د قهر او غضب نه ولے بچ شی. دا د الله پاك قانون قدرت دے، چه هغه په خپلو بندګانو د سختئ نه پس راحت راولی. او د نعمت په شکر په نعمت کښ اضافه کوی. ولے د راحت او آرام بیاموندلو د پاره سختی تیرول ضروری وی.

د صبر او شکر جزا همیشه د رزق فراخی او سکون قلب وی. او الله تعالیٰ د خپل امر و نهی د تعمیل کونکی معاون او مددګار دے. که د مصلحت وخت په بنا یو سړے په مصیبتونو کښ اخته کړی نو بیا ئے په نعمتونو او بخششونو هم ښاد کړی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "د الله پاك نعمت د یو وحشی ځناور په شان دے، په ثنا او شکر سره ئے قید کړه". نو د دعوت او نعمت شکریه دا ده چه د دے په وجه سړے متکبر او خلقو د پاره مضر نشی. اسراف اونهٔ کړی. د خدائی حدودو نه تجاوز نهٔ کوی. فسق او فجور او حرامو کښ کښینوځی. د الله د طرفه چه کوم حقوق العباد مقرر دی. هغه په خلوص

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادا کړی. زکوٰة په مکمل دیانتدارئ سره اوکاږی غریبانو او مسکینانو ته صدقه او خیرات ورکړی. حاجتمندو او مصیبت زده خلقو سره همدردی اوکړی. او د مظلوم مدد اوکړی. او خپل اعضاء د حراموننه بچ اوساتی. دا ټول اعمال د نعمت د شکر او زیاتی باعث دی. په دے عمل کونکے به په جنت کښ د انبیاؤ، صدیقانو او اولیاء الله ملګرے وی. او دنیا کښ به هم د عزت او ابرو خاوند وی.

دد ے برعکس کهٔ بنده د نعمت نا شکری اوکړی. او د دولت مندئ په وجه په غفلت او معصیت کښ ګنیو وځی. نو د هغه د پاره په دواړه جهانه ذلت او رسوائی ده. خو سره دد ے په دے حقیقت پوهیدل پکار دی چه د انسان په ژوند کښ آفات او بلیّات یوازے د غفلت او معصیت او د نعمت د ناشکرئ په وجه نهٔ وی. بلکه دد ے نور اسباب هم وی. مثلاً د مصیبتونو او تکلیفونو یو سبب دا دے چه دا د انسان د خپلو ګناهونو او اعمالو نتیجه وی او دد ے په وجه د انسان تهذیب او مغفرت مقصود وی. ځکه چه الله پاك غواړی. چه دا سے سړے د ګمراهئ او نافرمانئ نه بیزاره شی او په صراط مستقیم روان شی.

د آفاتو بلیّاتو دوئم سبب دا دے چه دا د الله تعالیٰ په مقرّب او برګزیده بندیانو یو ازمائش وی. او الله تعالیٰ دد ے په ذریعه د دوئ د ایمان، یقین، صبر او توکل امتحان

اخلی. او بیا دد ے آزمائش په وجه د هغوئ ایمان او توکل زیات محکم کړی. او دنیا او عقبیٰ کښ ئے درجے اوچتے کړی او د سختو مصیبتونو په وجه ورله لوئے اجرونه کړی. دد ے قسم برګزیده بندیان انبیائے کرام، صدیقین او اولیاء الله دی. دوئ د حال او مقام خاوندان وی. د دوئ یقین، ایمان او توکل د عامو مسلمانانو نه په درجو اوچت او محکم وی. او په دوئ مصیبتونو کښ هم د حقیقت او معرفت دروازے پرانستے وی. د ابتلا په وجه الله تعالیٰ په دوئ د توحید اسرار واضحه کړے وی. او دوئ د شرك جلی او خفی پاك ساتی. د پاره دد ے چه د دوئ باطن د انوار قدسیه نه معموره کړی، او دوئ مقربان بارګاه کړی. او بیا ئے په دواړه جهانه د آدم په اولاد سربلند کړی.

د مؤمن د ګناهونو نه د پاك کولو علامت دا دے چه هغهٔ له په ژوند کښ صبر جمیل ورکړی. او د لغویاتو نه په ذکر او فکر کښ مصروف شی. د مصیبتونو په وجه پریشانه نشی. او نه د مخلوقاتو مخکښ د خپلو مصیبتونو او پریشانو ذکر کوی. بلکه راستبازه اوسی. او خپل حاجات د خپل پروردګار په حضور کښ پیش کوی او د هغه نه مدد غواړی.

دد ے نه علاوه کومه ابتلاء چه د درجاتو او مقاماتو

د اوچت والی د پاره ده. نو د هغه علامت دا دے چه نفس مشیّتِ الٰهی سره موافقت راواخلی. او ذکر الٰهی سره سکون بیاموی. د غیر الله نه توجه اوګرځوی. او فنا فی الذات شی. دا ابتلا دا حالت د انبیاؤ علیهم السلام او برګزیده اولیاؤ د پاره خاص دے. او د عام خلق دد ے تقاضا پوره کولے شی. چه تائید الٰهی ئے خصوصیت سره شامل حال وی. هر سړے دد ے ابتلا جوګه کیدے نهٔ شی.

حاصل د کلام دا دے، چه اصحاب عُسر د آفتونو او مصیبتونو په وجه د خپل پروردګار نه ګِله او شکایت نهٔ کوی، بلکه په پوره یقین د په هغهٔ توکل ساتی او اصحاب یسر د دولت په نشه کښ سرکشی او نافرمانی نهٔ کوی. بلکه ذکر، طاعت، شکر او ثنا کښ د مشغول اوسی.

## مقاله (۳۶) یو حدیث قدسی

حدیث قدسی دے. چه الله پاك فرمائی: "کوم سړی چه ځما د ذکر په وجه د مخلوقاتو نه سوال او نهٔ کړو. نو زهٔ به هغهٔ ته د سوال کونکو نه هم زیات خیر ورکړم" دد ے وجه دا ده، چه هرکله الله پاك یو مؤمن خپل محبوب ګرځول اوغواړی، نو په هغهٔ د مختلفو مصیبتونو د آزمائش نه پس روحانی پیړنوالے کوی. مثلاً هرکله چه یو بنده په مصیبتونو او آفتونو کښ راګیر شی، نو د خپلے کمزورئ په وجه د خپل حقیقی



مشکل کشا او قاضی الحاجات په ځائے هغه مخلوقاتو ته رجوع کوی. او مختلف اندازکښ د خلقو مخکښ سوال کوی. خو مدد دا طریقه د توحید خلاف ده. په دے د بنده پریشانی ختم نشی. آخر هغه د مخلوقاتو نه بیزاره شی. د خپل خالق په مخکښ په سجده شی د هغه په ذکر او ثنا کښ محو شی. او خپل حاجات ترے غواړی. په دے حالت کښ دے د غیر الله تصور قدرے هم نهٔ کوی.

د توحید د حقیقت د بیاموندلو نه پس الله پاك ددهٔ حافظ، ناصر، معاون او مددګار شی، الله پاك فرمائی: "اے د الله بنیٔ! دوئ ته اووایه چه ځما مولا او والی الله دے، چه قرآن ئے نازل کړے دے. او د نیکو صالحانو مل دے" په دے وختاکښ د بنده د زړهٔ سترګے هم په دے حدیث قدسی او غوړیږی دا چه: "کوم سړی ځما د ذکر په وجه د مخلوقاتو نه سوال اونهٔ کړو. نو زهٔ به هغهٔ د سوال کونکو نه هم زیات خیر ورکړم" دا هغه توحید کل او محویت فی الذات دے، چه د اولیاؤ او ابدالو حاصه ده. دلته بنده ته هغه قوت ورکړے شی، چه په اذن الٰهی د دهٔ په حکم «کن» عجائب په ظهور کښ راځی. دهٔ ته انشراح صدر حاصل وی. او په دے دواړو جهانو کښ ئے ذکر خیر کیږی.

د الله پاك ارشاد دے "اے بنی آدمه! زهٔ الله یم ځما

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه علاوه بل هیڅوک معبود نشته - ز هٔ چه څهٔ څیز ته اووایم چه موجود شه، نو هغه فورًا موجود شی - خُما په وحدانیت کښې فنا شه چه بیا تهٔ هم کوم څیز ته اووائے چه موجود شه، نو هغه به خُما په اذن فورًا موجود شی"۔

## مقاله (۴۸) د سلوك ابتداء او انتهاء

یو بوډا سړی په خوب کښې خُما نه تپوس اوکهٔ - چه هغه کوم څیز دے چه د هغې په ذریعه بنده د الله پاك قرب بیامومی۔ نو ما جواب ورکهٔ چه د قرب الٰهی یوه ابتداء ده او بله انتها۔ دد ے ابتداء تقوٰی او پرهیزګاری ده - او انتها ئے تسلیم، رضا او توکل دے -

## مقاله (۴۸) د فرضو، سنتو او نفلو درجے

مومن له پکار دی چه د فرضو، سنتو او نفلو خپلے خپلے درجے اوپیژنی - او درجه په درجه د هغې تعمیل اوکړی هیڅ عبادت کښې داسے نهٔ دی کول پکار چه د فرضو نه مخکښې سنت او د سنتو نه مخکښې نفل اختیار کړی. هر مسلمان د د یولو نه مخکښې فرائض ادا کوی، چه د هغې نه فارغ شی - نو سنت د ادا کوی، او بیا ورپسے د نفل کوی - ترڅو چه یو سړے د فرائضو نه په بنهٔ شان فارغ نهٔ وی نو سنتو کښې مشغولیدل ئے جهالت دے - او د سنتو نه مخکښې نفل ګمراهی ده. نو کوم عبادت چه د دے قاعدے خلاف وی هغه په درګاهِ خداوندی کښې قبول



نهٔ دے -

د هغې سړی مثال چه د فرضو نه مخکښې سنت کوی، او د سنتو نه مخکښې نفل کوی داسے دے لکه یو بادشاه چه خپل یو ماتحت په خپل حضور کښې طلب کړی او هغه سړے د بادشاه په دربار کښې د حاضریدو په ځائے د چاوړیو په خدمت کښې لګیا شی - حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کوم سړے چه فرض پریږدی او نفلو کښې مشغول شی، نو د هغه مثال لکه د هغې حمله ارے ښځے دے چه کوم وخت د هغې د ننګون شی نو هغه حمل اوغورځوی، نو د غه هغهٔ نه حمله اره پاتے شو - او نه صاحب اولاده -

د غه رنګ الله پاك د چا نفلونه نهٔ قبلوی - ترڅو چه فرائض ادا نهٔ کړی - او د موټګزار مثال د سوداګر دے، چه ترڅو هغه رأس المال نهٔ لری - نو ګټه نشی کولے هم دغه کیفیت د هغې سړی دے چه فرض او سنت پریږدی او نفلو نو کښې مشغول شی - حالانکه د فرضو او سنتو په موجودګئ کښې نفل هیڅ اهمیت نهٔ لری ځکه چه دا یو اختیاری عمل دے او بنده د دے په ادا کولو مامور نهٔ دے . . .

د غه شان روژه قیاس کړئ یعنی فرض روژے پریښودل او نفلی روژے نیول ضلالت دے - او د غه رنګ زکوٰة چه فرض دے هغه نهٔ ادا کول او نفلی صورت



صدقه او خیرات کول جهل دے چه په درګاه د الله تعالٰی منظور نهٔ دے -

مؤمن له پکار دی چه د فرائضو اوّلیت او اهمیت هیر نهٔ کړی - د شرعی محرماتو نه پرهیز اوکړی - او الله پاك سره په مخلوقاتو کښې هیڅوک شریک نهٔ کړی - او نه د خلقو د خوشحالولو د پاره د امر الٰهی خلاف ورزی اوکړی - حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ یعنی په مخلوقاتو کښې د هیچا داسے تابعداری جائز نهٔ ده، چه د الله تعالٰی نافرمانی وی.

## مقاله (۴۹) د خوب او حرام خوراك مُذَمّت

کوم سړی چه خوب له په بیداری او اګاهی ترجیح ورکړی هغه په دواړه جهانه په خساره کښې دے ځکه چه خوب د مرګ استازے دے، او خوب چه د مناسبے اندازے نه زیات شی، نو بیا د غفلت علامت دے - او د مؤمن ذکر الٰهی او نیک عملی ته نهٔ پریږدی - د دے علاوه د خوب کثرت زړهٔ سخت او تاریک کوی - او فطری او روحانی ژوند ترے زائل کوی او لغویاتو ته میلان پیدا کوی - په دے وجه خوب پریږده - د خوب اثر قدرے هم الله تعالٰی سره څه تعلق نه لری ځکه چه هغه د ټولو سفلی نقائصو نه پاك دے - د غه رنګ په فرښتو هم خوب حرام دے ځکه چه هغوئ ته د الله پاك قربت حاصل دے او د غه



شان جنتیان به هم د خوب نه بے تعلقه وی - نو د یو مؤمن د پاره د ضرورت نه زیات خوب د زړهٔ د سختئ او د غفلت او معصیت باعث دے -

د دے برعکس بیداری د ذکر او عبادت د مخلوقِ خدا د خدمت او دنیا او عقبٰی د خلاصی باعث دے. نو کوم سړے چه د مناسبے اندازے نه زیات خوب محض د خواهش نفس په خاطر کوی، نو د هغه به دا سے بنو بنو نیکو او کارنامو نه کوتے اوخیژی - چه د هغې کمی به هیڅ کله پوره نهٔ کړے شی - د غه وجه ده چه ټولو انبیاؤ، صدیقینو او اولیاؤ الله په خپل ژوند کښې خوب کم کړے دے - او ویښ زیات پاتے شوی - او د بیدارئ په وجه ئے د ذکر او عبادت، تبلیغ دین او د مخلوقِ خدا د خدمت په برکت داسے اوچته درجے بیاموندے دی چه په خوب کښې هیڅکله نشی بیاموندے .

کوم سړے چه بیدار وی او ذکر الٰهی کښې مشغول وی نو د هغه قلب هم همیشه بیدار او د نور نه ډك وی. په دے وجه په صحیح معنو کښې د بیدار او سیدلو د پاره د حرامو نه هم ځان ساتل پکار دی - ځکه چه حرام قلب او دماغ دواړه تاریک کوی - او زړهٔ چه تاریک او زنګ آلود شی، نو د عباداتو قبولیت هم مشتبه شی - نو د زړهٔ د ژوند او معرفت او ذکر د پاره حلال رزق ډیر لازمی دے - حرام سرتر پایه شر دے - او حلال سراسر خیر دے - د دے په وجه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤمن د ذات او صفات الٰهی اسرار واضح کیږی.

بیا د امر الٰهی نه بغیر په حلال رزق کښې هم اسراف کول د نیکۍ په ځائے معصیت اختیارول دی. ځکه چه دے سره غفلت پیدا کیږی او زیات خوب راولی او د حلال رزق خوراک هم په اعتدال سره پکار دے چه هیڅ صورت کښې معصیت ترے جوړ نشی. الله پاك فرمائی :" اے مؤمنانو! ، حُما حلال رزق خورئ څښئ خو اسراف مهٔ کوئ ".

## مقاله (۵۰) د قرب الٰهی حصول او د هغے آداب

الله پاك سره ستا تعلق او معامله په دوه صورتونو کښې کیدے شی. یو خو دا چه تهٔ الله تعالیٰ ته قریب او نزدے ئے او دویم دا چه تهٔ د الله تعالیٰ نه غائب او لرے ئے، نو په تا دا فرض لازمیږی، چه تهٔ هغه ته د نزدیکت مخلصانه کوشش راوا خلے. او د هغے اسلوب تحقیق اوکړے چه تا د خپل خالق او پیدا کار نه لرے ساتی. نو د غفلت او سستی نه کار مهٔ اخله. او الله تعالیٰ ته د نزدیکت د پاره د اخلاص او ښه نیت کار واخله.

د قرب الٰهی یوه ذریعه دا ده، چه تهٔ د نفس اماره د بیرونۍ نه لاس په سر شے. او محرمات او شهوات پریږدے دونمه دریعه ئے دا ده چه د الله تعالیٰ په حضور کښې په



خپلو تیرو ګناهونو پښیمانه شے. د زړهٔ په صدق توبه کار شے. او د امر الٰهی پیروی اختیار کړے. ذکر الٰهی او اتباع شریعت سره سره د اهل الله صحبت هم د قرب الٰهی د حصول د پاره ډیر مفید دے، چه ریاضت، مجاهده او تزکیه نفس سره تا ته قرب خداوندی حاصل شی نو بیا چه ته د کوم څیز ارزو وکوے، هغه به تا ته درکولے شی او روحانیت کښې به حکمت کیږئ او کرامت عظمی حاصل کړے. او تهٔ به د هغے واصل بالله خلقو نه شے. چه په هغوئ هر وخت د الله پاك د نعمتونو او بخششونو باران وی.

په خپل هیڅ حالت مغروره کیږه مه. او خدمت خلق کښې د هیڅ قسم کوتاهی مهٔ کوه. ځکه ستا په اعمالو کښې به د ظلم او جهل شبهه پیدا شی. الله پاك فرمائی :" موږ خپل امانت یعنی دستور شریعت آسمانونو، زمکو او غرونو ته وړاندے کړهٔ ، خو هغوئ د دے بوجه د اوچتو نه عذر اوکړهٔ او ترے او ویریدل، لیکن انسان دا امانت ـے خوند او چت کړهٔ. بیشکه چه انسان د خپلو فرائضو نه پوره کولو په صورت کښې ظالم او جاهل دے. نو پکار دی چه کوم خواهشاتِ نفسانی ته د رضائے الٰهی د پاره پریږدے، هغے ته دوباره مائل نشے. د هغه نه خپل قلب او دماغ محفوظ اوساته. فنا فی الله شه. او د امر الٰهی کامل



اطاعت اختیار کړه.

د الله تعالیٰ نه بغیر څهٔ چه کائناتو کښې دی، د هغے نه بے پرواشه. او خپلو مطالباتو کښې بغیر د الله نه بل چا ته رجوع مهٔ کوه. د دنیا مصیبتونه د الله د جانب نه یو اګاهی او ګنړه او عبرت ترے واخله. ځکه چه د دے نه ستا په سمه لار کول مقصود دی. بنده کښې چه د اخلاص او رجوع الی الله جذبه موجود وی نو هر حالت کښې الله پاك د هغهٔ معاون او مددګار وی. الله پاك فرمائی :" تاسو ما یاد کړئ، زهٔ به تاسو یاد کړم. او حُما شکر په ځائے راوړئ ناشکری مهٔ کوئ ".

## مقاله (۵۱) غیر الله نه د ویزارید و ثواب

کوم سړے چه خپل هستی د ذکر او عبادت د پاره وقف کړی، او د مخلوقاتو نه مخ واړوی، او فنا فی الله شی. نو هغهٔ ته به د نورو مؤمنانو نه دوچند ثواب ورکولے شی. یو خو خالصتاً د رضائے الٰهی د پاره د دنیا د ترك کولو په وجه، او بل خپل ځان د ذکر او عبادت د پاره وقف کړی. په هغهٔ د خدائے تعالیٰ نعمتونه او پیرزوینے نورے هم زیاتے شی او هغه د ابدالو او اولیاء الله په ډله کښې داخل شی.

بیا چه د غه عارف بالله د خدائے په نعمتونو او د امر الٰهی په جاری کولو کښې مشغول شی او په هغے کښې



ترے څه غفلت، معصیت یا شرك اونشی. نو په دے سبب هم هغهٔ ته دونړه ثواب ورکولے شی ځکه چه یو خو هغه په دے نعمتونو شکر اوباسی. او بل پرے غرور او تکبر او نهٔ کړی. او بله دا چه د زړهٔ په مینه امر الٰهی په ځائے راوړی. دلته کښې دا سوال پیدا کیږی، چه هر کله یو عارف دنیا او د هغے اسباب ترك کړی، او فنا فی الله شی. او په دے بنا په ابدالو او برګزیده اولیاء الله کښې شمار شی، نو بیا په دنیاوی مال و متاع کښې د هغه ولے مشغول شی حالانکه دا څیز د هغهٔ د مزاج او مذهب خلاف دے. نو د دے جواب دا دے چه إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ (اعمال په نیتونو مبنی دی) په دے وجه د هغهٔ په دنیاوی نعمتونو کښې مشغولیدل د امر الٰهی ما تحت او د شکر نعمت په وجه دی. الله پاك فرمائی :" که تاسو حُما په نعمتونو شکر اوباسئ، نو زهٔ به د زیاتو نعمتونو پیرزوینه درباندے اوکړم " بل ځائے ارشاد دے :" اے پیغمبره! کوم نعمتونه چه د الله پاك د طرف نه تا ته حاصل دی، د هغے اظهار اوکه او شکر پرے اوباسه ".

دا واضحه حقیقت دے چه د الله پاك عطا کړے شوی نعمتونه سړے په غفلت او معصیت کښې وانهٔ چوی، نو د هغهٔ په روحانی او باطنی عظمت هیڅ اثر نه غورځیږی. او الله تعالیٰ محض د خپل فضل او کرم په وجه هغهٔ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجر او ثواب ورکوی - او په خپل لطف اوکرم إحسان د هغهٔ پرورش کوی - ځکه چه هغه د رضا او امرِ الٰهی په خاطر د خپل نفس پیروی پریښې ده ، او خپل ځان ئې ذکر او فکر ته وقف کړے دے -

ددهٔ مثال د یو ماشوم رودونکی بچی دے - چه د نفس دتقاضو نه خبر نهٔ دے - او د خدائے په فضل د مور پلار په ذریعه د رزق په نعمت مطمئن دے - هرکله چه دے الله پاک د نفس د آفتونو نه آزاد کړی - نو د خلقو زړونه د دهٔ ته مائل کړی او هغوئی ورسره محبت او شفقت راواخلی - بیا هر سړے دهٔ سره احسان او مروت کوی - او د الله د رضامندئ په وجه ټول مخلوقات ددهٔ نه رضامند وی او ددهٔ خدمت او مدد کوی -

هر هغه سړے نه به د ویره اجر او ثواب ورکولے شی چه د غیرالله نه یو خواشی او ذکر او فکر کښې مشغول شی - د الله سړے په دواړو جهانو هر وخت خدائے تعالیٰ ته قریب وی - ددهٔ به هر قسم تکلیف لرے وی - او د کائنات ټول څیزونه ئې په خدمت کښې غاړه بسته ګیا وی ځکه چه الله تعالیٰ په هر حالت کښې ددهٔ معاون او مددګار دے -

په دے وجه «مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهٗ» ترڅوم سړے چه د الله شی ، نو الله د هغهٔ شی) - او الله پاک فرمائی:



«اے نبیؐ! دوئی ته اووایه ، الله خما مددګار دے ، چه په ما ئې خپل مقدس کلام نازل کړے دے - او هغه ، هغه خلق خوښوی چه صالحان وی -

## مقاله (۵۲) د اولیاء الله د ابتلاء سبب

الله پاک خپل بعضے برګزیده بندیان په دے سبب په مصیبتونو کښې اچوی ، چه هغوئی د مخلوق نه بیزاره شی - او الله پاک ته متوجه شی او د هغه نه دعاګانے اوغواړی ځکه چه الله تعالیٰ دُعاګانے او د هغهٔ نه حاجتونه غوښتل خوښوی د پاره د دے چه خپل فضل اوکرم پرے اوکړی -

هرکله چه برګزیده اولیاء د الله پاک په حضور کښې حاجات غواړی ، نو د الله پاک جود اوکرم ورته د اجابت او قبولیت د پاره هرکله وائی خوکهٔ بعضے وخت ددُعا په قبولیت کښې څهٔ تاخیر راشی - نو دا د یو خاص مصلحت په بناوی او د مؤمنانو د پاره د پریشانئ څیز نهٔ دے - نو پکار دی چه د مصیبتونو په دوران کښې ذکر الٰهی جاری اوساتلے شی او د امر و نهی پوره پابندی اوکړے شی - او خپل حاجات او ضروریات د الله پاک نه باقاعده غوښتلے شی -

الله پاک فرمائی: «اُدْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ» (ما نه سوال کوئی ، زهٔ به مو سوال قبلوم) بنده له پکار دی چه د مصیبت په وخت کښې عجز او زاری هرګز پرے نږدی - ځکه چه

بعضے اوقات الله د مصیبتونو په ذریعه مؤمن دُعا ته سازوی ، چه غفلت او معصیت ترے لرے کړی ، او خپل مقرب ئې جوړ کړی -

## مقاله (۵۳) د الله پاک د رضا طلب

د الله پاک د رضا طلب کوئی - او د هغهٔ د خوشنودئ د پاره د نفسِ اماره د خواهشاتو د اِتّباع نه کناره کش شئ - ځوک چه په رضائے الٰهی کښې فنا شو ، نو حقیقی بقائے بیا موندهٔ - خپل خواهشات او ارادے د رضائے الٰهی تابع کړه ځکه چه د نیا کښې هم دغه یو لوے نعمت دے او هم د ادقربِ الٰهی د ټولو نه پروړمبئ او بهترینه ذریعه ده -

ځوک چه د الله په رضا کښې فنا شو او خپل خواهشات ئې د هغهٔ د امر د امر په تعمیل کښې پریښودل - نو د دنیا او عقبٰی هر قسم عذاب په هغه حرام شو - او څوک چه د الله د رضا طلبګار وی . نو د هغه د پاره دا هم لازمه ده چه الله تعالیٰ د خپل مشیت ما تحت کوم نعمتونه او رزق هغه ته عطا کړی ، نو په هغې د شکرګذار شی ، او د نورو خلقو حقوق دِ هرګز نهٔ غصب کوی . او نهٔ دے په ظلم زیاتی په هغوی د نعمتونو او د رزق د بندولو کوشش کوی ، کوم چه د هغوی په مقدر کښې وی - ځکه چه د حقوق العباد غصب کول په مشیت الٰهی کښې دخل کول دی ، او صریحاً شرک دے چه د الله تعالیٰ په نزد ناقابلِ عفو دے .



الله پاک فرمائی: «د یو بل مالونه او جائداد و نه په باطله ذرائعو مهٔ غصب کوئی» نو دا یو بنیادی اصول دے چه ددے پیش نظر د هرے ممکنے بد دیانتئ تردید پکار دے - د الله پاک د رضا طلبګار دی چه په ذکر او عبادت کښې مکمل اخلاص اختیار کړی او اخلاص یوازے دا نه دے چه په عباداتو کښې صرف د ریا کاری نه پرهیز اوکړے شی بلکه د اخلاص یو اهمه تقاضا دا هم ده ، چه هیڅ یو عبادت ، خواه فرض وی یا نفل ، د هغې په ادا کولو کښې د الله تعالیٰ نه د اجر او ثواب یا معاوضے څه خواهش او نهٔ ساتی . بلکه د عبادت مقصد صرف رضا او اطاعت الٰهی اوګڼی -

کوم اولیاء الله او صوفیائے کرامو چه د توحید حقیقت او ماهیت بیا موندلے دے - هغوئی هر هغه عبادت شرک ګڼړی چه په هغې کښې د الله تعالیٰ نه د اجر او معاوضے نیت وی - نو ذکر او عبادت او د احکام الٰهی پیروئ کښې د اجر و ثواب نیت نهٔ بنائی ګنی بیا دا د توحید نه منل دی -

ټول عبادات د الله پاک د جانب نه دی . کهٔ هغه موږ په ځائے راوړو ، او د الله د احکامو تعمیل اوکړو - نو دا هم سراسر د هغه تائید او نصرت دے - د احکام الٰهی د تعمیل د پاره چه د کوم قوت او همت ضرورت دے ، هغه خو هم د الله پاک عطا کړده دے . نو د عباداتو د اجر او ثواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلب کولو نه بهتره داده، چه دوی په ځائے بنده زیات ثنا او شکر ادا کړی. چه د الله د جانب نه پرے نعمتونه لا زیات شی او دنیا او عقبی کښ ددهٔ دپاره دبرکتونو باعث شی.

کهٔ تهٔ د رضائے الهٰی طلبګار یئے. او د الله تعالیٰ مغضوب او معتوب نهٔ جوړیږے. نو د خلقو حقوق په هیڅ وجه مهٔ غصب کوه. ځکه چه کوم خلق د الله پاک په ورکړے شوی رزق شکرګذار نشی. او د نورو حقوق په ظلم زیاتی غصب کوی، نو هغه په دواړه جهانه په خساره کښ دے. او څوك چه غاصبان وی د هغوئ ټولے نیکی برباد دی ځکه چه دا بد ترین خلق دی. او د کلام الله مطابق ظالمان او جاهلان دی چه د عقل او بصیرت نه بالکل خالی دی.

کهٔ دوئی د الله تعالیٰ په عطاشوو نعمتونو رضامند وے، د هغه شکرئے ادا کولے او د مخلوقِ خدا حقوق ئے په ناجائزه نه غصب کولے، نو یقینا د دے آیت: لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ (کهٔ تاسو شکر او باسئ نو زهٔ به زیات نعمتونه درکړم) مطابق به د هغوئ رزق زیاتید لے او د هغوئ مرادونه به پوره کیدل.

الله پاك د مونږ او تاسو د هغے خلقو نه کړی، چه ذکر او اطاعت کښ د الله پاك د رضا طلبګار دی او د الله



تعالیٰ د نعمتونو شکرګذار دی. او حسبِ شریعت د خپل حال د حفاظت دپاره د الله تعالیٰ د تائید او نصرت خواستګار دی. آمین.

## مقاله (۵۴) د تقویٰ شرح او وضاحت

کوم سړے چه عقبیٰ کښ فلاح و بهبود غواړی هغه له پکار دی چه د نفس او د دنیوی اسبابو پرستش پریږدی او دغه شان کوم سړے چه د الله پاك رضا غواړی، هغه پکار دی، چه د خپلو نیکو اعمالو د جزا تصور پریږدی. ځکه چه دا سے کول د توحید خلاف دی. او په اخلاص خراب اثر غورځوی.

ترڅو چه د یو سړی په زړهٔ کښ د شهواتو او دنیاوی لذاتو هوس موجود وی. نو هغه خپل عاقبت خاشته کولے نشی. او ترڅو چه یو سړے د عاقبت د جنت او ما فیها خواهشمند وی. نو هغه خالصتًا د دیدار او رضائے الهٰی طلبګار نهٔ دے. په دے بنا دا سے سړی د زهد او تقویٰ د حیثیت او ماهیت نه ناخبره دے. او د هغے د تقاضو نه نابلده. د دے وجه داده، چه دنیاوی اشیاء هر حالت کښ خواهشِ نفس او هوس سره متعلق دی. او نفسِ شرك ته میلان کوونکے دے. نو مؤمن له پکار دی چه خپل رغبت، محبت، انس او محبت فقط ذاتِ خداوندی ته وقف کړی او د نفس د دا سے ترغیباتو نه پرهیز اوکړی چه انسان غفلت او شرك ته



بلی.

دغه رنګ د نفس د ترغیباتو او لذات سفلی نه کناره کشی د سړی زهد او تقویٰ تکمیل ته رسوی. او هغه په درګاهِ خداوندی کښ د عزت او قبولیت درجه بیا موی. نو هرکله چه یو سړے په تقویٰ کښ پخته شی. نو بیا حقیقی معنو کښ هغه ته اطمینانِ قلب حاصل شی. ټول مصیبتونه ئے رفع شی او د الله تعالیٰ د بے حسابه نعمتونو پیرزوینے پرے شروع شی.

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د دنیا کښ په زهد د مؤمن قلب سکون او اطمینان بیا موی، او جسم پسے راحت، نو دا یو واضحه حقیقت دے، چه ترڅو د یو سړی په زړهٔ د غیر الله غلبه وی، هغه حقیقی خوشحالی او اطمینانِ قلب نشی بیا مومندے. دغه شان د نفسِ انسانی حجاب هم ترهغه بیرته کیدے نشی، ترڅو چه هغه په مکمله طریقه د دنیاوی علاقے پرے نږدی.

مؤمن له پکار دی، چه زهد فی الدنیا د تکمیل نه پس زهد فی الاخرت اختیار کړی. او د هغے تفصیل دغه دے ګنی ظاهره ده چه د هغه عبادت خالصتًا د رضائے الهٰی دپاره نهٔ دے. بلکه د حور و غلمان خواهش اونهٔ کړی، نو هرکله چه مؤمن زهد فی الاخرت اختیار کړی. نو الله تعالیٰ په هغه د خپلو بخششونو او نعمتونو دا سے پیرزوینے راواخلی، لکه چه په خپلو انبیاؤ، اولیاؤ او عارفانو ئے کوی. او خپل



محبوب او مقرب ئے جوړ کړی.

د زهد فی الدنیا او زهد فی الاخرت په برکت بنده ظاهری او باطنی لحاظ سره ترقی کوی. او دنیا او عقبیٰ کښ په دا سے نعمتونو ښاد شی، چه د ارشادِ نبوی مطابق هغه نعمتونه نه پرے سترګے لیدلے وی، نه یو غوږ اوریدلے وی او نه د یو انسان په زړهٔ ئے وهم و ګمان راغلے وی. او دغه دا سے خدائی نعمتونه دی چه انسانی عقل پورے د پوهیدلو نه عاجز دے. او تشریح او اظهار ئے په عبارت کښ ناممکن.

## مقاله (۵۵) د ولایت تکمیل

زهٔ تاسو ته د لذاتِ نفسانی د ترك کولو مختلف پوړئ بنائم. او د اهم درته واضحه کوم، چه د هوا و هوس او نفسِ اماره د پیروئ نه پرهیز کولو سره د ولایت تکمیل څنګه کیږی. نو د نفس د لا بچو او پابندو نه د خلاصی د پاره په شروع کښ انسان خپله د انتهائی جد و جهد او قوتِ ارادی نه کار اخلی. د خواهشات نفسانی نه د ده مزاج د عکس نه واقف او عادی دے. نو د عادت د بیخکنئ دپاره د دهٔ دپاره مجاهده ډیره ضروری ده. خو د ده نیت او مقصد مبارك دے. په دے وجه الله تعالیٰ په خپل خاص تائید او توفیق د ده نصرت او مدد کوی.

الله پاك فرمائی: وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُبُلَنَا - (کوم خلق چه ځمونږ د رضا جویئ د پاره جدوجهد کوی. نو مونږ هغوئ ته د سمو لارو هدایت کوو - د رهنما یئ او د نفس امّاره د خلاصی نه علاوه الله تعالیٰ ئے د خپلو بعضے اولیاوُ او برګزیده بندیانو صحبت هم نصیب کړی - چه د هغے په ذریعه په ډیره مؤثره طریقه دده روحانی او باطنی تزکیه کیږی -

بیا دا سے مؤمن بنده د خپل نفس نه فانی شی - او ذاتِ الٰهی کښ باقی - هغه د ټولو حرام او مشتبه څیزونو نه د ډیرو ضرور یاتو کښ پرهیز کوی او صرف حلال او مباح څیزونه اختیاروی - چه د هغے په وجه د هغه دذکر او عبادت په قبولیت کښ هیڅ شبه پاتے نشی - دغه شان د شهواتِ نفسانی نه پرهیز کول، د محرماتو نه بچ کیدل د الله تعالیٰ د حلال او جائز څیزونو استعمالول او ذکر او عبادت کښ د مشغولیدو په برکت هغه د ولایت مقام ته اورسی - او د اهل همت او عزیمت اولیاء الله او خواصو په زمره کښ داخل شی - دلته دے په باطن کښ د الله د جانب نه دا آواز اوری: " چه هر کله تا د رضائے الٰهی د پاره نفسانی او دنیاوی خواهشات پریښودل، نو د عقبیٰ متعلق هم خپل خواهشات پریږ ده - او د اخلاص او توحید د تکمیل د پاره د ټول کائناتو او خپلو خواهشاتو نه ډډه اوکړه - او هغه سره د هر قسم د شرکت او بدعت د تصور او میلان



نه کناره کش شه - او فنافی التوحید شه - بیا خاموشیٔ او ادب سره ځمونږ د قرب او صدق مقام کښ داخل شه چه هلته به ستا د پاره دائمی خوشحالی او اطمینان وی - او هیڅ قسم غم او تشویش به نهٔ وی - نو تهٔ د خپل خالق او پروردګار د رضا او خوشنودی د پاره د ټولو مخلوقاتو او لذاتِ نفسانی نه روګردانی اختیار کړه -

یو مخلص او موحد سړی ته چه دا درجه حاصله شی نو په هغهٔ د الله تعالیٰ د طرفه د علوم او معارف کشف او د فضل و کرم انوار شروع شی - د غیب نه هغه ته خلعتِ الٰهی اغوستولے شی - بیا هغهٔ ته دا تلقین کولے شی، چه د الله تعالیٰ د دے خاص نعمتونو او عطیاتو هر وخت شکر په ځائے راوړه - ځکه چه د دے ناقدری کول د دے د عطا کوونکی سپکاوے دے - د غه وخت د ذکر او شکر په وجه په بنده د الله تعالیٰ د رضا، فضل و کرم او قرب خاص پیرزو وے اوشی -

بیا د الله تعالیٰ د نعمتونو او عطیاتو د قبلولو هم مختلف حالتونه وی - یو خو دا چه بنده محض خپل خواهش سره هغه قبول کړی، او دا مکروه او ناجائز دی - او دوئم صورت دا دے، چه هغه د شریعت د حکم ماتحت قبول کړی - او دا مباح او حلال وی - دده نه د پاسه صورت دا دے چه غیبی اشارے او باطنی حکم سره ئے قبول کړی - بیا د دے



هم او چته درجه دا ده چه د الله تعالیٰ ټول نعمتونه او عطیات د خپل خواهش او ارادے مطابق نه بلکه د مشیت الٰهی موافق قبول کړی - دا د مریډ د مراد موندلو - د ابدالیت د حاصلولو او د فعل خداوندی کامل متابعت دے، چه د ولایت انتها ده -

کوم سړے چه د ابدالیت دے درجے ته اورسی، نو دے د ارشادِ الٰهی مستحق اوګرځی. " اے نبیؐ! دوئ ته اووایه چه ځما حافظ او معاون الله تعالیٰ دے - چه خپل مقدس کلام ئے په ما نازل کړے دے - او د ټولو صالحانو مل دے " - په دے بنا متقی او صالح هغه سړے دے، چه د الله پاک د امر او نهی مکمل اطاعت کوی - او د محرماتو او مشتبهاتو نه پرهیز کوی - الله تعالیٰ خپله د داسے سړی مدد، حفاظت او پرورش کوی - دا سے سړے د قبض او بسط قسرق کیفیات او د حالاتو نشیب او فراز ته څهٔ اهمیت نهٔ ورکوی او د مشیتِ الٰهی ماتحت هر وخت خوشحاله او مطمئن اوسی او افعالِ الٰهی سره موافقت کوی -

دا هغه بلند ترین مقام دے، چه دلته د اولیاء او ابدالو باطنی احوال انتها ته رسی - او ولایت پرے تکمیل بیا مومی - او دلته په بنده هر وخت د انوارو او برکاتو نزول وی -



## مقاله (۵۶) د باقی بالله مطلب

هر کله چه یو مؤمن بنده د مخلوقاتو او خواهشاتِ نفسانی نه، خواه هغه دنیاوی وی یا اخروی، بے تعلقه شی او د الله پاک په ذاتِ واحد کښ محو شی - او د غیر الله تصورات د خپل قلب او دماغ نه بهر کړی نو هغه یقیناً فانی بغیر الله او باقی بالله شی - او هم دا د توحید انتها ده - داسے سړے د الله پاک محبوب او مقرب وی - او د مخلوقاتو په زړونو کښ هم د هغه د پاره محبت او عزت وی - دے د الله ذکر او حمد له په ټولو څیزونو ترجیح ورکوی او د هغه په فضل او کرم صاحبِ نعمت او دولت شی - د الله پاک د جانب نه هغهٔ ته خوشخبری ورکولے شی، چه ځمونږ نعمتونه او بخششونه به تل په تا فراوانه وی - او رزق به دِ فراخه -

دے حالت کښ بنده د الله تعالیٰ کامل اطاعت ګزار وی - دده اراده او تدبیر د الله پاک په مرضیٔ وی - او څهٔ چه د الله رضا وی، په هغے دده رضا وی - دے د الله نه سوا غیر الله نه وجوداً وینی او نه فعلاً بیا الله پاک په خپل قدرت کامله خپل ظاهری او باطنی نعمتونه په بنده داسے فراوانه کړی، چه د هغهٔ وهم و ګمان کښ هم نه راځی - ځکه چه د دهٔ ذاتی اراده د خدائے په اراده کښ فنا شی او د توحید برکات پرے شروع شی -

اوس دے بذاتِ خود د الله پاک اراده، بلکه د هغهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه مراد جوړ شي. ځکه چه د ارادے او خواهش د دهٔ ذات سره څهٔ تعلق پاتے نهٔ شو. بلکه دے سراسر ذات خداوندی سره منسوب کړے شو. د الله تعالیٰ اراده سراسر خیر دے. او هغه کښ شر له هیڅ دخل نشته. هغه هره لمحه د ارتقا شان لري. او د بنده ظاهري او باطني احوال بتدریج ارتقا بیاموي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته هم د معنوي او روحاني عروج دا درجه ځکه عطا شوے وه، چه دوئ د ذاتي ارادے او خواهش نه پاك کړے شوے وو. او ځان ئے د هر لحاظ نه د مشیّت الٰهي تابع کړے وو. دوئ یوازے د الله پاك محبوب او مقرب نه وُو بلکه د مراد درجه ئے هم بیاموندے وه چه فنا في الله کیدو سره حاصلیږي.

واضحه ده چه د حضور صلی الله علیه وسلم افعال په حقیقت کښ د الله پاك افعال وُو او کوم اصحابو چه په د حضور صلی الله علیه وسلم په لاس بیعت کولو. هغه د رحقیقت د الله پاك په لاس بیعت کول وُو. د حضور صلی الله علیه وسلم ارشادات د تقدیرات الٰهي ظهور وو. اګر که کفارو او منافقینو ته دا د تعجب خبرے ښکاریدے.

د دین د حقیقت او حکمت طلبګار له یادساتل پکار دي چه د یو ولي دپاره د روحاني او باطني عواملو انتها د یو نبي د روحاني او باطني عواملو ابتداء ده. او د ولایت او ابدالیت



د انتهائي درجے نه پس د نبوت نه سوا بله درجه نشته. نو کوم چه د خپل باطن تزکیه کول غواړي. او د نفس امّاره د شرنه د خلاصي خواهشمند وي. هغهٔ له پکار دي چه د داسے خلقو صحبت اختیار کړي. چه فاني بغیر الله وي. ځکه چه د حیات ابدي راز هم دغه دے.

## مقاله (۵۷) اولیاء الله او قبض و بسط

اولیاء الله خپلو باطني احوالو کښ کله قبض کښ وي، کله بسط کښ. د تصوف په اصطلاح کښ قبض هغه باطني کیفیت ته وائي چه په قلب روحاني حجاب او غفلت خور وي. او د هغے په دوران کښ د کشف او مشاهدے د لذّت نه خالي وي. دا حالت باطني او ذهني لحاظ سره انتهائي پریشاني پیدا کوي. خو د دے کیفیت لازمي نتیجه بسط و کشاد وي. چه د قبض ضد دے، د دے وجے نه اولیاء الله د قبض درد انګیز تأثرات په خوشحالئ برداشت کوي.

د اثر او نتیجے په لحاظ سره د قبض کیفیت هر حالت کښ د روحاني ترقئ سکون او اطمینان باعث وي. د دے وجے نه د دے نه د مکمله فائدے اخستلو تلقین شوے دے. او په دے بنا مشیّت الٰهي سره موافقت کول سراسر بسط دے. نو د ولي الله دپاره لازم دي چه هغه د تقدیر په امورو کښ هیڅ قسم جګړه نهٔ کوي. او د قبض او بسط دوران کښ د حالاتو تغیراتو سره موافقت او کړي ځکه چه



د واقعاتو او حالاتو ټول حکمتونه صرف الله تعالیٰ پیژني چه عالم الغیب دے او د افعالو او تقدیراتو ئے څهٔ انتها نشته.

په دے ضمن کښ دا خبره هم یاد ساتل پکار دي. چه یو مؤمن بنده خومره د لذاتِ نفساني نه ډډه کوي، هغومره به د قبض د حالت نه خلاصے بیاموي. او د بسط حالت به حاصلوي. ځکه چه د بسط کیفیت سراسر د نفس امّاره د لاتجو نه په خلاصي منحصر دے. هرکله چه د یو ولي الله باطن د نفس د خباثتونو نه بالکل پاك شي. او هغه کښ د خپل خالق او پروردګار نه سوا څه باقي پاتے نشي. نو د بسط کیفیت پورے مکمل طور سره ظاهر شي. او کرامات ترے ظاهریږي. نو د خواهشات نفساني نه خلاصے موندل د بسط علامت دے. چه د بسط د حصول بهترینه ذریعه ده. دا هغه مقام دے. چه الله تعالیٰ بغیر د بنده د سوال نه خپله د هغهٔ حاجت روائي او مشکل کشائي کوي.

هرکله چه یو ولي الله د نفسِ امّاره د پیروئ نه کلي طور سره خلاصے بیاموي. او په هر لحاظ رضائے الٰهي کښ فنا شي. نو هغه بذاتِ خود مشیّتِ خداوندي جوړ شي عجائب او غرائب ترے څرګندیږي. او د هغه احکام په کائناتو کښ جاري کیږي. دا هغه مقام دے. چه د حدیث قدسي مطابق الله پاك د دهٔ غوږ شي، چه پرے اوریدل کوي



او د دهٔ سترګے شي، چه پرے لیدل کوي. او د دهٔ ژبه شي چه پرے وئیل کوي. الله پاك ته خپل ولي ډیر نزدے وي او دا د الله پاك شان کرم نهٔ دے، چه هغه خپل ولي په ګمراهئ کښ اچوي. بلکه الله پاك د هغه د ظاهر او باطن حفاظت کوي. او د هغهٔ د سلامتئ دپاره هغه ته د حدود شرعیه د حفاظت او متابعت توفیق عطا کوي او د ټولو نه لویه خبره دا چه د امر الٰهي اطاعت او نهي نه پرهیز د هغهٔ د احوالو د سلامتئ ضامن وي او په هغهٔ د بسط و کشاد او قرب خداوندي پیرزوینے وي.

الله پاك فرمائي: "د هغه رنګ موږ یوسف علیه السلام په خپل حفاظت او مدد د بدراهه کیدو نه محفوظ کهٔ. بیشکه هغه څموږ د مخلص بندیانو نه وو" بل ځائے ارشاد دے. "اے ابلیسه ! ځما په مخلص او برګزیده بندیانو به نه هرګز غلبه بیانهٔ موے. ځکه چه هغوئ ځما توحید خپل قلب او روح کښ ځائے کړے دے" او الله پاك حضور صلی الله علیه وسلم ته خطاب فرمائي: "ځما مخلص بندیان به هیڅکله شیطان ګمراه نهٔ کړے شي. ځکه چه زهٔ خپله د هغوئ حفاظت کوم". (الله پاك د موږ هم د مخلص بندیانو نه کړي او د شیطان د ګمراهئ نه مو د په حفاظت کښ کړي. آمین)

هرکله چه د یو ولي الله خدائے تعالیٰ خپله محافظ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مددګار شی. نو بیا شیطان په هغه څهٔ اثر کولے شی. او په هر ما توکښ هغه څرنګ غوښتیدلے شی. الله دِ مونږ ټولو مؤمنانو له دامر د تعمیل او د نهی نه د پرهیز کولو توفیق راکړی. او د هغه خلقو روحانی صحبت مو دِ نصیب کړی، چه د قبض د پریشان کُن تکلیفونو نه ئے خلاصه بیا مونده دے، او په بسط وکشاد ښاد شوے دی، نو د ذکر او عبادت انتها، تزکیهٔ نفس، سکونِ قلب او د بسط جلودانی لذّات دی.

## مقاله (۵۸) توحید او فنائے نفس

خپلے ظاهری او باطنی سترګے د غیرالله نه واړوه، او صرف د باری تعالیٰ په هستیٔ ئے ښخے کړه. مخلوقاتو ته مهٔ ګوره. بلکه خالق او پروردګار ته اوګوره. که مخلوقات مشاهده کول غواړے، نو ستا د نظر منتها دِ د مخلوقاتو خالق او صانع وی د پاره د دے چه د هغه د عظمت او صنعت عرفان حاصل کړے. او د هغه په توحید پوه دے.

زهٔ په تا دا تاکید کوم چه د دے کائنات جهتونو (طرفونو) ته هم مهٔ ګوره. بلکه د هغه غیرفانی او ابدی ذات مشاهده اوکړه چه د زمان ومکان او د جهات د قید و بند نه بالکل آزاد او بالا تر دے تر څو چه ستا نظر صرف په مخلوقاتو ښخ وی نو په تا د الله تعالیٰ د ذات و



صفات د اسرارو کشف نشی کیدے. د توحید د جهت په خاطر د نورو ټولو جهتونو نه روګردانه شه. نو د غه وخت به ستا د زړهٔ په سترګه د الله پاك د لوئے فضل جهت پرانستے شی. او ته‌ به ازلی او ابدلی حقائق د نورِ ایمانی په رڼا کښ څرګند اووینے.

بیا د توحید نور به ستا د باطن نه ستا په ظاهر هم اشانداز شی. او ستا نه به کرامات ظاهریږی. خو په الله پوخُل د نظر ښخولو نه پس کهٔ بیا په غیرالله او مخلوقاتو نظر ښخوے نو تهٔ به د شرك مرتکب شے. ستا د زړهٔ په سترګه به پرده راشی، چه د هغے په نتیجه کښ به تهٔ د قبض په کیفیت کښ اخته شے. او دا سزا به د د غے شرك او غیرالله کښ د محو کیدو په وجه وی.

بیاچه ته الله تعالیٰ په ذات او صفات کښ یکتا اوګڼړے. او د خپل توجه مرکز هغه اوګرځوے. د هغه په فضل وکرم نظر او ساتے. خپل ټول امیدونه او توقعات هغه سره وابسته کړے. او خپل ځان د غیرالله نه بیګا نه کړے. نو الله تعالیٰ به دِ ځان ته نور هم قریب کړی. او تا ته به مقام صدق کښ ځائے درکړی. په خپلو قسما قسم نعمتونو به دِ ښاد کړی. هر مشکل کښ به ستا مدد او اعانت کوی. او همیشه به ستا حافظ او ناصر وی.

نو د الله پاك ذات د خپلے توجه د مرکز کولو نه پس تهٔ



فانی بغیرالله او باقی بالله شه، او د غه د مؤمن د پالاڅونه مقصود دے.

## مقاله (۵۹) صبر او شکر

انسان ته په ژوند کښ دوه مختلف قسمه حالتونه پیښیږی. یا خو دے مصیبتونو کښ اخته وی یا راحت کښ ژوند تیروی. او دا کیفیات د زمانے د حالاتو د تغیراتو په سبب وی. په دے وجه هر مؤمن ته کلام الله او احادیثِ نبوی ﷺ کښ تاکید شوے دے. چه د مصیبتونو په دوران کښ صبر او توکل خپل دستور جوړ کړی او په الله پاك خپله تکیه اوساتی. او هغهٔ ته د خپلے مشکل کشایئ زاری کوی. او په صبر او رضا ترے مدد اوغواړی. د هغهٔ خلاف شکوه شکایت نهٔ کوی او نه دِ مخلوقاتو ته ځائے په ځائے خپل حاجات پیش کوی.

کهٔ راحت وی، نو دا سے حالت کښ الله پاك تا ته حکمًا فرمائی چه" هر وخت ځما شکر په ځائے راوړه. او ځما ناشکری مهٔ کوه ". د نعمت شکر صرف تر ژبے محدود نهٔ دی سا تل پکار، بلکه د نعمت شکر په زړهٔ او اعضاؤ هم ادا کول پکار دی. د زړهٔ شکر دا دے چه د غیرالله تصور هم اونهٔ کړی او په ذات الهی کښ محو شی. او په خپله خاموشه ژبه هر وخت د حمد و شکر کلمات وظیفه کړی. بیا د اعضاؤ شکر دا دے، چه د منهیا تو نه ئے بچ اوساتی.



او د الله تعالیٰ د احکامو تعمیل پرے اوکړی.

ټولے ذریعے او وسیلے د الله پاك پیدا کړده دی. او هغه خالق کل دے. د دے وجے نه د هغه حقیقی شکر په ځائے راوړل پکار دی. لکه چه څوك تحفه راوړونکی ته نظر نهٔ کوی، بلکه د تحفے راوستونکی یعنی مالك خیال ساتی. او د هغه شکریه ادا کوی. نو کوم سړی چه ظاهر سبب ته اوکتل. او حقیقی مسبب الاسباب او قاضی الحاجات ته ئے توجه اونهٔ کړه، نو د هغهٔ علم او معرفت ناقص دے. او د ایمان حقیقت ته ئے رسائی نشته. د قلبی شکر هم دا تقاضیٰ ده، چه حرکات سکنات، ظاهر او باطن، منافع او لذات څومره څیزونه چه انسان ته حاصل دی، هغه ټول د الله پاك د جانب نه اوګڼړی. او په هغے شکر اوباسی.

الله پاك فرمائی:" هر هغه څیز چه تاسو سره دے، د الله پاك عطا کړده دے". او حق سبحانهٔ فرمائی:" الله پاك تاسو ته خپل ظاهری او باطنی نعمتونه مکمّل طور سره درکړل، د پاره د دے، چه په هغے شکر اوباسئ". او حق تعالیٰ فرمائی "کهٔ تاسو د الله پاك نعمتونه شمیرل اوغواړئ نو پوره به ئے نهٔ کړے شئ. نو بیا د هغه ناشکری ولے کوئ". نو په مؤمن واجب دی، چه په ژبه د شکر ادا کولو نه علاوه په اعضاؤ هم د خدائے تعالیٰ شکر ادا کړی. او د اعضاؤ شکر دا دے، چه په هغے د خالق اطاعت اوکړی. او په هغے د

۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلوقاتو دا سے اطاعت اونهٔ کړی ۔ چه د هغې نه د خالق نافرمانی ظاهریږی ۔ ځکه چه کوم ځیز کښی د الله نافرمانی وی ، هغه جائز نهٔ دے ۔ نو اصل ځیز د الله پاك اطاعت کول دی او د دے نه علاوه نور ټول ځیزونه د تابع حیثیت لری ۔ کهٔ مؤمن د دے خلاف کوی ۔ نو د صراط مستقیم په ځائے به ګمراهئ کښی ګېنیوزی ۔

الله پاك فرمائی : " څوك چه د الله پاك د نازل شوی آیتونو او احکامو مطابق حکم اونهٔ کړی ، نو هغه خلق کافر دی " بل ځائے ارشاد دے : " څوك چه د الله تعالیٰ نازل شوی آیتونو سره حکم اونهٔ کړی ، هغه فاسق ، ظالم او ګمراه خلق دی " ۔ نو هر مسلمان له پکار دی ۔ کهٔ مصیبت وی ۔ او کهٔ راحت ، هغه له دینی آداب هیرول نه دی پکار ۔ کهٔ مصیبت وی ، نو په صبر او توکل دِ قائم اوسی ۔ او کهٔ راحت او نعمت وی ، نو د فسق او معصیت نه دِ ځان بچ کړی ۔ او په ژبه او اعضاؤ دِ د خدائے تعالیٰ شکر په ځائے راوړی ۔ مصیبت کښی دِ د خلقو مخکښی د شکایت اظهار نهٔ کوی او په صبر او رضا دِ مشیّت الٰهی سره موافقت اوکړی ۔ د هغه په فضل و کرم دِ کامله تکیه ساتی ۔ او هغهٔ ته دِ د خپله حاجت روائی خواست کوی ۔ الله تعالیٰ په دے طریقه د خپلو انبیاؤ ؑ ، اولیاؤ او برګزیده نه مصیبتو نه لرے کوی ۔ او د هغوئی مشکل کشائی کوی ۔ ځکه چه شپے



پسے ورځ او خزان پسے بهار راځی ۔

د قانون قدرت ما تحت د هر ځیز د پاره ضد او انتها وی ۔ د غه رنګ د سختئ نه پس آسانی او د مصیبت نه پس راحت لازمی وی ۔ خو په شرط د دے چه د الله پاك په ذات واحد کامل توکل او پخه عقیده لری ۔ یوحدیث کښی راځی چه " صبر کامل ایمان دے ۔ او توکل د صبر روح دے " ۔ او الله پاك فرمائی : " الله پاك د صابرانو ملګر دے " ۔

د احقیقت هیرول نهٔ دی پکار ، چه انبیا ؑ کرامو او اولیا ؒ عظامو ته لوئے لوئے درجے د صبر او توکل په برکت حاصلے شوے دی ۔ او د شکر په وجه په زیاتے نعمت بناد شوے دی ۔

نو ته هم اخلاص او صداقت سره د هغوئی اتباع اوکړه چه صراط مستقیم دِ نصیب شی ۔

## مقاله (۶۰) د کتاب الله ؐ او سنت رسول الله ؐ اتباع

د یو مؤمن خپل طبعی عادات پریښودل او د شریعت اتباع (پیروی) کول د سلوك ابتداء ده ۔ د دے پس مقدرات الٰهیه سره موافقت کول د سلوك او چته درجه ده ۔ او بیا د شریعت او حدود الله متابعت سره سره د بشریت تقاضا په حلاله او جائزه طریقه پوره کول د انسانیت د صفاتو



انتهاده او د سیرت او کردار تکمیل ۔ حضور صلی الله علیه وسلم د بشریت د حلالو او جائزو تقاضو پوره کولو با وجود د احکام الٰهی اتباع کښی د امت د پاره د یو بے کامل نمونے حیثیت لری ۔ دا یو کامله نمونه (اسوهٔ حسنه) چه د هغه تعلق الله پاك فرمائی : " کوم خلق چه د الله د رضا طلبګار دی ۔ او په ورځ د قیامت ایمان لری ، نو د هغوئی د پاره څمونږ د نبی ؐ ژوند یو بهترین مثال دے " ۔

نو د سیرت د تکمیل د پاره چه د بشری تقاضو مثلاً خوراك ، څښاك ، لباس ، حرکات و سکنات او نکاح په حقل نهٔ ځهٔ کوے هغه د سنت رسول الله ؐ د اتباع په نیت کوه ۔ الله پاك فرمائی : " څمونږ پیغمبر ؐ چه په کومو ځیزونو تاسو ته د عمل کولو تلقین کوی ، هغه کوی او د څهٔ نه موچه منع کوی ، د هغې نه منع شئ " ۔ او حق سبحانه فرمائی : " اے نبی ؐ ! دوئی ته اووایه ، کهٔ تاسو الله پاك سره محبت کوئی نو ځما تبروی کوی ۔ ځما په پیروئی به حق تعالیٰ تاسو سره محبت کوئی " ۔

یاد ساته ، چه د سنت په پیروئی کښی به ستا په باطن کښی د الله پاك د توحید او معرفت نور او ځلیږی ۔ او ته به د خلق خدا د پاره د عمل او تقوٰی یوه نمونه شے ، ظاهر او باطن کښی به ستا ټول احوال د شریعت ترجمانی کوی ، او خلق به ستا د صحبت آرزو وند وی ۔ بیا به ستا د سیرت



او باطنی امورو تعلق براهِ راست الله پاك سره شی ۔ او د کشف ، حکمت او معرفت مرکز به شے ۔ چه ته د دے درجے ته اورسے نو ته به د حدودِ شرعی نګهبان ئے ۔ او افعال الٰهی سره به تاته موافقت حاصل وی او تا ته به د اتباع سنت نبوی ؐ توفیق عطا کړے شی ۔

الله پاك فرمائی : " مونږ خپل کلام نازل کهٔ ، او هم مونږ د دے د حفاظت ضامن یو " ۔ نو الله پاك به د کنا هونو نه ستا حفاظت کوی ۔ او د احکام الٰهی احترام کوئی ۔ نو د الله پاك تائید او نصرت به همیشه ستا سو شامل حال وی خو د طریقت په سیر او سلوك کښی تاله د بشریت د دنیاوی او ظاهری تقاضو نه نفرت نهٔ دے پکار ۔ ځکه چه دا تقاضے انسان سره تړلے دی ۔ او د دے نه ګریز کول رهبانیت ته بللی کول دی ، چه هغه په اسلام کښی حرام دے ۔

د جسمانی او بشری تقاضو نه کهٔ څوك پاك دی ، نو هغه ملائکه دی ۔ نه چه انسان ۔ نو په دے سوچ کول پکار دی چه د بشریت تقاضی د شریعت ما تحت وی ځکه چه دا د دعا او سوال په صورت کښی بنده بارګاه الٰهی ته لا زیات نزدے کوی ۔ او الله پاك سره د مؤمن تعلق نهٔ مضبوطوی ولے کهٔ د بشریت تقاضیٰ د سړی نه زائلے شی ، نو هغه به فرشتو کښی داخل شی ۔ او د دنیا نظام به درهم برهم شی ۔ نو د انسان جائزے تقاضے په باطنی امورو کښی هرګز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرر رسانے نۀ دی . او د الله پاك د حکمت ماتحت د بشریت تقاضه په تاسو کښې په دے موجود دی. چه د الله پاك د نعمتونو نه په ښۀ طریقه فائدے واخلئ او دنیا کښې د حق تعالیٰ په نعمتونو ښاد شئ .

د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دے « ستاسو د دنیا نه خوشبوئی او ښځۀ ځما زړۀ ته زیاتے نزدے دی . او ځما د زړۀ آرام او اطمینان په مانځه کښې دے » نو بنی علیه السلام ته د سیر الی الله او د احکام الٰهی اتباع سره سره د بشریت خوشحالئ هم ورکړے شوے . او د دے دنیوی نعمتونو په قبلولو کښې هغوی؟ د الله پاك د حکم مطابق د شکر اظهار او فرمایه نو انبیاء الله او اولیاء الله روحانی نعمتونو سره سره په بشری نعمتونو هم ښاد وی . ځکه چه هغوئ دا نعمتونه په جائزه طریقه استعمالوی . او هم په دے سیرت انسانی تکمیل بیاموی. چه د کتاب الله او سنتِ رسول الله پیروی اوکړے شی .

## مقاله (۶۱) د اشیاؤ په استعمال کښې د مؤمن احتیاط

د الله پاك د امر او نهی ماتحت مؤمن د اشیاؤ په قبلولو او استعمالولو کښې احتیاط کوی . چه دا ئے نه چرته یو آرام او مشکوك شے استعمال کړی . د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دے : « مؤمن د اشیاؤ په قبلولو کښې احتیاط کونکے وی ، او منافق ئے بے احتیاطه اخستونکے وی » او د نبی



کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے « کوم شے چه تاسو په شك کښې غورځوی ، هغه پریږدئ . او چه کوم کښې شك نۀ وی ، هغه اختیار کړئ » . نو مومن د شریعت په اتباع کښې د استعمال ټولو څیزونو کښې د توقف او تفتیش نه کار اخلی . او د تقویٰ خلاف هیڅ څیز نۀ خوښوی . ترڅو چه امرِ باطن د هغے د جواز او قبولیت حکم ورنه کړی .

کۀ مؤمن د ولایت او ابدالیت په حالت کښې وی . نو مشیت الٰهی براهِ راست هغۀ ته د هر څیز د قبلولو یا رد کولو حکم ورکوی . او د ابدالیت حالت د فنا ئے محض حالت دے . چه هلته صرف د الله پاك مشیت د هر څۀ د پاره حکم ورکوی . کۀ مشیت الٰهی یو مؤمن د یو څیز د قبلولو نه منع نۀ کړی ، نو وائے خلی . او کۀ منع ئے کړی ، نو ترك ئے کړی . او دا کیفیت د ورمبی حالت ضد دے . ځکه چه هغه حالت کښې توقف غالب وو . او خپله اراده ئے له هم پکښې دخل وو . لیکن دے حالت کښې سراسر امر الٰهی غالب دے . او مؤمن په دے حالت کښې د ټولو گناهونو نه محفوظ وی . لکه چه الله پاك فرمائی : « موږ یوسف علیه السلام د هر قسم گناه نه محفوظ کړ ځکه چه هغه د مخلص بندګانو نه وو » .

مؤمن د حرام او مشکوك څیزونو نه منع کړے شوے دے . او صراط مستقیم د دۀ د پاره آسان کړے شوے دے ،



دے د الله رضا او د هغۀ احکامو سره موافقت کوی . او په هر حالت کښې د الله تعالیٰ رضا جوئی او خوشنودی د دۀ منتها ئے مقصود وی . د دے نه اوچت بل حالت نشته . او دا ولایت انتها ده .

دا حالت د هغے اولیاء الله او اصحابِ کرامو وی ، چه د انبیا ئے کرامو په نقش و قدم روان وی . او د هغوئ د سنت او طریقت کامله اتباع کوی . الله پاك دِ په موږ او تاسو هم د دے پاکو بزرګانو د پیروئ پیروی ونه اوکړے . آمین .

## مقاله (۶۲) محبّت او محبوبِ حقیقی

تۀ د ژوند د مشکلاتو او مصیبتونو په وخت کښې هیشه د الله پاك خلاف گِله او شکایت کوے . او د هغۀ په ربوبیت په قسم قسم تور لګوے . حالانکه هغه په خپلو بندیانو ذره برهم ظلم زیاتے نۀ کوی . کوم مصیبتونه او مشکلات چه بنده ته پیښیږی ، هغه د دۀ د خپلو مشرکانه عقائدو و بدو اعمالو ، او د شریعت د حدودو د ماتولو په وجه وی . تۀ په دے نۀ پوهیږے ، چه الله تعالیٰ وحده لاشریک دے . عبادت کښې د شرك نۀ کولو سره سره هغه دا هم غواړی ، چه کوم عشق او محبت د هغۀ د پاره خاص دے . هغه دِ غیر الله سره اونۀ کړے شی .

الله پاك فرمائی : « مشرکینو خپل دیوتاګان خپل حاجت



روا جوړکړے دی ، او هغوئ سره دا سے ډیر محبت ساتی ، چه هغه صرف الله تعالیٰ سره پکار دے » . نو کوم محبت ، رغبت او د فدائیت جذبه چه د محبوب حقیقی د پاره خاص ده او هغه د غیر الله او د نیوی مخلوق د پاره وقف کړے شی نو هغه ستا د مصیبتونو لوئے سبب دے . نو گِله او شکایت تا له د خپل مشرکانه طرزِ عمل نه پکار دے ، نه چه د الله تعالیٰ نه .

مصیبتونه تا ته په دے پیښیږی ، چه تۀ د خپلو عقائدو او اعمالو اصلاح اوکړے . او د مشرکانه طرز روش نه منع شے . الله پاك غواړی چه تۀ خپل قلب ، دماغ ظاهر او باطن خالص د هغۀ د ذات د پاره وقف کړے . او غیر الله د خپل محبت او رغبت مرکز او نۀ گرځوے .

د خدا ئے د رضا د پاره د نفس امّاره او مخلوقاتو پیروی پریږده ، چه تۀ دا سے اوکړے ، نو الله تعالیٰ به دِ په خپلو نعمتونو او بخششونو ښاد کړی . خلق به ستا په تعریف شروع شی . او الله پاك به دِ د دواړو جهانو په خوشحالو سرفراز کړی . نو تۀ خپل محبت د مخلوقاتو په ځا ئے خپل محبوبِ حقیقی سره اوساته . ځکه دا محبت جاودانی (همیشه) دے او هغه هستیٔ پله رغبت او توجه اوکړه . چه ستا طرف ته ئے توجه ده . او د هغه چا دوستی اختیار کړه ، چه تا سره دوستی کوی . او هغه چا سره هم کلام شه ، چه تا بلی . او د هغه

چالاس کښې خپل لاس ورکړه چه تا د گمراه کیدو نه بچ کوی او په صراط مستقیم د سموی۔

خپل زړه او دماغ هغه مقدسے هستئ طرف ته کړه ، چه ستا باطن د شرك او فسق نه پاك کوی۔ ستا نفس او ستا جاهل او منافق دوستان هغه شیطانان دی چه تا د سیے لارے نه بې راهه کوی۔ نو ته به تر کومه د مخلوقاتو په ګلی کوڅو کښې تیروو ځے۔ او د نفس په اتباع کښې به تر کومه د محبوب حقیقی نه لرے اوسے۔ خپل خالق او معبود ته نژدے شه او یاد ساته چه الله پاك هم اول دے، هم اخر دے، هم ظاهر دے، هم باطن دے۔ د ټولو مخلوقاتو مشکل ګشا او رازق صرف هغه دے۔ ټول احسان بخشش او سخا د هغه د جانب نه ده۔ او د زړونو اطمینان د هغهٔ په محبت او د هغهٔ په ذکر او فکر کښې دے۔

الله پاك فرمائی:۔ مشرکان خپلو دیوتاګانو سره داسے محبت کوی، چه هغه صرف الله سره کول پکار دی۔ خو کوم خلق چه په سچه ایماندار دی، هغوئ خو صرف د الله تعالی سره کلک محبت ساتی۔ او حق سبحانه فرمائی :۔ د ایماندار زړونه صرف په ذکرِ الٰهی آرام بیا مومی۔ او یاد لری چه د زړونو اطمینان، سکون او توانائی د الله په ذکر حاصلیږی۔

## مقاله (۶۳) د معرفت یوه نکته

ما خوب اولید، چه زهٔ چا ته وایم "اے انسانه! اے



په ظاهر کښې د الله د هغهٔ مخلوق هغهٔ سره شریك کوو نکیه! او اے مشیتِ الٰهی کښې خپله اراده له دخل ورکوو نکیه! او اے په باطن کښې خپل نفس اماره خپل پرورد ګار سره برابر کوونکیه! په زړهٔ کښې توحید او اخلاص پیدا کړه "۔ چه دا مے واوریدل، نو یو سړی چه ما سره موجود وو، وئیل :۔" دا کوم کلام دے، او د دے مقصد څهٔ دے"؟ نو ما جواب ورکه۔ چه دا د توحید او شرك مبهمو کښې فرق کول دی۔ او د معرفت یوه نکته ده"۔

## مقاله (۶۴) دائمی مرګ او دائمی ژوند څهٔ څیز دے؟

یوه ورځ ما ته یوه باریکه مسئله پیښه شوه۔ او نفس م د دے پریشانئ نه خلاصے غوښته۔ غیبی طور ځانه دریافت اوشو چه "ته دے وخت د خپل سکون او اطمینان د پاره څهٔ غواړے؟"۔ نو ما ورته اووئیل چه زهٔ داسے شریك غواړم، چه هغے کښې ژوند نشته۔ او داسے ژوند غواړم چه هغه مرګ نهٔ لری۔

بیا ماته تپوس اوشو، "هغه کوم مرګ دے چه هغے کښې ژوند نشته، او هغه کوم ژوند دے چه هغه مرګ نهٔ لری؟"۔ ما جواب ورکهٔ۔ هغه مرګ چه هغے کښې ژوند نشته، هغه ځما د خپلو هم جنسو مخلوقاتو نه بے تعلقه کیدل دی، چه د هغے مطلب فنا فی الله کیدل، د غیر الله نه بخپل



اُمید ونه قطع کول او د باری تعالی هستئ سره ځے تړل دی۔

ځما مرګ د نفسِ اماره خواهشات دی چه زهٔ د الله تعالی د رضا او د هغهٔ د ارادو تابع شم۔ او بیا داسے ژوند چه هغے کښې مرګ نشته، هغه ځما د خپل دائم ژوندی او لازواله پرورد ګار د فعل او مشیت سره ژوندے پاتے کیدل دی۔ په داشان چه ځما وجود د هغه وجود سره ژوندے او قائم شی۔ او ځما اراده د هغهٔ د ارادے تابع شی۔ چه ذاتی طور سره نه ځما څهٔ وجود پاتے شی او نه م څهٔ اراده۔ دا هغه ژوند دے چه مرګ له دے کښې دخل نشته۔ او زهٔ د داسے ژوند خواستګار یم۔

ځما دا یقین دے چه ځما دغه خواهش د ژوند د ټولو خواهشونو نه زیات قیمتی او عزیز دے۔

## مقاله (۶۵) الله پاك ته د ظلم نسبت کول کفر دے

ته بعضے اوقات د ناموافقه حالاتو نه تنګ شے، نو د الله تعالی نه د خفګان اظهار کوے۔ او وائے، چه الله پاك ځما سوال نهٔ قبلوی۔ او مصیبتونه راند نهٔ دفع کوی۔ نو زهٔ تا نه دا تپوس کوم، چه ته د الله تعالی د فرمان لاندے آزاد یے، و که غلام؟ که ته دا اووائے چه زهٔ ازاد یم۔ نو کافر شوے، ځکه چه دا د شریعت نه انکار دے۔ او که دا



دا اووائے چه غلام یم۔ او هم دا مؤمن بنده له وئیل پکار دی۔ نو بیا تانه دا تقاضا کیدے شی چه ایمان او توکل سره په الله تعالی کامله تکیه اوساته۔ او بیا له پسے هغهٔ نه د حاجت روائی خواست کوه۔

الله پاك فرمائی :۔" ځما په درګاه کښې خپل حاجات او ضروریات پیش کوئ۔ زهٔ به ستا دُعاګانے قبلوم نو تا له نهٔ دی پکار، چه هر وخت د الله تعالی په فضل و کرم او مدد کښې شك شبه کوے او مه دا کوه چه د مصیبت او تکلیف په وخت کښې ظلم او زیاتئ د الله پاك مقدس ذات ته منسوب کړے۔ کله چه داسے اوشی، چه د بنده د حاجاتو پوره کولو کښې تاخیر راشی، نو د دے کښې د الله تعالی څه مصلحت وی۔ تاله نهٔ دی پکار، چه بے قراره شے او په الله پاك الزام اولګوے۔ ځکه چه د دے عقیدے سره الله پاك ته د ظلم نسبت راځی، او دا صریحًا کفر دے حالانکه هغه په خپلو بندیانو همیشه مهربانه دے۔ او ذره برابر ظلم زیاتے هم پرے نهٔ کوی۔

د تیرو تباه شوی قومونو په حقله الله پاك فرمائی: مونږ په هغوئ ظلم نهٔ کوؤ، بلکه هغوئ پخپله د شرك او کفر په وجه په خپلو ځانونو ظلم او زیاتے کولو۔ او هغوئ ته چه کوم عذاب ورکړے شو، دا د هغوئ د خپلو بد عملو نتیجه وه"۔ نو تا سو د الله تعالی د ناراضه کیدو او د هغهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف شکایت کولو نه پرهیز اوکړئ . او د هغهٔ په افعالو هرګز اعتراض مهٔ کوئ . د هغه په نعمت شکر او باسئ او د هغهٔ رضا سره موافقت اختیار کړئ . او د هغې خواهشاتِ نفسانی پیروی پریږدئ . چه د خداے د خفګان او غضب باعث وی . بلکه صدق او خلوص سره د الله پاك په حضور کښ حواست کوئ . او په صبر د هغهٔ د فضل و کرم اُمیدوار اوسئ .

په هر حالت کښ د نفس د اطاعت نه پرهیز کوئ . ځکه چه نفس ستا او د الله دشمن دے . نو د ظلم او زیاتی الله پاك ته د منسوب کولو په ځاے بهتره دا ده ، چه ته دا خپل نفس ته منسوب کړے او بیا د خپلو بے اعتدالو په اصلاح کښ کوشش را واخله ، نو تقوٰی اختیار کړه . او د الله تعالیٰ د امر فرمانبردار شه . د شریعت د حدودو احترام اوکړه . توکل علی الله هیڅ کله مهٔ پریږده او نفس ته د الله پاك دا ارشاد وریاد کړه چه الله تعالیٰ به ولے تاسوله عذاب ورکوی که تاسو په هغه یقین اوساتئ ، او د هغهٔ شکر په ځاے راوړئ :

الله پاك فرمائی :" کوم عذاب چه په بندیانو راځی ، د هغې وجه د هغوئ خپله بد عملی وی . بیشکه چه الله تعالیٰ په خپلو بندیانو ذره زیاتی نهٔ کوی :" نو د الله پاك د رضامندئ دپاره د خپل نفس مخالف شه او د هغو ترغیبا تو نه کرکه اوکړه . ځکه چه د الله تعالیٰ په دشمنانو کښ د شیطان نه



پس نفس د انسان لوئ دشمن دے چه هغه بنی آدم د صراط مستقیم نه بد راهه کوی .

الله پاك په خپلو آسمانی کتابونو کښ تولو انبیا ئے کرامو ته ارشاد فرمائیلے دے چه هغوئ خپل امتونه د نفس امّاره د اتباع نه منع کړی . ځکه چه دا د شركِ خفی او ګمراهئ بد ترین محرك دے . الله پاك دِ مومن او تاسو د نفس او شیطان د فتنو نه په امان کړی . آمین .

## مقاله (۲۲) الله پاك نه د دُعا غوښتلو تاکید

دا سے هیڅکله مهٔ وایه ، چه زهٔ به د الله پاك نه سوال نهٔ کوم ، ځکه کهٔ سوال کول عیب ناك دی ، نو مخلوقا تو نه ، نهٔ چه د خالق او پروردګار نه . د الله تعالیٰ نه د خپلو ټولو حاجتونو سوال کوه . او پر له پسے سوال کول د بندهٔ دپاره د سعادت او نیك بختئ باعث دے . او د توحید او ایمان واضح ثبوت دے . نو د خپل هر ضرورت دپاره د الله تعالیٰ په حضور کښ سوال کوه ، ځکه چه د دنیا او عقبیٰ سعادت په دے کښ دے .

کهٔ ستا غوښتلے شوے څیز د الله تعالیٰ په علم کښ ستا دپاره فائده مند وی . او د راحت او ترقی باعث وی ، نو هغه به ضرور تا ته رسی او کهٔ په هغې کښ د علم الٰهی مطابق ستا دپاره نقصان وی نو هغه به تا ته حاصل نشی بهر حال تا له نهٔ دی پکار چه د فعل الٰهی خلاف د شکایت



حرف په ژبه راوړے . نو د خپل هر حاجت دپاره د الله پاك په حضور کښ په دے وجه سوال کوه چه الله پاك د سوال کولو حکم کړے دے . او بندهٔ ته ئے د پرله پسے دُعا کولو تاکید فرمائیلے دے . حق سبحانهٔ فرمائی :" ځما په بارګاه کښ دُعا کوئ زهٔ به ستاسو دُعا قبلوم " او الله پاك فرمائی :" د الله نه د هغهٔ فضل غواړئ " بل ځاے ارشاد دے " زهٔ خپلو بندیانو ته ډیر قریب یم . کله چه څوك سوالګرے ما یادوی نو زهٔ د هغهٔ دُعا قبلوم " .

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی :" په الله پاك د دُعا د قبلید و یقین لرئ . او سوال ترے کوئ " . او دا هم مهٔ وایه چه زهٔ د الله پاك نه سوال کوم ، خو هغه ئے قبلوی نه . نو بیا به ترے سوال نهٔ کوم . ځکه چه دا سے وئیل کفر دے . د بندهٔ بعضے وخت د دُعا نه قبلید و وجه هم ما بیان کړے ده . چه یا خود بندهٔ د پاره هغه حرام وی یا پکښ د هغه دپاره څهٔ ضرر پروت وی . حقیقت حال صرف عالم الغیب الله تعالیٰ پیژنی . د دے وجے نه د کفر او انکار کلمات په ژبه راوړل نهٔ دی پکار . کهٔ ستا بعضے سوالونه سمدستی قبول نشی نو دُنیا او عقبیٰ دواړو کښ به د هغې لوئے اجر بیاموے .

په عام امورو کښ به ستا دپاره آسانی پیدا کړے شی . کهٔ ته قرض دار ئے . نو قرض خواه به د رنه په سختئ



سره د مطالبے نه منع کړے شی . او ستا دپاره به د هر قسم رعایت پیدا کړے شی . ځکه چه رحیم ، کریم ، غنی او مغنی د الله پاك صفاتی نومونه دی . نو د خپل فضل او کرم نه هغه څوك نا اُمیده کوی نه . او یاد ساتل پکار دی چه د درګاهٔ الٰهی نه بندهٔ ته د سوال کولو اجر ضرور رسی . او کهٔ بعضے اوقات د ا فائدهٔ د دنیا کښ ور نه کړے شی . نو د دے بدله به آخرت کښ ضرور ورکولے شی .

حدیث شریف دے ، چه د قیامت په ورځ به مؤمن په خپله عملنامه کښ دا سے نیکی اووینی ، چه هغهٔ به دُنیا کښ نه کړے وی او نه به ئے پیژنی . د هغې نه به تپوس اوشی ، چه تهٔ دا نیکی پیژنے ؟ نو مؤمن به اووائی چه نه . دا نیکئ ځما دپاره د کوم ځاے نه راوړے شوی دی . بیا به هغهٔ ته او بنودلے شی . چه دا نیکئ ستا د هغې سوالونو او دُعا ګانو جزا ده . چه تا دنیا کښ غوښتے وے . او د څهٔ مصلحت په بنا قبولے شوے نهٔ وے " .

د همره لویه جزا به مومن ته په دے وجه ورکیدے شی ، چه هغه د الله تعالیٰ نه د سوال کولو کامل یقین لره . او د خپل هر حاجت مرکز ئے صرف ذات الٰهی ګنړه او دا د سیرت انسانی هغه اوچت صفات دی ، چه د دے په وجه به هغهٔ ته نه صرف په دنیا کښ بلکه عقبیٰ کښ هم اجر عظیم ورکیدے شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقاله (٦٧) د نفس مجاهده

قرآن او حدیث کښې د نفس د مجاهدے ډیر تاکید راغلے دے. کهٔ تهٔ د نفس خلاف جهاد اوکړے او مغلوب ئے هم کړے. نو الله تعالیٰ به په بعضے ذریعو نفس له دوباره په تا غلبه او او اقتدار ورکړی. د پاره د دے چه ریاضت او مجاهدے ته ستا مخه شی. او خپل نفس سره په جنګ ئے چه ستا عزم او ایمان د ورځې نه زیات قوی شی. او څکښې د پاره د شیطان د پاره ستا په ګمراه کولو کښې څهٔ ګنجائش پاتے نشی.

حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "چه مونږ د وړوکی جهاد نه لوئې جهاد ته راغلو". ګویا د نفس خلاف جهاد ئے لوئے جهاد اوفرمایه. او د تورے جهاد ئے د دے په مقابله کښې وړوکے اوګڼړهٔ. نو د لوئے جهاد نه مراد د نفس مجاهده، عبادت او ریاضت دے.

الله پاك حضور صلی الله علیه وسلم ته فرمائی: "اے پیغمبره! د خپل پروردګار عبادت تر آخری دمه کوه". د کښې د عبادت د همیشګئ حکم دے. او د دے عبادت بهترین صورت د نفس مجاهده ده. ځکه چه نفس الله ته نو کښې آخته شی. نو د عباداتو نه غفلت اختیار کړی، کهٔ څوك دا اعتراض اوکړی او وائی. چه د حضور صلی الله علیه وسلم پاك نفس څنګه د عباداتو نه غفلت اختیارولے شی.



چه هغوئ ته د نفس د مجاهدے د تاکید کولو ضرورت پیښ شو. ځکه چه من خو څهٔ چه د حضور صلی الله علیه وسلم هیڅ ارشاد هم د منشائی الٰهی خلاف نهٔ وو. ځکه چه الله پاك فرمائی: "حضور نبی د خپل خواهش نه هیڅ نهٔ وائی. بلکه د هغه هره خبره وحی وی چه هغهٔ ته لیږلے شوے وی". نو د دے اعتراض جواب دا دے چه د اسے خطاب د شریعت د تعلیم و تدریس یوه طریقه ده. کنی خطاب حقیقت کښې دومره د حضور صلی الله علیه وسلم ذات ته نهٔ دے. څومره چه د اُمت افرادو ته دے.

حضور صلی الله علیه وسلم ته چه کوم احکام صادر شوی دی. د هغے حقیقی مدعا اُمت مخاطب کول او د امور شرعیه تاکید کول دی. کنی حقیقت دا دے، چه الله پاك نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته په نفس او خواهش مکمله غلبه ورکړے وه. او د امت افراد هر وخت د نفس د مجاهدے حاجتمند دی. حضور صلی الله علیه وسلم ته د نفس د مجاهدے ضرورت نهٔ وو. نو مؤمن چه د نفس مجاهده راواخلی. او د شریعت په اتباع کښې نفس مغلوب کړی. نو الله تعالیٰ هغه د دوارو جهانو په ښو ښو نعمتونو ښاد کړی. او په جنت کښې اوچتے درجے ورکړی.

الله پاك فرمائی. "کوم سړے چه د حشر په ورځ د خپل پروردګار د پیشئ نه اوویریدهٔ. او نفس ئے د خلاف شریعت



او عزت به د دوئ په دے وجه کولے شی، چه د نیا کښې دوئ د نفس خلاف جهاد کولو. او هغه ئے د احکام الٰهی تابع کړے وُو. او د دے ارشاد نبوی چه "د نیا د آخرت پټے دے" هم دغه معنیٰ دی.

## مقاله (٦٨) الله پاك هره ورځ په یو نوی شان کښې دے

ډیر عالمان او مطالب قرآن کښې فکر کونکی د دے آیت "کُلَّ یَوْمٍ هُوَ فِیْ شَاْنٍ ٥" (هره ورځ هغه په یو نوی شان کښې دے) په حقیقی معنو پوهٔ نهٔ دی. د دے اصل مفهوم دا دے، چه ټول مخلوقات خواه هغه هر نوع سره تعلق لری. په هر حالت کښې فانی او زوال مونده ونکی دی. او یو عارضی او هنګامی ژوند لری. لیکن د مخلوقات برعکس د خالق کائنات دا شان دے، چه هغه حیّ و قیّوم دے. دائمی او ابدی دے. او نه صرف ذات سره، بلکه خپلو صفاتو سرهٔ هم همیشه باقی او پائنده دے. د هغهٔ حیات قوت او اختیار هره ورځ په ترقئ دے لیکن زوال او تنزل ورله هرګز نشته. دغه رنګ د الله پاك احکام او ارادے ورځ په ورځ په قوت او اثر کښې زیاتے کوی، لیکن ضعف (کمزوری) ورله هیڅ کله نشته.

هر کله چه الله تعالیٰ د بنده دعا قبلوی او د هغه ټولے خیز ونه هغهٔ ته عطا کوی. نو هغے سره د الله تعالیٰ اراده



خواهشاتو د پیروئ نه محفوظ کهٔ. نو د هغه ټکاونړه یقیناً جنت دے". نو هر کله چه د مؤمن د قرارئ ځائے جنت دے چه هلته به د خدائے په دید ارښاد شی. نو بیا هغه غیر جنت ته د رجوع کولو او د نیا ته د میلان کولو نه بے پرواه دے. او ځکه چه د نیا کښې د احکام الٰهی په پیروئ کښې هغه د نفس اماره د خواهشاتو نه پرهیز کوی. دغه رنګ به الله تعالیٰ په جنت کښې د هغهٔ د تقوی په خاطر جزا ورکولو کښې هم هغه په قسماقسم او بے حسابه نعمتونو موړ کړی.

د دے برعکس کافران او مشرکان چه د نیا کښې فسق و فجور کښې آخته وی. نو د نفس د اتباع په وجه به هغوئ د دوزخ په سخت عذاب کښې ګیر وی. الله پاك فرمائی: "مسلمانانو! تاسو هغے اور نه ځان بچ کړئ. کوم چه د کافرو د پاره تیار شوے دے. او همیشه به په هغے کښې سوزی". نو د حشر په ورځ به د کافرو او فاسق فاجر خلقو د پاره قسم قسم عذابونه وی، ځکه چه دوئ د نیا کښې د احکام الٰهی د اتباع نه ډډه کوی. او د نفس د خواهشاتو په پټو سترګو پیروی کوی. نو ځکه الله پاك فرمائی. "اے نبی! تا هغه خلق او نهٔ لیدهٔ، چه هغوئ خپل نفس خپل معبود جوړ کړے وو".

الله پاك به مجاهده کونکو مؤمنانو ته جنت کښې هر وخت لوئے لوئے او تازه تازه نعمتونه ورکوی. او د اخاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتیږی نهٔ - او نهٔ د هغهٔ د مشیئت خلاف ورښی کیږی - مخلوقاتو د پاره چه کوم مقدّرات دازل نه مقرر دی نو د علم الٰهی مطابق په خپل وخت هغه حاجات او مرادونه پوره کیږی - بهرحال د دُعا کولو ضرورت پوره کیدل هم د احکام الٰهی ماتحت وی - او په دے هم پوهیدل پکار دی چه عقبیٰ کښ جنت دا خلید ل هم د علم او کرم الٰهی ماتحت دی -

حدیث شریف دے چه بی بی عائشے رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکهٔ چه ، جنت کښ به خلق محض د خپلو نیکو اعمالو په وجه داخلیږی اوکهٔ نه ؟ نو حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه " نه - بلکه د الله پاك په رحمت او بخشش به جنت کښ داخلیږی" نو حضرت عائشه رض تر ے تپوس اوکړو چه ، یارسول الله ! تاسو به هم نه ؟ نو حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه " هو زه به هم نه ، مګر د خدائے په رحمت " دغه وخت حضور صلی الله علیه وسلم خپل لاس مبارك په خپل سر راښکه او دا دے د پاره چه الله پاك خپلو احکامو او ارادو کښ د مخلوقاتو تابع نهٔ دے - هغه چه څهٔ غواړی هغه کوی . د هغه نه هیڅوك تپوس کولے نشته . او د بندیانو نه به د احکام الٰهی تپوس کولے شی -

دعرش نه واخله تر تحت الثّریٰ پورے ټول مخلوقات



د هغه پیدا کړده دی - او په خوښه او ناخوښه هر حالت کښ د هغهٔ فرمانبرداره دی . الله پاك فرمائی :" د الله نه سوا کائناتو څوك خالق او مختار شته ؟" (یعنی نشته ) او حق سبحانه فرمائی " د الله نه سوا څوك معبود او مسجود شته ؟ او الله عزّ وجل فرمائی . ته د الله برابر او همنام څوك پیژنے ؟"

الله پاك فرمائی : " اے پیغمبره ! ته اووایه چه اے مالك الملك ته چه څوك غواړے ، هغهٔ ته ملك او سلطنت عطا کوے ، او د چا نه چه غواړے ، سلطنت اخلے . ته چه چا ته غواړے عزّت ورکوے . او څوك چه غواړے ذلیل کوے . عزّت او سرفرازی صرف ستا په لاس کښ ده - ته بیشکه په هر څیز حاکم او مختار ئے . ته چه چا ته غواړے بے حسابه رزق عطا کوے . په مخلوقاتو حقیقی او مستقل حکومت صرف تا ته حاصل دے .

## مقاله (۶۹) د الله پاك نه د کوم څیزونو غوښتل پکار دی؟

که ته د الله پاك په حضور کښ سوال کوے ، نو د خپلو تیرو ګناهونو د پاره د مغفرت او د راتلونکی وخت ګناهونو نه د بچ کیدو سوال کوه ، او د هغه نه د طاعت او د عبادت د همیشګئ ، د امرونهی د تعمیل ، په مشیت خداوندی د رضامندئ ، په مصیبتونو د صبر کولو ، د حلالو نعمتونو او د رزق د زیاتی ، په نعمتونو د شکر ، د ایمان د سلامتئ سره د



مرګ او په ورځ د قیامت د انبیاو ، صدیقینو ، شهدائو صالحینو او د اولیاء الله په ډله کښ د پاسیدو دُعا غواړه . ځکه چه دا یو لوئے سعادت دے . خپل ټول معاملات سره الله تعالیٰ ته او سپاره - او خپله هغه کښ هیڅ قسم دخل مهٔ کوه -

د حضرت عمر رضی الله عنه متعلق روایت دے چه هغوئ فرمائیلی دی :" ماته په دے خبره پروا نشته ، چه په ماسبا په کوم حالت کښ راځی . آیا دا سے حالت به وی چه زهٔ به ئے بنهٔ نهٔ ګنړم ، یا دا سے حالت به وی ، چه زهٔ به ئے خوښوم ځکه چه زهٔ نهٔ پوهیږم ، چه د علم الٰهی ماتحت څما د پاره بهتری په کوم حالت به وی ، چه زهٔ به ئے خوښوم . ځکه چه زهٔ نهٔ پوهیږم ، چه د علم الٰهی ماتحت څما د پاره بهتری په کوم حالت کښ ده . نو ما خپل موجوده او راتلونکی معاملات الله پاك ته او سپارل ، چه هغه بهترین دوست ، او بهترین حافظ او ناصر دے " .

دا الفاظ حضرت عمر رض د الله پاك په تدبیر د رضامندئ او د هغه په حکم د کامل اطمینان په بناء ارشاد اوفرمائیل :

د بندیانو د ناقص او محدود علم او په معمولی واقعاتو د پریشانه کیدو په باعث الله پاك تنبیه فرمائی :" مسلمانو ! جهاد په تاسو فرض شوے دے . حالانکه هغه تاسو ته د آرام طلبئ په وجه ښه نهٔ ښکاری . عین ممکنه ده ، چه



کوم څیز تاسو ښهٔ نهٔ ګنړئ ، هغه کښ ستاسو د پاره به خیری وی . نو د خیر او شر حقیقت عالم الغیب الله پاك پیژنی . تاسو نه پیژنئ - نو ته تر هغه وخته د تسلیم او رضا طریقه اختیار کړه تر څو چه د نفس امّاره د لاعجونه ازاد نهٔ شے . او رضائے الٰهی سره موافقت اختیار نهٔ کړے بیا به ستا ذاتی خواهشات او ارادے محو شی . او د ټول کائنات نه به ستا تعلق قطع شی . او صرف یو خدائے سره به باقی پاتے شی . او هم دا ، د توحید مقام دے . چه ستا زړهٔ د الله پاك په محبت معموره شی . او د الله طلب او وصل ستا نصب العین شی .

دے حالت کښ به پروردګار تا په دنیاوی نعمتونو ښاد کړی . او ته به د هغه شکر ګذار شے . او د هغهٔ مشیت سره د موافقت په وجه به د هغه د عطا کړے شوی رزق عملًا احترام کوے . بیا که دنیوی ژوند کښ په تاخه تنګ حالی راشی . نو ته به د خپل پروردګار نه ناراضه نه ئے . او په هغهٔ به د رزق نهٔ ورکولو الزام نهٔ لګوے . ځکه چه د یو مؤمن او مؤحد په حیثیت به ته د خپل خواهش او ارادے نه کناره کش ئے . او خپل معاملات به د الله پاك ته سپارلے وی او د « وَمَا تَشَآؤُنَ اِلَّا اَنْ يَّشَآءَ اللّٰه » (تاسو به څهٔ نهٔ غواړی مګر هغه چه الله پاك غواړی ) ماتحت به ستا دُعا او سوال صرف د امر الٰهی اطاعت کول وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقاله (۷۰) په خپلو نیکو غرور نهٔ دے پکار

ستا په خپلو نیکو غرور کول او د هغې خپل نفس ته نسبت کول او په خلقِ خدا کښې په خپله راستبازی فخر کول ظاهر شرک او گمراهي ده - حالانکه د اخرکښې حقیقت دے چه په صراط مستقیم تلل او د نیکئ توفیق موندل د الله پاك په تائید او فضل او کرم منحصر دی - دغه عکس که یو سړے د کفر او شرك او د قسما قسم گناهونو نه بچ کیږی نو هغه هم سراسر د الله پاك د تائید او امداد په وجه وی - نو بیا نه د الله تعالیٰ د تائید او مدد په اقرار کولو کښې ولے د بخل نه کار اخلې - او نیکی کول او د بدئ نه بچ کیدل ولے خپل نفس ته منسوب کوے - حالانکه لوئے جلیل القدر انبیاءٔ او اولیاء الله به هم همیشه دا وئیل چه " لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ " - یعنی د الله تعالیٰ د احکامو د تعیل او د منهیاتو نه د بچ کیدو توفیق صرف د الله پاك په تائید او نصرت دے.

نو تاله پکار دی، چه نیکی، تقوٰی او راستبازی د الله پاك د جانب نه اوگنړے - او بدی او گناه خپل نفس امارة ته منسوب کړے - ځکه چه د گناهونو جرړه همدغه ده - د حضور صلے الله علیه وسلم ارشاد دے - " نیک عمل کوئی او د نیک عملئ توفیق د الله پاك نه غواړئ - د گناهونو نه بچ اوسئ - او د گناهونو نه د بچ کیدو د پاره نفس امارة



مغلوب کړے - د خپل پروردگار نزدیکت طلب کړئ - او د الله پاك فرمان بردار او راست بازجوړ شئ.

نو کوم سړے چه په مشیت الٰهی کښې د کوم دستور عمل د پاره پیدا شوے دے، هم هغه عمل د هغهٔ د پاره آسان کړے شوے دے - او هغه د هغې په پیروی مامور دے -

## مقاله (۷۱) د پیر او مرید راز و نیاز

طریقت او حقیقت کښې ستا دوه حالتونه ممکن کیدے شی - یا به ته مرید یې یا صاحب مراد - که ته مرید یې نو بیا خو په تا یو درونډ بار او د شریعت د پیره لویه ذمه واری پرته ده - ځکه چه ته لا اوس د صداقت او حقیقت د لار طالب او محتاج یې - او طالب له ډیر محنت، مشقت، ریاضت او مجاهده کول وی - حتیٰ چه هغه خپل مقصود او مطلوب ته اورسی.

د طریقت په لار کښې تاله مناسب نهٔ دی چه په مصیبتونو او مشکلاتو واویلا شروع کړے - او د الله پاك خلاف شکایت او فریاد را واخلې - ته به د صبر او تحمل نه کار اخلې او استقلال سره به په صراط مستقیم قائم اوسے - تر دے چه مصیبتونه تا نه رفع کړے شی - او خپل مقصود ته اورسے - نو د طریقت په لار کښې مصیبتونه او مشکلات په حقیقت کښې ستا د باطن تزکیه د روحانی درجاتو بلندی او د خلقو د احتیاج نه خلاصی دے.



او که ته صاحب مراد یې - او په تا آفات وارد کیږی نو د هغې آفاتو خلاف هم په الله تعالیٰ تهمت مهٔ لگوه او شکایت مهٔ کوه ځکه چه الله پاك په صاحب مراد اولیاء الله کله په دے وجه هم مصیبتونه نازلوی چه د هغوئ درجے اوچته کړی او روحانی قوت ئے زیات کړی - نو د صاحب مراد کیدو په صورت کښې هم ستا د مصیبتونو نه د الله تعالیٰ د امنشاوی چه هغه ستا درجه اولیاءٔ او ابدالو سره یو کړی - او تا خپل ځان ته نور هم قریب کړی.

آیا ته دا خوښوے، چه تا د اولیاء الله او ابدالو نه بے تعلقه کړی، او د فاسق او غافل خلقو په ډله کښې د شامل کړی - که ته دا وچتو درجونه غفلت هم او کړے، نو الله تعالیٰ هرگز دا نهٔ خوښوی، چه ته د دغې نه محروم کړی، الله پاك فرمائی : " ستاسو په بهترئ او فلاح وبهبود الله تعالیٰ ښهٔ پوهیږی - او تاسو نهٔ پوهیږئ ".

بیا که ته دا اووائے چه ابتلاء خو د طالب او مرید د پاره پکار وی - چه د طریقت د لار مبتدی وی، نهٔ چه د صاحب مراد د پاره چه صاحب مقصود دے - نو د دے جواب دا دے - چه د صاحب مراد ابتلاء څهٔ کلیه نهٔ ده بلکه نادر الوقت شے دے - د دے کښې د هیڅ اختلاف نشته چه د ټولو نه زیاته ابتلاء په برگزیده انبیاءٔ راغلے ده د ابراهیم علیه السلام واقعات اوگورئ - بیا د حضور صلی الله علیه وسلم



په مصیبتونو نظر اوکړئ چه د هغوئ ابتلا څومره سخته وه.

حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی " څومره چه زهٔ د الله پاك په دین کښې ویرولے شوے یم - دومره هیڅوك نه دے ویرولے شوے - او څومره چه ما د الله پاك په طاعت او امر کښې د کفارو نه تکلیف بیاموندے دے، دومره هیچا نهٔ دے بیاموندے . بیشکه د دین په خدمت کښې مسلسل دیرش ورځے او شپے په ما داسے تیرے شوے دی چه د هغې دوران کښې ما ته دومره طعام راکړے شوے دے، چه د بلال رض په ترخ کښې به پټیدے شو - او دغه حالت ځما د نورو منکرو هم وو.

د نبی اکرم صلے الله علیه وسلم ارشاد دے : " د انبیاءٔ په ډله زیات مصیبتونه او ازمائښتونه نازلیږی - بیا د غضه درجه په درجه په نورو بندگان خدا ابتلاء راځی " او رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی " - زهٔ ستاسو ټولو نه زیات د الله پاك پیژندونکے یم او د هغهٔ ویریدونکے " د دے نه معلومه شوه چه حضور صلی الله علیه وسلم د صاحب مراد کیدو باوجود په ابتلاء کښې اچولے شوے وو - او دا ابتلاء او د الله پاك نه ویره، د حضور صلی الله علیه وسلم د درجو د اوچتولو او د قرب خداوندی په غرض وه - ځکه چه دنیا د آخرت پټے دے - او د انبیاءٔ او اولیاء الله کار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتلاء صبرکول، مشیت الٰهی سره موافقت کول او د تسلیم او رضا لار اختیارول وی. بیا ترے مصیبت لرے کرے شی، په دیدار الٰهی بناد کرے شی. او عقبیٰ کښی په درجات عالیه سرفراز کرے شی.

نو واضحه شوه، چه دُنیا کښی د هر صاحبِ مراد دپاره ابتلاء لازمی نهٔ ده. او نهٔ دا څهٔ کلّیه گرځیدے شی. بلکه الله پاك د خپل حکمتِ بالغه ما تحت چا سره چه غواړی، دا معامله کوی.

## مقاله (۷۲) بازارونه او د خدائے د بندیانو قسمونه

د خدائے په مخلوق کښی دینی، روحانی او باطنی لحاظ سره د بنیاد مو مختلفے درجے وی. نو خلق چه کوم عمل کوی، هغه د خپل روحانی او باطنی کیفیت او صلاحیت مطابق کوی. او په هر عمل کښی د هغوی نیت، خواهش او نقطهٔ نظر جدا جدا وی، چه د هغے په بنا هغوئی ته اجر و ثواب یا عذاب ورکولے شی.

کوم خلق چه بازارونو ته ځی، د هغوئی اراده او تصورات جدا جدا وی. په دے لحاظ سره د هغوئی څو قسمونه دی. د دے کښی یو قسم هغه دی، چه هرکله بازار کښی داخل شی. او لذت او شهوت کښی اخته کونکی څیزونه اووینی، نو په هغے کښی ورکښیوځی او د دغے اشیاؤ د کشش او جاذبیت په وجه



په هغے کښی محو شی. نو دا خلق د دے څیزونو سره د دمره زړهٔ او تړی، چه جائز او ناجائز نهٔ گوری. خو د هغے په حاصلولو کښی مصروف شی. او فتنو کښی پریوځی. د دے لذّتاکو او شهوتاکو څیزونو نظاره د هغوئی دپاره گمراه کُن او د دین او عبادت نه د دوئی لرے کونکی وی. نو دغه شان دوئی د نفسِ امارهٔ په پیروئی کښی د الله تعالیٰ د اطاعت نه لرے شی. مگر دا چه الله پاك دوئی ته په خپل فضل و کرم د نفس د شرونو او د لذتونو نه د پرهیز توفیق ورکړی. او سلامت پاتے شی.

بازار ته تلونکو کښی دویم قسم خلق هغه دی چه هغوئی د لذت او شهوت څیزونه اووینی، نو هغه د غفلت او گمراهئ موجب گنړی. دا عقل د عقل او شعور خاوندان دی. او د دین پله رجوع کونکی دی. د شریعت اتباع صبر او تحمل سره کوی. دا خلق د مجاهدینو په شان دی چه په نفس او شهواتو غلبه حاصلولو کښی د الله پاك مدد ئے شامل حال وی. او نفس سره د دوئی دا جهاد د نورو نیکو نه د زیات ثواب باعث وی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: " هرکله چه یو مومن په بعضے لذتونو او د نفس په شهوتونو اختیار بیاموی او د خدائے د ویرے نه ئے پریږدی، نو هغهٔ ته به د هغے نیکئ په بدله کښی اَوِیّا چند زیات ثواب ورکولے شی."

دریم قسم خلق هغه دی. چه د لذت او شهوت څیزونه فوراً حاصل کړی. او هغوئی سره واصل شی. دا خلق ځان



دپاره د غفلت او گمراهئ سامان خپله پیدا کوی.

او څلورم قسم هغه خلق دی، چه بازار ته ځی. نو خپل خواهش او ضرورت صرف د الله پاك جائزو او حلالو څیزونو پورے محدود ساتی. او چه کوم څیزونه حاصل کړی نو په جائزه طریقه د هغے استعمال کوی. او د الله پاك د نعمتونو هردم شکریه په ځائے راوړی. دا خلق برکت او خلاصی موندونکی دی.

بازار ته تلونکو کښی پنځم قسم د خدائے بندیان دا دے دی، چه د لذّت او شهوت څیزونو ته نهٔ گوری، او نه ورته توجه کوی. دوئی د دے نه بالکل بے خبره وی او د ماسوا الله نه بغیر بل هیڅ نهٔ وینی. دوئی غیر الله نهٔ وینی او نهٔ ئے اوری. او نهٔ ئے موجود گنړی. هغوئی خپله ټوله توجه هر وخت خپل خدائے ته گرځولے وی. په دے وجه هغوئی د گنړے بیړے نه هم د هغے تنهائی لطف اخلی چه د ذکر او فکر نه معموره وی. چه ته دوئی بازار کښی بیاموے. او تپوس ترے اوکړے چه. بازار کښی تا سو څه اولیدل؟ نو هغوئی به درته اووائی چه "د یو ابدی ذات نه مو سوا هیڅ او نه لیدل او د هغوئی دا وینا بالکل درسته ده. ځکه چه هغوی څه لیدلے وی هغه ئے د سر په سترگو نه بلکه د زړهٔ په سترگو لیدلی وی. خواهش او ارزو سره ئے نه وی لیدلی، محض صورت کښی ئے لیدلی وی، معنیٰ کښی ئے نهٔ وی لیدلی ظاهری ئے لیدلی وی، باطنی ئے نه وی لیدلی. او بیا چه



څومره او څهٔ ئے لیدلے وی. په هغے کښی ئے هم خپل خالق او صانع لیدلے وی. دوئی د مخلوقاتو په یو اړخ کښی د الله تعالیٰ د جمال مشاهده کوی. او په بل اړخ کښی د هغهٔ د جلال.

بازار ته تلونکی د خدائے برگزیده بندیان شپږم قسم هغه دی. چه هرکله هغوئی عوام په گفتار او کردار او په گمراهئ کښی اووینی. نو د دوئی زړهٔ د هغوئی دپاره د هغوئی رحم او شفقت نه ډك شی او د هغوئی نه د نفرت کولو یا په هغوئی د لعنت او ملامت په ځائے بازار کښی د داخلیدونه د وتو پورے د الله تعالیٰ په حضور کښی د هغوی دپاره د شفاعت او مغفرت دُعا کوی. او الله پاك ته زاری کوی، چه اے پروردگاره دے خلقو ته هدایت اوکړے او په سمه لار ئے روان کړے. چه ستا د نافرمانئ او د شریعت د خلاف ورزئ نه بچ شی.

نو د الله پاك دا سے مخلص بندیان د ښارونو او بادو محافظ دی. او هم دغه خلق دی چه د اولیاؤ الله، ابدالو، زاهدانو، متقیانو، او په زمکه د خدائے د نائبانو خلفاؤ، خوش اخلاقو، شیرین ژبانو، هادی او مهدی مرشد او رهنما په نومونو یادیږی شی. دا دے خلق اکسیرِ اعظم او نادر الوجود دی. او تنهائی او گنړه کښی د دوئی د دُعا او صحبت برکات د پرخوش نصیبه خلقو ته حاصل وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوئی د د الله پاك رحمتونه وی او د نوع انسان د هدایت او سعادت د پاره د الله تعالیٰ دوئی سلامت او صاحب قوت لری. الله پاك د مونږ هم دداسے خلقو د فیض نه فیض یاب کړی. آمین.

## مقاله (۴۳) اولیاء الله په کومه طریقه فاسقانو ته هدایت کوی؟

بعضے اوقات الله پاك خپل یو ولی او برګزیده بنده د بعضے فاسق او فاجر خلقو په ظاهری او باطنی عیبونو آګاه کړی. او ددے آګاهئ مقصد داوی، چه دا بزرګ د دغه ګمراه او بدکردار خلقو ته د شریعت د امورو تبلیغ اوکړی او د کلام الله په رڼا کښ د حق او باطل فرق هغوئی ته واضحه کړی. ولے دغه ولی الله د تبلیغ د آداب و ماتحت د یو مشرك او فاسق سړی د خلقو مخکښ سپکاوے نهٔ کوی.

الله پاك فرمائی .. ته د خپل پروردګار نیغ لارے ته خلق په حکمتِ عملیٔ، محبت، نرمیٔ او شیرین کلامیٔ بلنه. او کهٔ هغوئی سره بحث و مباحثه کوے نو په خوش اخلاقی سره کوه. د پاره ددے چه هغوئی صراط مستقیم ته مائل شی. نو د خدائے دغه نیک بنده چه فاسقانو ته هدایت کوی، نو په تنهائی کښ او په مینه او محبت سره ئے ورته کوی. او په دا سے معقوله طریقه هغوئی ته په توحید او شرك، او نیکیٔ او بدیٔ کښ فرق ښکاره کوی، چه د شریعت احکام او تعلیمات



نبوی ﷺ د هغوئی په زړونو کښ ځائے اونیسی. او هغوئی د شرك او فسق په تخریبی تاثراتو دا سے پښهٔ پوه شی چه د امر الهیٰ اطاعت ته د زړهٔ په مینه آماده شی.

دغه ولی الله دوئی ته ښائی چه ترڅو تا سو د شرك او فسق نه د خپل باطن مکمل تزکیه اونهٔ کړئی نو تر هغه به تاسو ته د اسلام او ایمان یقین حاصل نشی او د اسلام او ایمان د پاره د شریعت اتباع لازمی ده. آیت شریف دے :" الله پاك شرك هرګز نهٔ معاف کوی. او ددے نه علاوه چه کومه ګناه معاف کول اوغواړی هغه معاف کوی ". بل ځائے ارشاد دے: اے مسلمانانو! د خپل عاقبت ښائسته کولو د پاره ځان سره د تقوٰی توښه واخلئ، ځکه چه د آخرت د سفر د پاره بهترینه توښه تقوٰی ده".

د خلق خدا داسے مشفق او همدرد بزرګ چه د فاسقانو او مشرکانو په عیبونو آګاه شی، نو د هغوئی سپکاوے نهٔ کوی بلکه خوش اخلاقیٔ او شیرین کلامیٔ سره هغوئی صراط مستقیم ته مائل کوی. دغه بزرګ د چا عیب او بدګوئی هم نهٔ کوی ځکه چه داسے کول د یو ولی الله د پاکیزه سیرت او ښکلی عمل نه ډیره لیرے خبره ده. چه هغه د خلقو پټے پټی شا خبرے اوکړی. او بدے ردے د ورپسے اووائی. یا د هغوئی پټ عیبونه د نورو خلقو ته په ډاګه بیان کړی. هغه خود خدائے نور مخلوق د غیبت او د بد عادت نه منع کوی. نو په خپله به



بیا څنګه غیبت اوکړی. کهٔ تنهائی کښ وی یا مجلس کښ، هغه د مشرك او فاسق خلقو په طرز عمل ونه نهٔ ږدی، بلکه په احسنه طریقه ورته هدایت کوی.

د دغه ولی الله تبلیغ چه د ګمراهانو په ظاهری او باطنی عیبونو آګاه کړے شوے دے، سراسر د الله پاك د اذن ماتحت وی. او دغه تبلیغ په داسے خوش اخلاقیٔ او شیرین ژبانیٔ سره وی، چه اکثر مشرك او فاسق خلق د شرك او فسق نه بیزاره شی، او د توحید او تقوٰی لار اختیار کړی.

قرآن پاك وائی :" د الله پاك چه چا ته رضا اوشی، نو صراط مستقیم پله ئے رهنمائی کوی ". (زمونږ د الله پاك نه خواست دے، چه مونږ هم په صراط مستقیم روان کړی. آمین)

## مقاله (۴۴) کائناتو کښ د توحید آثار

الله پاك فرمائی :" ځما په زمکه کښ د یقین او ایمان راوړونکو د پاره ډیرے نخښے دی. او دا نخښے ستاسو په خپلو ځانونو کښ هم موجود دی. تاسو ئے نهٔ وینئ؟ " دے حقیقت کښ هیڅ شك نشته چه د الله تعالیٰ په ذات، صفاتو او وحدانیت یقین او ایمان راوړونکو د پاره زمکه د هغهٔ د صنعت د عجائباتو نه ډکه ده. نو هر صاحبِ عقل له پکار دی، چه هغه د عرفان او ایمان حاصلولو د پاره غور او مشاهده د خپل ذات نه شروع کړی. او د خپل



وجود ظاهری او باطنی ترکیب ته د غور او فکر په نظر اوګوری او هر کله چه د ځنځ نفس عرفان او علم ابتدا ئی کښ بصیرت حاصل شی نو بیا د د نورو کائناتو او د اشیاؤ په حکمت غور او تدبر کوی.

په مخلوقاتو د غور او فکر کولو نه به په دهٔ د خالق عظمت او کبریائی واضحه کیږی. او چه مصنوعاتو ته ئے اوګوری، نو دهٔ ته به د صانع د ذات او صفاتو اندازه لګیږی. او دغه شان د توحید او معرفت حقائق دهٔ ته د قلب په سترګو څرګندیږی. ځکه چه دا یوه کلیه قاعده ده. چه صنعت د خپل صانع د کمال فن ترجمانی کوی. او فعل د خپل فاعل په قدرت او صلاحیت دلالت کوی.

قرآن پاك کښ راځی :" الله پاك د زمکے او آسمانونو ټول څیزونه ستاسو د پاره مسخر کړی دی ". حضرت ابن عباس رضی الله عنه د دے آیت تفسیر داسے فرمائیلے دے چه :" د کائناتو هر څیز د اسمائے الهیٰ نه یو اسم دے. او د هر څیز نوم د الله پاك د ځه نه ځهٔ اسم علامت دے. حتیٰ چه اے انسانه! ته خپله هم بذات خود هیڅ نه ئے، مګر د هغه د اسم، صفت او فعل یو عکس ئے. د هغه قدرت سره پټ او د هغه حکمت سره څرګند ئے. الله تعالیٰ کائناتو کښ خپل صفات ظاهر کړے دی او خپل ذات ئے پټ کړے دے. سره ددے چه ذات ئے صفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې او صفت کښې فعل کښې ظاهر کړے دے. او خپل علم کښې ارادے سره، او اراده کښې حرکاتو او افعالو سره ښکاره کړے ده. او الله پاک خپل امور غیب کښې باطن او خپل قدرت او حکمت کښې ظاهر دے. سره د دے چه د کائناتو ټول اشیاء د هغهٔ د صنعت او قدرت ترجمانی کوی، خو باوجود د دے هیڅ شے د هغهٔ په مثل نشته. هغه عالم الغیب، سمیع او بصیر، د زمان و مکان د حد و دو نه بالاتر او همیشه ژوندے او باقی دے.

دے کښې شک نشته. چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه کلام د اسرارِ معرفت نه معموره دے. او د ښے نکات او معنی هم د دے سینې نه څرګندیږی، چه هغه ژوندے او روښانه قلب لری. او حکمت او معرفت کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا درجه په دے بناء وه، چه حضور صلی الله علیه وسلم د هغوئ په حق کښې دا دُعا فرمائیلے وه، چه یا الله! دهٔ ته دین کښې حکمت او پوهه ورکړے. او د آیتونو د معنو علم لدنی ئے نصیب کړے. الله پاک دې مونږ هم د کتاب الله په اسرارو د پوهید و برکات کیږدی. او په ورځ د محشر دے مونږ د هغوئ د ډلے نه کړی. آمین

## مقاله (۷۵) د تصوف بنا په اتو خصلتونو ده

زهٔ تاته دا وصیت کوم، چه د الله پاک نه ویره اوکړه. د هغه فرمانبرداری او د ظاهر شریعت پابندی کوه. خپله



سینه د شرک او فسق د زنګ نه پاکه کړه. د بخل نه بچ اوسه، او سخا اختیار کړه. د خلقو حقوق په هیڅ وجه مه غصب کوه. خوش اخلاق اختیار کړه. او خپل تندے پرانستے او رو ښ ساته. د خرچ کولو جائز او مباح څیزونه خرچ کوه. د خدائے مخلوق ته ضرر مهٔ رسوه. په فقر او طریقت کښې چه کوم مصیبتونه درپیښ شی نو په هغے صبر کوه. او یقین او خلوص سره د الله پاک نه مدد غواړه.

د اولیاء الله او مشائخو عزت کوه، مسلمان رور سره ښهٔ سلوک ساته، او په دیانت داری ورسره چلیږه. د مشرانو آدب کوه. او کشرانو ته د نیکو کارونو نصیحت کوه. د غم ځپلو او خوارانو حاجت روائی کوه. د خوراک څښاک څیزونه ځان سره مهٔ ذخیره کوه. دے سره خلق خدا ته تکلیف رسی. کوم خلق چه فاسقان دی او د اولیاء الله عزت نهٔ کوی. د هغوئ صحبت ترک کړه. او دینی او دنیاوی امورو کښې د بندګانِ خدا مدد کوه.

د فقر حقیقت دا دے چه تهٔ د خپلو هم جنسو محتاجی اونهٔ کړے، او خپل ضرورت صرف د الله پاک په حضور کښې پیش کړے. او غنا دا ده چه د ارشادِ نبوی ﷺ تا ته غنا نفس حاصل شی او ته مخلوقاتو ته د رجوع کولو په ځائے یو رب خپل قاضی الحاجات اوګڼړے. او یاد ساته چه تصوف محض په قیل وقال او بحث مباحثو نه حاصلیږی



بلکه د لذتونو او شهوتونو پریښود لو او ذکر الهی سره په وابسته کیدلو پیا موندے شی او فقیر سره د صحبت او محبت اختیارولو اصول دا دی چه هغهٔ سره د مخکښې نه علمی مسائل مه چیړه، ځکه چه ابتدا کښې دے سره نفرت پیدا کیږی. بلکه نرمیُ او محبت سره د هغهٔ په وړاندے د ذکر او معرفت خبرے کوه، ولے چه دے څیزونو سره هغه طبعًا بلد دے.

یاد ساته چه د تصوف بناء په دے اتو خصلتونو ده. څوک چه دا خصلتونه نهٔ لری، هغه صوفی نهٔ دے.

(۱) د حضرت ابراهیم علیه السلام په شان سخا.

(۲) د حضرت اسحاق علیه السلام په شان رضا په قضا.

(۳) د حضرت ایوب علیه السلام په شان صبر.

(۴) د حضرت زکریا علیه السلام په شان مناجات.

(۵) د حضرت یحیٰی علیه السلام په شان ذکر او وجد.

(۶) د حضرت موسیٰ علیه السلام په شان ساده جامه.

(۷) د حضرت عیسیٰ علیه السلام په شان سیر فی الارض.

(۸) د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان فقر او توکل.

په دے ټولو انبیاؤ علیهم السلام دې د خدائے تعالیٰ



رحمتونه وی، او ځمونږ سلامونه. د تصوف د بنیادی اصولو خپلولو د پاره د دغے اتو خصلتونو پیروی ډیره ضروری ده.

## مقاله (۷۶) مسلمان ته یو څو وصیتونه

زهٔ تاته د یو څو خبرو وصیت کوم، او په هغے په اخلاص سره عمل اوکړه او هغه دا چه امیرانو سره یو ځائے کیږے نو هغوئ سره د خود داری نه کار اخله. او چه فقیرانو سره یو ځائے کیږے نو هغوئ سره تواضع او عاجزی اختیاروه. په عمل کښې خلوص پیدا کول په تا لازم دی. او خلوص دا دے چه په ټولو ذکرونو او عبادتونو کښې صرف الله تعالیٰ ته توجه لره. او مخلوق د خپلے توجه مرکز مه ګرځوه. د خپلو مسلمانانو ورونړو حقوق په ټکیُ توریُ مه وهه. او د فقیرانو صحبت، آدب او احترام، او کړه او سخاوت سره اختیار کړه.

د نفسِ اماره د تابعدارئ نه پرهیز اوکړه، چه په معنوی ژوند موړشے. او خپل اخلاق ښهٔ ساته. ځکه چه د چا اخلاق ښهٔ وی. هغه الله پاک ته زیات نزدے وی. او خپل باطن ماسوی الله ته د مائل کیدو نه بچ کړه، ځکه چه هم د توحید او افضل الاعمال دے کوم خلق چه شرک او فسق کښې اخته وی. هغوی ته د حق تبلیغ کوه. ځکه چه تبلیغ په هر مسلمان فرض دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو چه درنه کیدے شي، دربښتینی فقیر او ولی الله خدمت کوه، دځان نه په کمزوری حمله مه کوه، ځکه چه دا نامردی ده. او دځان نه په بأندے هم حمله مه کوه ځکه دا بد تهذیبی او بد خلقی ده.

همیشه په هرحال کښ د الله تعالی ذکر کوه، په دے چه ذکر د ټولو نیکو او سعادتونو جرړه ده. د الله پاك په عهد وپیمان په عملی طور احترام کوه. ځکه چه دا ځیز مسلمان د هرقسم ضرر نه محفوظ ساتی. په دے عقیده پوخ ایمان ساته چه ستا د ټولو حرکاتو او سکناتو او ګفتار او کردار به د الله په حضور کښ تپوس کیږی، نو ګناهونو نه ویزاره شه، او په نیک کارونو کښ مشغول شه. خپل اعضاء د حرام او ممنوع ځیزونو نه بچ کړه او د الله پاك د برحق نبی ﷺ اطاعت په ځان لازم کړه. ځکه چه د دوی اطاعت د صراط مستقیم ضامن دے. او الله پاك چه څوك د ملك او حکومت واکدار کړے وی. د هغه فرمانبرداری کوه. او د هغه حقوق ادا کوه. او د خدائے په زمکه کښ دامن نه پس فساد مهٔ پیدا کوه. په مسلمانانو د نیکی ګمان کوه. او هغوی سره د نیک نیتئ سلوك کوه.

خپله ژبه د غیبت، تهمت او بدګوئی نه اوساته، په خپل زړهٔ کښ هیڅ یو مسلمان رورته بد خواهی، کینه او عداوت مه ساته. او په خپلو الفاظو یا حرکاتو د هیڅ یو



مسلمان زړه مهٔ ازاروه. حلاله روزی ګټه. او د اهل وعیال خدمت کوه ځکه چه دا هم عبادت دے. د شریعت کومے مسئلے چه درته نهٔ وی معلومے. هغه د علمائے دین نه پوښته. او محض په قیاس پسے مهٔ ځه. الله پاك سره باطنی ربط او تعلق ساته. او مخلوقاتو سره د خدائی تعلقاتو په خیال بوخا ئے کیږه.

هر سحر د خپل ځان او مال د جانبه د صدقه ورکوه د غریبانو او مسکینانو مدد کوه. او د خپل ذکر او عبادت په اوقاتو کښ د خپلو مرحومو لواحقینو او ټولو مؤمنانو مسلمانانو د پاره د مغفرت دُعا غواړه. او هر سحر او ماښام د خپلو مور او پلار وند و د پاره دا دُعا هم غواړه. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَ شَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَ کَبِیْرِنَا وَ ذَکَرِنَا وَ اُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ ط او د تلاوت قرآن او درود شریف په طفیل د هغوئ د پاره د خدائے نه بخښنه غواړه.

او هر سحر ماښام دا دُعا اوه ځله لوله. (۱) اَللّٰهُمَّ اَجِرْنَا مِنَ النَّارِ (۲) اَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِیْعِ الْعَلِیْمِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ (۳) هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ○ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَیْمِنُ الْعَزِیْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَکَبِّرُ



سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِکُوْنَ ○ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی ط یُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ○ (سوره حشر)

الله پاك دِ مونږ ټولو له د ذکر او عبادت توفیق راکړی. او الله پاك دِ مونږ نه راضی شي، مونږ ترے راضی یو. آمین.

## مقاله (۷۷) خالق او مخلوق سره څنګه روش پکار دے؟

د الله پاك په ذکر او عبادت کښ داسے اوګڼه. چه مخلوق هډو موجود نه وینه. او مخلوق سره داسے روش اختیار کړه، چه ستا نفس هډو وی نه. چه ته د مخلوق نه بے تعلقه شے. او الله تعالی سره کامل ربط پیدا کړے. نو ته به حقیقی معنو کښ د هغهٔ قرب حاصل کړے. او چه ته بغیر د نفس د پیروئی نه مخلوق سره شے. نو ته به عدل کوے او په حق او صداقت به قائم ئے. او دا روش به تا د هر قسم نقصان او تباهئ نه محفوظ ساتی. او چه ته خلوت اختیار کړے. نو د ذکر او فکر په برکت به خپل حقیقی دوست د باطن په سترګو اووینے او د هغه تجلیات به مشاهده کړے د غلته به په تا د نفس اماره غلبه نهٔ وی. او د هغه په ځائے به د الله پاك عشق تاته حاصل وی د هغه وخت به ستا جهل په علم او ستا لرے والے په قرب بدل شي. او د هغه وخت



به ستا خاموشی وجد او سرور وی. ستا ګفتار به ذکر وی او ستا مستی به د الله تعالی محبت وی.

یاد ساته چه د عبودیت په مقام کښ محویت حق لازمی ځیز دے. او دلته چه د چا توجه کوه وده ده. نو هغه په شرك کښ اخته دے. کهٔ تا خالق اختیار کړے وی، نو د مخلوق دا بے متابعت مهٔ کوه. چه د رضائے الهی خلاف وی. "کوم سړی چه د عشق الهی مزه او څکله. نو هغه خپل الله او پیژندلو. چه دا ارشاد یو سړی او ویئو نو د حضرت پیرانو پیر صاحب نه ئے تپوس اوکهٔ چه د په کوم سړی صفرا غالبه وی، نو هغه د خوږ والی خوند څنګه اخستلے شی"؟ نو حضرت محبوب سبحانی عبد القادر جیلانی ؒ ورته اوفرمائیل چه، هغه دِ ترخپله وسه ریاضت او مجاهده کوی. او په تکلف او قصدا دِ د نفس د خواهشاتو نه پرهیز کوی. بیا به د هغه ذوق درست شي، او هغهٔ ته به د ذات او صفات خداوندی عرفان حاصل شي".

اے مومنه! یاد ساته. چه واردات قلبی او عقل و شعور کښ تضاد او تصادم دے. (یعنی خپلو کښ ئے سره نهٔ لګی او دا تضاد او تصادم هغه وخت رفع شي. چه مؤمن د معرفت په مقام کښ د توحید الهی په نشه کښ سرشار شي. بیا د هغه قلب د ماغ شي. او دماغ قلب. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان بیا د واړو کښې کامل یکانګت او هم اهنګی پیدا شی

اے مؤمنه! مخلوق د خپل طبیعت نه محو او نا بود کول دا سے دی، لکه د انسانی طبیعت د ملا نګو په طبیعت کښې بدلیدل. او چه ته د ملا نکو د خصلتونو نه هم بالاتر شے. نو بیا ستا د - اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰی" (زهٔ ستا سو رب نهٔ یم څهٔ؟ نو ارواحونو اوویل چه بیشکه ئے) په عهد کښې فنا کیدل د ائمی بقا بیا موندل دی. دغه وخت به ستا ګفتار، او ستا ټول حرکات سکنات اِذن الٰهی سره وی. کهٔ ته د دے اوچت مقام خواهان ئے. نو په تا دا خبره لازمی دهٔ چه د نفسِ امّاره نه کناره کش شے. او د الله پاك د امر و نهی فرمانبردار شے. بیا به تا ته د پروردګار د معرفت علم لَدُنِّیْ حاصل شی. ته به د هر څیز نه فانی شے. او حق تعالیٰ سره به باقی شے.

هرکله چه ستا هستی حق تعالیٰ سره باقی شی. نو ستا هر څهٔ به د هغه د رضا او خوشنودی د پاره وی (نه چه د خپله رضا او خوشنودئ د پاره). کهٔ ته د زهد، تقوٰی او معرفتِ معنوی او باطنی فرق معلومول غواړے نو پوه شه. چه د زهد عمل دا سے دے لکه یو ساعت او د تقوٰی عمل دا سے دے لکه دوه ساعته، او د حق تعالیٰ معرفت دا سے دے، لکه یو دائمی او ابدی عمل. (الله پاك دِ موږ د خپل معرفت به ابدی عمل بناد کړی. آمین.



## مقاله (۷۷) د اهل مجاهده لس خصلتونه

د نفس د مجاهده کوونکو او محاسبه کوونکو اهلِ طریقت خلقو لس ښکلے خصلتونه وی. چه په هغے همیشه عمل کونکی وی. هرکله چه هغوئی د الله د حکم او د سنتِ نبوی ﷺ په اتباع کښې په د ے خصائلو قائم پاتے شی، نو د معرفت او روحانیت اوچتے درجے بیا مومی.

ړومبے خصلت دا دے. چه بنده قصدًا یا سهوًا په دروغه یا په رښتیا هرګز قسم نهٔ خوری. او ځان په قسم نهٔ عادتوی. خواه هغه قسم د الله په نوم وی. د هغه د کلام پاك په نوم، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په نوم یا د بل چا په نوم. ځکه چه څوك په قسم خوړلو عادت شی نو د هغهٔ په نزد د قسم هیڅ عظمت یا اهمیت پاتے نشی. او هغه دانسته یا نادانسته د هغے خلاف ورزی کوی. د دے نه علاوه د خدائے تعالیٰ په قهر او غضب کښې هم راشی. څوکله چه انسان ځان د قسم نه خوړلو عادت کړی. او د سخت ضرورت په وخت کښې هم قسم اونهٔ خوری، نو الله تعالیٰ په هغه خپل انواد او برکات نازل کړی چه په هغے د هغه په ظاهری او باطنی نعمتونو کښې اضافه کیږی او د هغه درجات پورے اوچتیږی. په خلقو کښې ئے تعریف او توصیف (صفت) شروع شی. او خلق ئے ځان د پاره یو ښکلے



نمونه ګڼړی. او پیروی ئے کوی. او څوك ئے چه وینی. د هغه نه مرعوب او هیبت زده کیږی.

دویم خصلت دا دے چه بنده ارادتًا یا ټوقه ټقاله کښې هم د دروغ ویلو نه پرهیز اوکړی. په دے چه دروغ انسان بریدوګے کوی. او د هغه قلب او دماغ زنګ آلود کوی. او د ے سره خلقِ خدا کښې د هغه آثر او اعتبار ورك شی. د دے نه علاوه کوم سړے چه د خلقو مخکښې دروغ وائی، هغه په الله پاك هم د دروغو ویلو نه ګریز نهٔ کوی. د دے برعکس کهٔ دے خپله ژبه په رښتیاو ویلو عادته کړی. نو الله پاك به دهٔ ته شرح صدر عطا کړی او د هغهٔ سینه به د علوم و معارف اسلامیه د پاره پرانزی. هرکله چه دے د نورو نه دروغ اوری نو په خپله ژبه او عمل به هغوئی ته د رښتیا ویلو تبلیغ کوی. او د دروغژنو د دروغو د عادت رفع کولو د پاره به دعا کوی. غرض دا چه دروغ د کمزورے عقیدے او د فاسق او فاجر خلقو روش دے. او رښتیا او حق ګوئی د ایماندارو، اولیاؤ صلحاؤ او صدیقینو دستور عمل دے.

دریم خصلت دا دے، چه هرکله بنده چا سره عهد و پیمان اوکړی. نو د خپلے وعدے هرګز خلاف ورزی نهٔ کوی. په قرآن او حدیث کښې د وعدے د پابندئ د یر تاکید راغلے دے. او دا د ایمان یو لوے علامت ګڼړلے



شی. الله پاك فرمائی ؛ اے مسلمانانو! تاسو د خپلو وعدو تعمیل کوئی. ځکه چه تاسو نه به ستاسو د وعدو باز پرس کیږی ". او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ؛ کوم سړے چه د خپلے وعدے پابندی نهٔ کوی، هغهٔ کښې هیڅ ایمان نشته ". نو یاد ساته چه چا سره د وعدے کولو او د هغے د ماتولو نه دا خبره زیاته بهتره ده، چه هډو وعده ورسره او نهٔ کړے. د دا سے وعدے کولو نه، چه د هغے تعمیل او نهٔ شی، یا د تعمیل نیت پکښې نهٔ وی، د هغے نهٔ کول مبارك او د خلاصی باعث دی. په دے چه د وعدے خلاف ورزی هم د دروغو یو بد ترین قسم دے. او د قوتِ ارادی او د حسنِ سلوك او خوش معاملګی بربادی ده او خلقِ خدا کښې بدعهدی کونکے سړے هیڅکله عزّت نشی موندے. او کوم سړے چه صداقت او ذمه داری سره د خپل عهد و پیمان پابندی کوی. هغه همیشه او هر ځائے د خلقو په نظر کښې ورځ په ورځ زیات عزّت او اعتماد حاصلوی. الله پاك هم دے محبوب ساتی. او دنیا او عقبٰی کښې هم دے ترقی او کامرانی حاصلوی.

څلورم خصلت دا دے. چه انسان په چا بنی آدم یا څهٔ څیز لعنت او نهٔ کړی. ځکه چه د لعنت کولو حق صرف الله پاك ته حاصل دے او د هغه د عالم الغیب کید و په لحاظ سره هغه ښه پوهیږی، چه کوم سړے یا څیز د لعنت کولو قابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے ، او د معتوب او مغضوب کیدو مستحق دے ۔ نو لعنت نهٔ کول ، او مخلوقِ خدا ته ضرر نه رسول د اولیاء الله، ابرارو او صدیقینو صفت دے ۔ او په دے وجه د دوی د اتباع کونکو هم په دنیا او عقبیٰ کښې اوچتے درجے دی ۔ او الله تعالیٰ د هغوئی د ایمان محافظ وی ۔ مومن له پکار دی چه ځانے په ځانے لعنت کولو سره د الله پاك علم او فعل کښې دخل ور نهٔ کړی ۔ او په نورو خلقو د لعنت په ځائے د خپل سیرت او عمل اصلاح اوکړی ۔

پنځم خصلت دا دے چه د مسلمان د پاره د بد دُعا کولو نه پرهیز اوکړی ۔ کهٔ په دهٔ د یو جانب نه څهٔ زیاتی او ظلم شوے وی ۔ نو د هغهٔ د پاره د د بد دُعا په ځائے د هدایت دُعا اوکړی ۔ او د صبر او تحمل نه د کار واخلی دا خصلت د سړی درجے پورته کوی ۔ او هرکله چه بنده په دے صفت خائسته شی ۔ نو هغهٔ کښې د سیرت پخنگی پیدا شی ۔ او په مخلوق کښې د هغهٔ د پاره د محبت او مقبولیت جذبات پیدا شی ۔ او د مؤمنانو په زړونو کښې عزت او احترام بیا موهی ۔ کلام الله کښې د بد دُعا جواز هم موجود دے ۔ او انبیاؤ چه کله بعضے قومونه یا افراد یقینی طور سره د بد دُعا مستحق بیاموندی دی ۔ نو د هغوئی د پاره ئے په مختلفو موقعو بد دُعاگانے کړے دی ۔ خوکله چه یو سړے بد دُعا هم کوی ۔ نو څومره د بیان مطابق په ومبے هغه له د هر لحاظ



او هر حیثیت نه د ایقین او اطمینان ورکول پکار دی چه د بد دعا ئی د پاره یو سړے واقعی مستحق دے او که نه ۔

شپږم خصلت دا دے ۔ چه په مؤمنانو او اهل قبله کښې د په هیڅ یو سړی په یقین او وثوق سره د کافر ، مشرك یا منافق حکم نهٔ لګوی ۔ ترڅو چه پوخ او واضح ثبوت بیا نهٔ موهی ۔ په چا د کفر حکم کول ډیر یو نازك او د ذمه دارئ فعل دے ۔ او بغیر سوچ او فکر او تحقیق نه دا سے کول نهٔ دی پکار ۔ د دے برخلاف په چا د کفر حکم نهٔ کول په علمِ الٰهی کښې د دخل ورکولو نه بچ کیدل دی ۔ او سنتِ نبوی ﷺ اتباع ده ۔ د مؤمن د پاره ښه طریقه دا ده ، چه احتیاط اوکړی ، دا خصلت د الله پاك رحمت او رضامندئ ته ډیر قریب دے ۔ په بل مسلمان د کفر د فتویٰ کولو په ځائے د سړی د خپل ایمان حفاظت اوکړی چه د خدائے تعالیٰ د غضب نه په امن شی ۔

اووم خصلت دا دے چه انسان د په ګناه او معصیت کښې د حرامو او ناجائزه څیزونو د کتلو نه یا هغے ته د راتګ کیدو نه پرهیز اوکړی او خپل اعضاء د الله پاك د ممنوع کړے شوی څیزونو نه بچ اوساتی ۔ دا د احکام الٰهی احترام دے ۔ چه د هغے د پاره الله پاك خپل بنده ته په دنیا او عقبیٰ کښې عزت او سرفرازی عطا کوی ۔

اتم خصلت دا دے ۔ چه مخلوقاتو کښې په هیچا دے



خواه هغه مشر وی ، یا کشر ، خپل ناجائزه بوج نهٔ اچوی ۔ او په هغه د ظلم زیاتی نهٔ کوی ۔ دا خصلت د دینداروئ ذاکرانو او عابدانو خلقو عزت دے ۔ او د دے په تعمیل سره هغه په مؤثره طریقه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قوت بیا موهی ۔ هرکله چه د مؤمن دا روش وی چه هغه د خپل حاجاتو او ضرورو یا تو د پاره د الله پاك نه علاوه نورو مخلوقاتو ته توجه نه کوی او نه د هغوئی په صدقاتو نظر غور ګوی ۔ نو الله پاك هغه د توکل او استغنا په بے مثله صفاتو ښاد کړی ۔ دا خصلت د توحید او اخلاص دا حقه درجے بیاموندلو د پاره د تولونه اهم او فائده مند صفت دے ۔

نهم خصلت دا دے ، چه مسلمان د حرص او هوس په دام کښې ګیر نه شی ۔ د الله پاك په ورکړے شوی نعمتونو شکر اوباسی او مخلوقات د خپلو حاجاتو مرجع او نهٔ ګرځوی ۔ دا د توکل روح دے ۔ او د اعتماد علی الله اصول او دا د هغے برګزیده بندګان حق تعالیٰ او اولیاء الله د علامانو نه دے ۔ چه هغوئی مخلوقاتو سره ربط قطع کهٔ او الله پاك سره ئے خپل روحانی او معنوی تعلق محکم کهٔ ۔ او دنیا او عقبیٰ کښې ورته سعادت او خلاصی حاصل شو ۔

لسم خصلت دا دے ، چه تواضع اختیار کړی ۔ او عجز او انکساری خپل شعار جوړ کړی ۔ تواضع سره د مسلما



درجه پورته کیږی ۔ او د خالق او مخلوق په نزد هغه د عزت او وقار خاوند شی ۔ د هغهٔ په دُعا او مناجاتو کښې دا اثر پیدا شی ، چه هغه د دُنیا او آخرت د کوم څیز اراده اوکړی ۔ الله تعالیٰ هغه پوره کوی ۔ دا خصلت د ټولو عبادا تو اصل دے ۔ او د ایمان او اخلاقو ټول ښکلی صفتونه د دے نه پیدا کیږی ۔ د دے خصلت سره مؤمن د هغے اولیاء الله سیرت بیا موهی ۔ چه راحت یا تکلیف او خوشحالی یا غم هر حالت کښې د الله تعالیٰ نه راضی وی ۔ او هم دا خصلت په حقیقت کښې کمالِ تقویٰ ده ۔ او د تواضع تعریف دا دے چه انسان هیڅوك سپك او ادنیٰ او نهٔ ګنړی ۔ او چا سره چه یو ځائے ئی ، نو د اسے د اوګنړی ، چه ممکنه ده ، علمِ الٰهی کښې دا سړے درجه او صفاتو کښې ځما نه زیات وی ۔ نو کهٔ هغه د دهٔ نه ورکوټے هم وی ، نو بیا د شی ، چه هغهٔ به د الله پاك دومره نافرمانی نه وی کړی ، څومره چه ما کړے ده ۔ او په دے وجه هغه ځمانه بهتر دے ۔ او کهٔ هغه د ده نه لوئے وی ۔ نو د اسے د اوګنړی چه هغهٔ ځمانه مخکښې عبادت شروع کړے دے ۔ او ځما نه زیاتے نیکئ ئے کړے دی ۔ په دے وجه هغه ځمانه بانیے دے ۔ او کهٔ هغه عالِم وی نو بیا د شی ، چه هغه ته هغه نعمت او فضیلت ورکړے شوے دے ، چه هغے ته ځما رسائی نشته ۔ هغهٔ څو هغه څهٔ زده کړی او معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی ، چه ځما د طاقت نه بهر دی - بله دا چه هغه د علم په کالی ښائسته دے ، او د هغې په وجه د خپلے عقیدے او عمل د اصلاح فائده ترے هم اخلی . نو د هغه فضیلت او برتری په ما ثابته ده - او که هغه جاهل وی ، نو دا به دِ اووائی چه هغه هر څومره د الله پاك نافرمانی کړے ده ، هغه ئے د بے علمئ په وجه کړے ده - په دے جهت په ما د هغهٔ برتری ظاهره ده - او که کافر وی ، نو دا به دِ اووائی ، چه زهٔ نهٔ پوهیږم - کیدے شی چه هغه مسلمان شی او الله تعالیٰ د خپل فضل او نصرت په وجه هغهٔ ته حق لاره اوښائی - او بیا د هغه خاتمه په اسلام او ایمان اوشی ، نو ماله د هغه سپکاوے نهٔ دے پکار -

نو تواضع د ډیرو ښکلو صفتو نو جرړه ده - او په دے انسانی طبیعت کښ د کبر و غرور په ځائے خلق خدا سره د همدردئ ، محبت او شفقت جذبات پیدا کیږی - د دے نه علاوه چه سړے متواضع شی ، نو الله پاك ئے د نفس د آفاتو نه محفوظ ساتی - او د خلقو په زړونو کښ د هغهٔ د پاره عزت پیدا کړی - او په خپلو مقبول او محبوب بندګانو کښ ئے شمار کړی -

حدیث شریف دے " تواضع د عبادت مغز دے " د متقیانو او راست بازو خلقو به دے کیږی - بل هغو خیز



د دے نه افضل نهٔ دے په برکت د مؤمن ژبه د لغویاتو او نورو آزارونو نکو څخه وره محفوظ وی - او هغه په ظاهره او باطن کښ یکسان وی - هغه نهٔ خپله د چا غیبت کوی نه د بل چانه د چا غیبت او ریدل غواړی ، ځکه چه قرآن او حدیث کښ د غیبت ډیره مذمت راغلے دے -

الله پاك دِ مونږ او تاسو ټول د تواضع په ښکلی صفت ښاد کړی - آمین -

## مقاله (۷۹) د حضرت پیرانو پیرؒ مرض الموت او وصیّت

په مرض الموت کښ شیخ عبد الوهاب صاحبؒ د خپل پلار حضرت پیرانو پیر رحمة الله علیه په خدمت کښ عرض اوکړهٔ چه ماته داسے وصیت اوفرمایئ ، چه زهٔ پرے تاسو نه پس عمل کوم - نو حضرتؒ ورته ارشاد اوفرمایهٔ :" په تا لازم دی ، چه همیشه د الله تعالیٰ نه ویره کوے - او د هغه په مخلوقاتو کښ د هیچا نه خوف اونهٔ کړے - د الله پاك نه سِوا بل هیچا سره خپل امیدونه او حاجات مهٔ وابسته کوه - خپل ټول کارونه الله تعالیٰ ته اوسپاره - او د الله پاك نه سِوا په هیچا تکیه مهٔ کوه ځکه چه دا شرك دے - او د الله پاك د ذات او صفاتو متعلق په کلکه توحید اختیار کړه ، چه د باری تعالیٰ په توحید د ټولو اجماع ده -



هرکله چه د مؤمن زړهٔ الله تعالیٰ سره خپل تعلق درست او مضبوط کړی ، نو د عقیدے او عمل هیڅ یو ښهٔ صفت د هغې نه خارج نه وی - حضرت پیرانو پیر صاحب اوفرمائیل :" زهٔ یو داسے مغز یم چه هغه پوست نهٔ لري" بیا ئے خپل اولاد ته خطاب اوفرمایه :" تاسو ځما د خوا نه پورته شئ - ځکه چه په ظاهره زهٔ تاسو سره یم - او په باطن کښ بل چا سره - ستاسو نه علاوه نور خلق هم شته ، چه ماله راغلی دی - هغوئ له ځائے ورکړئ - او د هغوئ ادب اوکړئ - د هغوئ د پاره دا ځائے وسیع کړئ - د دے ځائے کښ د خدائے تعالیٰ د رحمتو نو نزول کیږی - حضرت محبوب سبحانیؒ به په دے حالت کښ اکثر د " وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ " او " الله پاك دِ مونږ او ستاسو مغفرت نصیب کړی " ارشاد اوفرمائیلو -

دے دوران کښ به بعض اوقات دوئ فرمائیل " زهٔ د الله پاك نه ما سِوا مخلوقاتو کښ د هیچا نه نهٔ ویریږم حتیٰ چه د ملك الموت نه م هم ویره نشته - اے ملك الموت ! زهٔ ستا د خالق او پروردګار نه ویریږم ، تا نه هرګز نه ویریږم " دا ئے اوفرمائیل او روح مبارك ئے د بدن نه پرواز اوکړلو - په دوئ دِ د خدائے تعالیٰ رحمتونه وی او سلامونه -



د حضرت پیرانو پیر صاحبؒ د ځامنو حضرت عبد الرّزاقؒ او حضرت موسیٰ صاحبؒ خپل د واړه لاسونه د مصافحے (جوړ تازه) په طور اوچتول او خورول - او ورته به ئے دا ارشاد اوفرمائیلو " وعلیکم السّلام و رحمة الله و برکاته - توبه کوئ - او خپل صف کښ داخل شئ - زهٔ اوس تاسو پله راځم " - د دے نه پس په دوئؒ د مرګ کیفیت خور شو - او ذکر الٰهی کښ واصل بالله شو - رضی الله عنهم و رضوا عنه - إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ٥

## مقاله (۸۰) د حضرت محبوب سبحانیؒ بقیه کلام

د باطنی تأثراتو او کشف او مشاهدے په لحاظ ځما او ستاسو او د نورو مخلوق په مینځ کښ د زمکے او آسمان فرق دے - نو تاسو ما په بل سړی او بل په ما مهٔ قیاس کوئ - بیا ترے د دوئؒ ځوئے عبد الرّزاق صاحب د مرض کیفیت اوپوښتهٔ - نو هغهٔ ته ئے اوفرمائیل - ځما نه دِ هیڅوك د دے تپوس نهٔ کوی - ځکه چه زهٔ د الله پاك د علم مطابق د یو حال نه بل ته منتقل کیږم - د دے وخت کښ هیڅ یو انسان یا فرښته ځما په مرض نه پوهیږی - د الله حکم سره د الله علم نهٔ ساقط کیږی - حکم بدلیږی - لیکن د هغهٔ علم نهٔ بدلیږی - حکم منسوخ کیدے شی ، مګر د هغهٔ علم منسوخ کیدے نشی -

الله پاك چه کوم څیز غواړی ، هغه فنا کوی - او چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځیز عواړی، هغه قائم ساتی، هغهٔ سره لوح محفوظ دے د هغهٔ د کاڼو نو د هغهٔ نه څوك تپوس نشی کولے۔ او د بندیانو نه به د هغوئ د عملونو تپوس کولے شی۔ او د صفات الٰهی په باره کښی چه کوم خبرونه موږ ته په کلام الٰهی کښی رارسیدلی دی۔ هغه هم هغه شان په دنیا کښی ظهور د بیاموی۔

د حضرت ځوئے عبدالجبار صاحب د دوئ نه تپوس اوکهٔ، چه ستاسو بدن مبارك کښی کوم اندام دے وخت درد محسوسوی۔ نو حضرت رح ورته اوفرمائیل ځما ټول اعضاء دے وخت درد مند دی۔ لیکن الحمد لله ځما زړهٔ درد مند نهٔ دے۔ د هغهٔ تعلق الله تعالیٰ سره بالکل درست دے۔

په مرض الموت کښی به حضرت رح فرمائیل۔ د الله پاك نه سوا بل هیڅوك معبود نشته۔ هغه پاك برتر او زندہ دے د مرګ او فنا نه بے خوفه دے۔ او په خپل قدرتِ کامله په ټولو کائناتو حاکم او غالب دے۔ ټول مخلوقات ئے په مرګ مغلوب کړی دی۔ د الله پاك نه سوا بل هیڅوك معبود نشته، او محمد صلی الله علیه وسلم د هغهٔ رسول دے۔ زهٔ به کلمهٔ توحید د خدائے تعالیٰ نه مدد غواړم۔

د حضرت ځوئ موسیٰ صاحب رح فرمائی چه د وفات کید و په وخت حضرت رح درے ځله اوفرمائیل: " الله، الله، الله " او روح مبارك ئے الوداع اوکړلو ...



# قَصِیْدَهٔ بُرْدَهٔ

**مُصَنِّف** د قصیدهٔ بردے د مصنّف نوم شیخ شرف الدین بوصیری رح دے۔ شیخ شرف الدین ابوعبدالله محمد بن سعید بوصیری رح یو عربی شاعر وو۔ شیخ صاحب په رومبئ ورځ د شوال ۶۰۸ هجری (مطابق ۷ مارچ ۱۲۱۳ ء) د ملكِ یمن په بوصیر نومے علاقه کښی پیدا شوے وو۔ د دهٔ د ژوند حالات ډیر نهٔ دی معلوم، خو دومره قدرے معلومه ده چه دے د خپل وخت یو هوښیار خوش نویس، متبحر عالِم او یو لوئے بزرګ وو۔ د دهٔ د وفات متعلق هم مختلف روایات دی۔ خو د مقریزی او ابن شاکر د تحقیق مطابق دے په ۶۹۶ هجری (مطابق ۹۷-۱۲۹۶ ء) کښی وفات شوے دے (په حواله د انسائیکلو پیډیا اف اسلام جلد اول ص ۸۰۳) او په مصر کښی د امام شافعی صاحب مزار سره نزدے دفن شوے دے۔ دهٔ ډیرے قصیدے لیکلے دی۔ خو په هغو کښی چه کوم شهرت قصیدهٔ بردے ته حاصل دے۔ د بلے قصیدے نهٔ دے نصیب شوے۔

**وجه تسمیه** د قصیدهٔ بردے اصل نوم " اَلدُّرِّیَةُ الْبَهِیَّةُ " یا " اَلْکَوَاکِبُ الدُّرِّیَّةُ فِیْ مَدْحِ خَیْرِ الْبَرِیَّةِ " دے۔ په دیکښی ټول دوه شپیته د پاسه یو سل شعرونه دی۔ دے ته قصیدهٔ بردهٔ ځکه وائی، چه کوم وخت د دے ناظم یعنی

له قصیدهٔ هغے اشعارو ته وائی چه یو شاعر د خپل ممدوح په صفت او مدح کښی بیان کړے وی۔



دا هغه خطباتِ او مقالات دی، چه حضرت محبوب سبحانی رح به د بغداد په جامع مسجد کښی خپلو عقیدتمند و اوریدونکو او خپلو مریدانو ته ارشاد فرمائیلو۔ الله پاك دِ موږ ټول د حضرت رح د ذات بابرکات او د دے خطباتو په برکت په باطنی او روحانی اسرارو معموره کړی۔ او فلاح دارین مو دِ نصیب کړی۔ او په ایمان او اسلام مو دِ ثابت قدم اوساتی۔ او په دے مقالاتو د عمل کولو او د دے د تبلیغ او اشاعت توفیق دِ را کړی۔ آمین بحرمت سید المرسلین صلی الله علیه وسلم وعلی جمیع الانبیاء وَالْاَوْلِیَآءِ یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ط

کتاب فتوح الغیب ختم شو۔
اَلْحَمْدُ لِلّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ شرف الدین صاحب گوزن (فالج) اووهه۔ نو ډیر تړے تنګ شو۔ اراده ئے وکړله۔ چه یو قصیده به په مدح د حضرت محمدؐ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښی اولیکی۔ او د هغے په وسیله به د پروردګار نه صحت او عوارې۔ هر کله چه قصیده ئے تیاره کړه، نو نیت ئے اوکړهٔ، چه د محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم په زیارت مشرف شی۔ او قصیده هلته اوروی۔ ناګهانه د شپے ئے حضور صلی الله علیه وسلم په خوب کښی اولیدلو۔ خپل حال ئے ورته عرض کړهٔ۔ نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پرے لاس مبارک راښکل۔ او یو څادر ئے پرے د پاسه خور کړهٔ: او ورته ئے اوفرمائیل، چه ځه پاسه جوړ شو۔ چه سحر بیدار شو۔ نو څک جوړ او تندرست وو۔ د قصیدے نه قصیده بُرده ځکه وائی چه د مرض په حالت کښی په شیخ صاحب۔ حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفا څادر خور کړے وو۔ د دے وجے نه دا قصیده په قصیده بردهٔ مشهوره شوه۔ وائی چه صبا سحر شیخ شرف الدین د کور نه اووت نو په دروازه کښی ورته یو فقیر ولاړ وُو۔ هغه ورته عرض اوکړهٔ چه کومه قصیده تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښی جوړه کړے ده۔ هغه ما ته عنایت کړئ۔ په دے وجه په خلقو کښی د دے قصیدے نوم خور شو۔ چه د ملک الظّاهر وزیر بهاء الدین ته دا خبره اورسیده نو هغه دا قصیده په سرو زرو اولیکله۔ دا دب د پاره ورته



سر توږ سر او دریدو۔ دا ئے واوریده۔ او توک عمرے د دے د برکاتِ عظیمه نه فیض حاصلولو۔ په ټوله اسلامی دنیا کښی دا قصیده ډیره مقبوله ده۔ د دے ډیرے شرحے لیکلے شوے دی۔ او مختلفو شاعرانو پرے شعرونه ویلی دی۔ د دے نه د تبرک حاصلولو د پاره بے شماره قصے مشهورے دی۔

د قصیده بردے بنه نسخه په مصر کښی په مصطفیٰ البابی مطبع کښی په ۱۳۲۶ هجری کښی چاپ شوے ده۔ او د اسلامیه کالج پېښور (پېښور یونیورسټی) په علوم شرقیه لائبریرۍ کښی یو څو دغه چاپ شوے نسخے د ۳۰۱۵ لاندے نن هم موجود دی۔ پښتو اکیډیمی چه د نایه نسخو او کتابونو مرکز دے۔ د قصیده بُردے څو قلمی او ښکلے نسخے دلته هم موجود دی۔

## فضیلت او خصوصیت

د قصده برده د فضیلت او خصوصیت په حقل کتابونو ډیر څهٔ راوړی۔ بلکه مشائخو د هر یو شعر جدا جدا تاثیر ښودلے دے تکه د مثال په طور چه عاملان د قصیدهٔ بردے دا شعر سه

هُوَالْحَبِیْبُ الَّذِیْ تُرْجٰی شَفَاعَتُہٗ
لِکُلِّ هَوْلٍ مِنَ الْاَهْوَالِ مُقْتَحِمٖ

د هر مراد د پاره اکسیر ګڼړی۔ خو د دے ډیرے نه چه د هر یو شعر تفصیل له د پرطالے پکار دے موږ د اختصار نه کار اخلو۔



## قصیدهٔ بردهٔ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ مُنْشِیْ الْخَلْقِ مِنْ عَدَمٖ
ثُمَّ الصَّلٰوةُ عَلَی الْمُخْتَارِ فِی الْقِدَمٖ ۱:-
اَمِنْ تَذَکُّرِ جِیْرَانٍ بِذِیْ سَلَمٖ
مَزَجْتَ دَمْعًا جَرٰی مِنْ مُقْلَةٍ بِدَمٖ ۲:-
اَمْ هَبَّتِ الرِّیْحُ مِنْ تِلْقَاءِ کَاظِمَةٍ
وَاَوْمَضَ الْبَرْقُ فِی الظَّلْمَاءِ مِنْ اِضَمٖ ۳:-
فَمَا لِعَیْنَیْکَ اِنْ قُلْتَ اکْفُفَا هَمَتَا
وَمَا لِقَلْبِکَ اِنْ قُلْتَ اسْتَفِقْ یَهِمٖ ۴:-
اَیَحْسَبُ الصَّبُّ اَنَّ الْحُبَّ مُنْکَتِمٌ
مَا بَیْنَ مُنْسَجِمٍ مِنْهُ وَمُضْطَرِمٖ ۵:-
لَوْلَا الْهَوٰی لَمْ تُرِقْ دَمْعًا عَلٰی طَلَلٍ
وَلَا اَرِقْتَ لِذِکْرِ الْبَانِ وَالْعَلَمٖ ۶:-
فَکَیْفَ تُنْکِرُ حُبًّا بَعْدَ مَا شَهِدَتْ
بِهٖ عَلَیْکَ عُدُوْلُ الدَّمْعِ وَالسَّقَمٖ ۷:-
وَاَثْبَتَ الْوَجْدُ خَطَّیْ عَبْرَةٍ وَضَنًی
مِثْلَ الْبَهَارِ عَلٰی خَدَّیْکَ وَالْعَنَمٖ ۸:-
نَعَمْ سَرٰی طَیْفُ مَنْ اَهْوٰی فَاَرَّقَنِیْ
وَالْحُبُّ یَعْتَرِضُ اللَّذَّاتِ بِالْاَلَمٖ ۹:-

لے سلم نوم د یو ځائے دے د مکے او مدینے په مینځ کښی۔
حل جان نوم د یوے اونے چه قد د معشوقے له ورسره تشبیه ورکوله شی



## منظوم پښتو ترجمه

(له عبدالقادر خان خټک)

ثنا د الله پاک چه ئے پیدا کړه له عدم
بیا درود په پیغمبرؐ چه دے مختار د کل قِدَم ۱
ته ځو یو هیوم زړهٔ دریاد کړه بیا یاران د ذے سلم
چه هر دم د له دوو سترګو اوښکی ورسره دم ۲
باد دیار د کوځے خاورے خوش نسیم د لره راوړے
یا په غره دیار له لورے بریښنا شوله په تورتم ۳
دا د سترګو حال د څهٔ دے چه د اوښے نه او چیږی
بل د صبر هوش له دله د رومی وسلے دم په دم ۴
د آګمان له زړهٔ او باسه چه به راز د مینے پټ کړے
یو د دے اوښے دی روانے بل د زړه د دے مضطرم ۵
نه به تا دیار د مخنبو په لیده ژړا فریاد کړهٔ
نه به خوب له تانه تل په یاد د بان او د عَلَم ۶
هیڅ انکار د مینے مهٔ کړه دوه ګواهان د بانه تیر شو
دواړه ستا په مخ ګواه دی یو د اوښے بل سقم ۷
اوس به تا پاندے اثبات د خپل مینے د مینے اوشهٔ
مخ د زیړ لکه زیړ ګل دے تن د اوچ شه په دیر غم ۸
هم دیار د سترګو خیال رم یو ر د خوب له دواړو سترګو
د تمام جهان لذّت له مرګی وړی د عشق اَلَم ۹

لے علم۔ معنی نیزه — سه سقم، ناروغتیا۔ بیماری

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا لَائِمِيْ فِي الْهَوَى الْعُذْرِيِّ مَعْذِرَةً
۱۰ مِنِّيْ إِلَيْكَ وَلَوْ أَنْصَفْتَ لَمْ تَلُمِ
عَدَتْكَ حَالِيَ لَا سِرِّيْ بِمُسْتَتِرٍ
۱۱ عَنِ الْوُشَاةِ وَلَا دَائِيْ بِمُنْحَسِمِ
مَحَضْتَنِي النُّصْحَ لٰكِنْ لَسْتُ أَسْمَعُهُ
۱۲ إِنَّ الْمُحِبَّ عَنِ الْعُذَّالِ فِيْ صَمَمِ
إِنِّي اتَّهَمْتُ نَصِيْحَ الشَّيْبِ فِيْ عَذَلِيْ
۱۳ وَالشَّيْبُ أَبْعَدُ فِيْ نُصْحٍ عَنِ التُّهَمِ
فَإِنَّ أَمَّارَتِيْ بِالسُّوْءِ مَا اتَّعَظَتْ
۱۴ مِنْ جَهْلِهَا بِنَذِيْرِ الشَّيْبِ وَالْهَرَمِ
وَلَا أَعَدَّتْ مِنَ الْفِعْلِ الْجَمِيْلِ قِرَىٰ
۱۵ ضَيْفٍ أَلَمَّ بِرَأْسِيْ غَيْرَ مُحْتَشِمِ
لَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنِّيْ مَا أُوَقِّرُهُ
۱۶ كَتَمْتُ سِرًّا بَدَا لِيْ مِنْهُ بِالْكَتَمِ
مَنْ لِيْ بِرَدِّ جِمَاحٍ مِنْ غَوَايَتِهَا
۱۷ كَمَا يُرَدُّ جِمَاحُ الْخَيْلِ بِاللُّجُمِ
فَلَا تَرُمْ بِالْمَعَاصِيْ كَسْرَ شَهْوَتِهَا
۱۸ إِنَّ الطَّعَامَ يُقَوِّيْ شَهْوَةَ النَّهِمِ
وَالنَّفْسُ كَالطِّفْلِ إِنْ تُهْمِلْهُ شَبَّ عَلَىٰ
۱۹ حُبِّ الرَّضَاعِ وَإِنْ تَفْطِمْهُ يَنْفَطِمِ

لهٔ حَشَم - کوښ والے - ۲ه هَرَم - ضعیفي - کمزوري - ۳ه لُجُم - واګے - قیزه
ریښۍ دوه ل ۵ه مُسْتَغْطِم - جدا - بیل - پرېکړې ه شوي -



عاشق شوے چه نه ئے څکه کړے په ملشقانو
۱۰ ملامت ملامت کړ وئیه هرچیوا ئے نه ئے کرم
محبت به زهٔ ترکومه د یار ډیټ لرم ساتلے
۱۱ په نغرو نغرو یار غواړم ویره نهٔ کړم له عالم
نصیحت د ناصحانو کله زهٔ په غوږ داورم
۱۲ چه عاشق په عاشقئ کښ له ناصحوی اصم
ما تهمت په عاشقئ کښ ډیرئ په ناصح وکړهٔ
۱۳ کهٔ هرڅو په پندوئیلو پیران نهٔ دی متهم
اماره نفس د ے چه ماته امر تل که په بدئ
۱۴ زهٔ دد ے به ویل کار کړم ویره نهٔ کړم له هرم
د حرمت لائق استازے م په کورر امیلمه شو
۱۵ ما ئے هیڅ اکرام او نهٔ کړه لکه کښه اهل کرم
کهٔ زه و ئیچه دسپینو ویښتو حق به په ځائے نهٔ کړم
۱۶ ما به تل په وسمه تور لرل له خپله عمر سم
څه نفس یو سوکښ آس د ے ترکوم پریلی
۱۷ یو شهسوار هسے پیدا شوے چه ئے سازکړے په
په احسان غلیم خپلېږی نفس یو هسے بدغلیم دے
۱۸ په احسان سره د لا زړدی دعصیان په لور قدم
نفس په مثل دهلک دے دینو بېوعادت اخلی
۱۹ د رضاع عادت ئے ورک شی چه لرئ شم منفطم

ئه جدا - بیل - پرېکړے



فَاصْرِفْ هَوَاهَا وَحَاذِرْ أَنْ تُوَلِّيَهُ
۲۰ إِنَّ الْهَوَىٰ مَا تَوَلَّىٰ يُصْمِ أَوْ يَصِمِ
وَرَاعِهَا وَهْيَ فِي الْأَعْمَالِ سَائِمَةٌ
۲۱ وَإِنْ هِيَ اسْتَحْلَتِ الْمَرْعَىٰ فَلَا تُسِمِ
كَمْ حَسَّنَتْ لَذَّةً لِلْمَرْءِ قَاتِلَةً
۲۲ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَدْرِ أَنَّ السَّمَّ فِي الدَّسَمِ
وَاخْشَ الدَّسَائِسَ مِنْ جُوْعٍ وَمِنْ شِبَعٍ
۲۳ فَرُبَّ مَخْمَصَةٍ شَرٌّ مِنَ التُّخَمِ
وَاسْتَفْرِغِ الدَّمْعَ مِنْ عَيْنٍ قَدِ امْتَلَأَتْ
۲۴ مِنَ الْمَحَارِمِ وَالْزَمْ حِمْيَةَ النَّدَمِ
وَخَالِفِ النَّفْسَ وَالشَّيْطَانَ وَاعْصِهِمَا
